د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د لوړو زده کړو وزارت
د خصوصي پوهنتونونو ریاست

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه د اسلامي شریعت او قانون له نظره

(د ماسترۍ رساله)

محصل: سمیع الله (صاحبزاده)

لارښود استاد: پوهنوال دکتور عبدالباقي (امین)

کال: ۱۳۹۶

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د لوړو زده کړو وزارت
د خصوصي پوهنتونونو رياست

سلام پوهنتون
د شرعياتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه د اسلامي شريعت او قانون له نظره

(د ماسترۍ رساله)


محصل: سميع الله (صاحبزاده)

لارښود استاد: پوهنوال دکتور عبدالباقي (امين)


کال: ۱۳۹۶

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارتمنټ

### د ماسترۍ بورډ

# تـــصـدیـق نـــامـــه

ښاغلی سمیع الله د محمد افضل زوی د ID: Sh-msf-95-131 نمبر لرونکی، د فقه اوقانون د څلورمې دورې محصل د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان یې: په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه د اسلامي شریعت او قانون له نظره دی،د چهارشنبې ورځ په ۱۳۹۸/۶/۶ هـ ل نېټه يې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د 95 (نمرو په عدد) نهه نوي نمرو (نمرو په حروفو) مستحق وګرځېد، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور شیرعلي ظریفي | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | استاذ وزیر محمد سعیدي | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور عبد الباقي امین | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورډ آمر........................          علمی مرستیال........................

# ډالۍ

زه دا خپله څېړنه ټولو هغه مظلومو افغانانو ته چې د اجباري نکاح قرباني دي او په مظلومیت کې خپل ژوند تیره وي ډالۍ کوم ،الله تعالی دې زما دا هڅه د هغوی د زړونو د زخمونو لپاره پټۍ وګرځوي. آمین

## مننه

د الله تعالی د هغه ټولو سترو نعمتونو مننه او شکر اداء کوم، چې زما عاجز بنده باندې پېرزو کړي او په خاصه توګه د دغه لوی نعمت مننه کوم، چې زه یې د ماسترۍ درجې ته ورسولم.

مننه کوم د خپلې کورنۍ د ټولو غړو څخه، چې زما له اوږو یې نور مسؤولیتونه پورته او ما ته یې د درس ویلو لاره هواره کړې وه او په خاصه توګه د خپل مور او پلار څخه مننه کوم، چې د ژوند سختیې یې په ځان ومنلې او په ما یې درس وویل.

مننه کوم له خپلو هغو ټولو دوستانو او استادانو څخه چې زما سره یې د معلوماتو راټولو، څېړنو او د رسالې په ترتیب کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړې.

# د موضوع لنډیز

دا څیړنه چې (په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه د اسلامي شریعت او قانون له نظره) تر عنوان لاندې لیکل شوې، په پیلیزه (مقدمه)، دوه فصلونو، پایلې، وړاندیزونه، د آیاتونو لړلیک، د احادیثو لړلیک، د اعلامو لړلیک،  مأخذونه او په آخر کې د عربي او انګلیسي ژبو په لنډیزونو باندې مشتمله ده.

پیلیزه کې د موضوع اهمیت، ضرورت، د اختیارولو سبب، موخه، د موضوع په اړه پخوانۍ لیکنې، سوالونه، ستونزې او ترتیب یې بیان شوي دي. اول فصل د نکاح او اجبار لپاره ځانګړی شوی دی او دویم فصل په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه، په شریعت او قانون کې د همدې صورتونو څیړنه او د اجباري نکاح پایلو لپاره ځانګړی شوی دی، چې په دې فصل کې د ټول افغانستان د اوو زونونو په استازیتوب  له نهو کسانو سره تفصیلي مرکې هم شوي دي، چې هر یو یې د خپلې سیمې اجباری ودونه تشریح کړي دي.

په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه په عمومي توګه پنځه ډوله دي، اول: په بدوکې د نجونو ورکول، دویم: د مخې یا د بدل واده، دریم: د ماشومانو ودول، څلورم: د کونډې واده کول په زور باندې او پنځم: د پیسو په مقابل کې د نجلۍ ورکول.

په ښځه باندې څوک اجباري ولایت نه لري او د اجبار په دې پورتنیو صورتونو کې که چا کومه نجلۍ  یا ښځه په جبر په نکاح ورکړه نکاح یې نه صحیح کیږي او د ماشومې په اړه د فقه نظر دادی، چې پلار دا حق لري چې خپله وړه لور چاته په نکاح ورکړي، ځکه چې هغه په خپله وړه لور باندې اجباري ولایت لري، خو په دې شرط چې د لور پکې ښیګڼه او خوشحالي وي.

د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې اجبار کوونکي ته د بند جزاء ټاکل شوې، په بدو کې د نجلۍ ورکوونکي او په نکاح کوونکي ته تر لسو کلونو او په دې کې ذیدخل اشخاصو (شاهد، وکیل، مصلح او عاقد) ته لږ تر لږه تر دوه کلونو پورې د بند جزاء ګڼاې ټاکل شوې دي او نکاح یې هم فسخ بللې ده، د ماشومې سره نکاح کوونکي ته یا له هغې ښځې سره چې د واده قانوني عمر یې پوره کړی وي د هغې له خوښې پرته هغې سره واده کوونکي ته د متوسط بند جزاء ټاکل شوې ده، چې له دوو کلونو څخه باید کمه نه وي او د ښځې د غوښتنې په صورت کې یې نکاح هم فسخ بللې ده، همداراز هغه شخص ته چې د

واده په پلمه ښځه خرڅوي، یا یې اخلي، یا هم د دوی تر منځ واسطه جوړیږي، ترلسو کلونو پورې د بند جزاء ټاکل شوې ده. په مدني قانون کې د مخې یا د بدل واده صحیح بلل شوی او دواړو ښځو ته د مهر مثل ورکولو حکم شوی دی.

زما د مختلفو مرکو څخه دا خبره معلومه شوه چې په هیواد کې اجباري ودونه په زیاته پیمانه شتون لري چې هر یو یې له ځان سره زیات مشکلات لري او دا مشکلات زوجینو، کورنۍ خصوصا اطفالوته متوجه دي.

د اجباري نکاح ناوړه پایلې: په عامه توګه ویلای شو چې د اجباري ودونو په پایله کې قتل، ځان وژنه، له کور څخه تښتیدل، طلاق اخیستل، یا بل واده کول رامنځته کیږي او یا دغسې میرمنې د ټول عمر له پاره په خپل ژوند کې ظلم ګالي.

له پورتنیو ستونزو سره اجباري ودونه له ځان سره رواني منفي اغېزې هم لري، لکه جسمي ستونزې، عصبي دردونه، په ژورخپګان اخته کېدل، فکري ستونزې، ښځه او میړه یو بل نه درک کول، خیانت او تاوتریخوالی، بشري حقونو ته پاملرنه نه کول، د کورنۍ ښځې او میړه خپل مینځي خوشحالي له منځه تلل، جرم او جنایت ته لاس اچول، د زېږیدلو پر مهال د ماشوم او مور مړینه، له وخته وړاندې ماشوم زېږېدل، معلولیت لرونکي ماشومان، د زده کړې پرېښودل او د ناروغې ټولنې را مینځته کیدل.

کله چې اجباری ودونه زیات شمیر مشکلات په کورنۍ او ټولنه کې رامنځ ته کوي له همدې کبله شریعت او قانون دواړو له دغه ډول ودونو څخه منع کړې ده.

# د موضوعاتو لړلیک


ډالۍ.................................................................... أ

مننه.................................................................... ب

د موضوع لنډیز.................................................................... ج

د موضوعاتو لړلیک.................................................................... ٥

پیلیزه.................................................................... ١

لومړی فصل.................................................................... ٧

د نکاح او اجبار پېژندنه.................................................................... ٧

لومړی مبحث.................................................................... ٧

د نکاح پېژندنه، مشروعیت یې، رکنونه یې، شرطونه یې، اقسام یې او احکام یې.................... ٧

لومړی مطلب: د نکاح پېژندنه.................................................................... ٨

لومړۍ فرعه: د نکاح لغوي او اصطلاحي معنا.................................................................... ٨

دویمه فرعه: د افغانستان مدنی قانون کې د نکاح تعریف.................................................................... ١٠

دویم مطلب: د نکاح مشروعیت.................................................................... ١١

درېیم مطلب: د نکاح رکنونه.................................................................... ١٥

لومړۍ فرعه: د رکن لغوي او اصطلاحي معنا.................................................................... ١٥

دویمه فرعه: د نکاح رکنونه.................................................................... ١٦

دریمه فرعه: ایجاب او قبول.................................................................... ١٧

څلورم مطلب: د نکاح شرطونه.................................................................... ٢٣

لومړۍ فرعه: دشرط لغوي او اصطلاحي معنا.................................................................... ٢٣

دويمه فرعه: د نکاح شرطونه ........................................ ۲۴

**الف: د انعقاد شرطونه:** ........................................ ۲۴

**د انعقاد شرطونه په صيغه (ايجاب او قبول) کې** ........................................ ۲۵

**ب : د نافذيدو شرطونه** ........................................ ۲۶

**ج : د صحت شرطونه** ........................................ ۲۶

**د: د لزوم شرطونه** ........................................ ۲۷

**هـ : د افغانستان په مدني قانون کې د نکاح شرطونه** ........................................ ۲۸

پنځم مطلب: د نکاح اقسام ........................................ ۲۹

شپږم مطلب: د نکاح احکام ........................................ ۳۰

دويم مبحث ........................................ ۳۳

د اجبار پيژندنه، رکنونه يې، شرطونه يې، ډولونه يې، حکم يې او په تصرفاتو کې تأثيرات يې ........................................ ۳۳

لومړی مطلب: د اجبار پيژندنه ........................................ ۳۴

لومړۍ فرعه: د اجبار لغوي او اصطلاحي معنا ........................................ ۳۴

دويمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالي د منع قانون کې د تاوتريخوالي تعريف ........................................ ۳۶

دويم مطلب: د اجبار رکنونه ........................................ ۳۷

درېيم مطلب: د اجبار شرطونه ........................................ ۳۸

څلورم مطلب: د اجبار ډولونه ........................................ ۴۰

پنځم مطلب: د اجبار حکم ........................................ ۴۲

لومړۍ فرعه: د اجبار حکم په شريعت کې ........................................ ۴۲

دويمه فرعه: د اجبار حکم د افغانستان د جزا په قانون کې ........................................ ۴۳

شپږم مطلب: د اجبار تاثيرات په تصرفاتو کې ........................................ ۴۴

لومړۍ فرعه: د اجبار تأثيرات په قولي تصرفاتو کې .............................. ٤٤
دويمه فرعه: د اجبار تأثيرات په فعلي تصرفاتو کې .............................. ٤٦
د لومړي فصل لنډيز ............................................................ ٥٢
دويم فصل......................................................................... ٥٥
په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه، د هغو څېړنه او پايلې يې.................. ٥٥
لومړی مبحث ..................................................................... ٥٥
د افغانستان په ځينو ولايتونو کې د نکاح صورتونه ................................. ٥٥
لومړی مطلب: په عمومي ډول په افغانستان کې د نکاح صورتونه ..................... ٥٦
دويم مطلب: د افغانستان په ځينو ولايتونو کې د نکاح په اړه له خلکو سره مرکې ......... ٥٩
لومړۍ فرعه: د غزني ولايت مرکه.................................................. ٦٠
دويمه فرعه: د ننګرهار ولايت مرکه............................................... ٦٣
دريمه فرعه: د هلمند ولايت مرکه.................................................. ٦٥
څلورمه فرعه: د کندهار ولايت مرکه............................................... ٦٨
پنځمه فرعه: د بدخشان ولايت مرکه ............................................... ٧٠
شپږمه فرعه: د خوست ولايت مرکه................................................ ٧٣
اوومه فرعه: د کندز ولايت مرکه.................................................... ٧٧
اتمه فرعه: د کابل ولايت مرکه...................................................... ٨٢
نهمه فرعه: د تخار ولايت مرکه .................................................... ٨٣
درېيم مطلب: په ځينو رسمي ادارو کې د اجباري نکاح د ثبت شوو پېښو شمير.............. ٨٧
لومړۍ فرعه: د ښځو چارو د وزارت راپور ........................................ ٨٧
دويمه فرعه: په افغانستان کې د بشري حقونو د خپلواک کميسون راپور....................... ٨٩

دويم مبحث ............................................................................. ۹۱
اجباري نکاح د شريعت او قانون له نظره ......................................................... ۹۱
لومړی مطلب: په بدوکې د نجونو ورکول ......................................................... ۹۲
لومړۍ فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالي د منع په قانون کې، په بدو کې د ښځې ............. ۹۳
دويمه فرعه: اجباري ولايت چا لره ثابت دی؟ ................................................... ۹۳
دريمه فرعه: د اجباري ولايت اسباب ........................................................... ۹۶
څلورمه فرعه: د افغانستان مدني قانون د صغيرې په اړه ........................................ ۱۰۰
پنځمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوترخوالی د منع قانون کې په بدو کې د ورکولو حکم ......... ۱۰۲
دويم مطلب: د مخۍ يا د بدل واده.............................................................. ۱۰٤
لومړۍ فرعه: په شريعت کې د مخۍ يا د بدل واده ............................................. ۱۰۵
دويمه فرعه: د افغانستان په مدني قانون کې د مخۍ يا د بدل نکاح............................. ۱۰۷
درېيم مطلب: په کم عمرکې د نجلۍ واده کول .................................................. ۱۰۸
لومړۍ فرعه: په شريعت کې د وړې نجلۍ د واده حکم ........................................... ۱۰۸
دويمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالی د منع قانون کې د وړې نجلۍ د واده حکم ......... ۱۰۹
څلورم مطلب: د کونډې واده کول په زور سره ................................................... ۱۰۹
لومړۍ فرعه: په شريعت کې د کونډې واده کول په زور سره .................................... ۱۱۰
دويمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالی د منع په قانون کې د کونډې واده.................... ۱۱۱
پنځم مطلب: د پيسو مقابل کې د نجلۍ ورکول .................................................. ۱۱۲
لومړۍ فرعه: د نجلۍ له خوښې پرته د هغې نکاح ............................................... ۱۱۲
دويمه فرعه: مهر د ښځې حق دی ............................................................... ۱۱۳
**اول جزء: مهر په شريعت کې:**............................................................... ۱۱۳

**دويم جزء: د افغانستان مدني قانون کې د ښځې مهر:** ........................................ ۱۱۵
**دریمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې د واده په بهانه د ښځې** ......... ۱۱٦
**درېیم مبحث** ........................................................................ ۱۱۸
**د اجباري نکاح پایلې** ........................................................................ ۱۱۸
**اول مطلب: په بدو کې د نجونو د ورکړې پایله** ........................................ ۱۱۸
**دویم مطلب: د اجباري نکاح پایله** ........................................................ ۱۲۰
**درېیم مطلب: په کم عمر کې د نجونو ورکولو پایله** ........................................ ۱۲۱
**څلورم مطلب: د بدل د نکاح پایلې** ........................................................ ۱۲۳
**پنځم مطلب: د اجباري نکاح رواني اغېزې** ........................................ ۱۲٤
**د دویم فصل لنډیز** ........................................................................ ۱۲۷
**پایلې** ........................................................................ ۱۳۱
**وړاندیزونه:** ........................................................................ ۱۳٦
**د آیاتونو لړلیک** ........................................................................ ۱۳۹
**د احادیثو لړلیک** ........................................................................ ۱٤۱
**د اعلامو لړلیک** ........................................................................ ۱٤۳
**مأخذونه** ........................................................................ ۱٤۹
**خلاصة البحث** ........................................................................ ۱۵۵
Summary of the Discussion ........................................................................ ۱۵۹

# پیلیزه

**الحمد لله الذي خلق من الماء بشراً فجعله نسباً وصهراً و منح المرأةَ مكانةً وقدراً و الصلاة والسلام على من ملأَ الارضَ عفةً و طهراً و أوصى بالنساءِ خيراً سيدنا محمد و على آله و أصحابه خير الناس ذكراً.**

**وبعد! قال الله تعالی: «وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً» الآية.** (۱) ژباړه: د الله تعالی د قدرت له نښو څخه ځینې دادي، چې الله تعالی تاسوته د تاسو له نفسونو څخه ښځې پیداکړې، د دې له پاره چې تاسو دوی ته مائل او مطمئن شئ او ګرځولې ده دوستي او مهرباني ستاسو په منځ کې.

**د موضوع اهمیت او ضرورت:** دایو څرګند حقیقت دی چې انسان د الله تعالی په مخلوقاتو کې اشرف المخلوقات دی، د دې ستر شرافت او عزت مهم لامل انسان ته د ځمکې پر مخ د خلافت ورسپارل دي، لکه څرنګه چې د انسانانو مرتبې مختلفې دي، نو هر شخص د خپلې مرتبې په اندازه مسئولیتونه لري او هر انسان د خپل لاس لاندې خلکو په اړه مسئول دی، چې په دې لړ کې مور او پلار د اولادونو په اړه ډېر مسئولیتونه لري، چې یو له هغو مسئولیتونو څخه د نکاح موضوع ده، یعنې مور او پلار باید خپلو اولادونو ته د هغوی په خوښه نکاح وکړي، ترڅو هغوی په خپل ژوند کې خوشحاله او آرامه وي او د هغوی له اجباري نکاح څخه ډډه وکړي، ترڅو د کورنیو ترمینځ او د ټولنې د ستونزو باعث نه شي.

د انسان په ژوند کې له مهمو موضوعاتو څخه د نکاح موضوع ده؛ ځکه چې د انسان ټول عمر هغې پورې تړلی دی، اما په ډېر تأسف سره باید ووایم چې په افغاني ټولنه کې ډېر ځله دې موضوع ته ارزښت نه ورکول کیږي، یعنې په نکاح کې د اولادونو او په خاصه توګه د نجلۍ خوښې ته نه کتل کیږي، بلکې له هغې سره د یو حیوان په څیر تعامل کیږي، په همدې خاطر په زیاته کچه د اجباري نکاح زیان منه طبقه ښځې دي، ځکه چې همدغه ښځې کله په بدوکې ورکول کیږي، کله په بدل کې ورکول کیږي، کله په ماشوم توب کې ورکول کیږي، کله په قمار کې بایلل کیږي او کله هم کونډه په زور سره نکاح کیږي.

---

[۱] سورة الروم ایت: ۲۱.

له همدې امله اړینه ده چې دغه موضوع د شریعت په رڼا کې په هر اړخیز ډول وڅېړل شي. په دې کار سره به دغه اجتماعي ستونزې څرګندې او د حل لاره ورته وموندل شي، چې دغه کار په خپل ذات کې شرعي او حقوقي اهمیت هم لري.

همداراز د لوړو زده کړو وزارت او پوهنتونو اصول دادي، چې هر شخص باید د ماستري له منهجي دورې څخه وروسته د یوې مهمې موضوع په اړه رساله (تیزس) ولیکي، زه هم د همدغه اصولو مطابق او په افغانستان کې د موجوده اجباري نکاح ته په کتنې سره – چې یوه مهمه موضوع ده – غواړم خپله رساله یا تیزس د اجباري نکاح په اړه ولیکم.

**د موضوع د اختیارولو سبب:** په افغانستان کې اجباري ودونه چې د متنفذو اشخاصو لخوا په یو شمېر ښځو او نارینه وو تپل کېږي، په ټولو ولایاتو کې په مختلفو بڼو تر سترګو کېږي او د یو لړ کورنیو او ټولنیزو ستونزو باعث کېږي، چې د اسلامي شریعت له نظره سم نه دي. په همدې توګه د افغانستان نافذه قوانین د دغه ډول ودونو لاملینو ته یو لړ جزاء ګانې هم ټاکلې دي. دا چې د اجباري ودونو کوم صورت د شریعت مطابق دی او کوم یې مخالف، د دې موضوع څېړل د شریعت او قانون په رڼا کې اړین کار دی، د دې موضوع اهمیت ته په کتنې سره او بل داچې په دې اړه کومه څېړنه نه ده شوي ما اړینه وبلله چې د خپل توان مطابق په دې اړه څېړنه ترسره کړم، په همدې خاطر مې د خپلې څېړنې له پاره (په افغانستان کې د اجباری نکاح صورتونه د اسلامي شریعت او قانون له نظره) عنوان انتخاب کړ.

**د څېړنې موخه:** په افغانستان کې د اجباري ودونو هر اړخیز مختلف صورتونه په ګوته کول، د همدې صورتونو له پاره د شریعت او قانون دریځ په ډاګه کول، د اجباري نکاح پایلې بیانول او همداراز هغه لارې چارې ذکر کول، چې د هغه په عملي کولو سره د اجباري ودونو لمن له ټولنې څخه ټولیږي، دا ټول د دې څېړنې اصلي موخې دي.

**په دې اړه مخکینۍ څېړنې:** د اجباري نکاح په اړه ځینې مقالې او بحثونه شته، لکه په درې ژبه کې انواع ازدواج در افغانستان، په قانون کې د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع قانون، په پښتو ژبه کې په افغانستان کې د ودونو دود، په افغانستان کې ناوړه دودونه او د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق، په عربي ژبه کې (أثر الإكراه على عقد النكاح) او داسې نور، اما په دې عنوان (په افغانستان کې د

اجباري نکاح صورتونه د اسلامي شریعت او قانون له نظره) باندې تر اوسه کومه څېړنه نه ده شوې، یعنې داسې څېړنه چې د اجباري ودونو په اړه په هېواد کې واقعیتونه او دودونه د شریعت او قانون په رڼا کې و څېړي نه دي څېړل شوي، ځکه چې دغه څېړنه د موضوع په اړه شرعي حکمونه پر موجوده واقعیتونو باندې تطبیقوي.

**د څېړنې اصلي او فرعي سوالونه:** ما به چې کله د خلکو په اړه اوریدل، چې د یو سړي لور یې په بدو کې ورکړه یا یې د پیسو مقابل کې په زور په نکاح ورکړه، یا یې کوم بل قسم په جبر په نکاح ورکړه، هغه بیا له کوره وتښتیده، یا یې طلاق کړه، یا یې مړه کړه، یا یې ځان وژنه وکړه، یا داسې کوم بل کار ورباندې وشو، نو زما په ذهن کې به دا خبره راتله چې یو څوک باید په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه راټول کړي او داچې کوم صورتونه د شریعت او قانون له نظره جائز دي وڅېړي، چې دا کار ما پخپله وکړ، نو زما په څیر که د هر چا په ذهن کې دغه پوښتنې وي، دغه څېړنه هغه پوښتنې ځوابوي، یعنې: ــ په هېواد کې کوم اجباري ودونه شته؟ ــ نکاح او اجبار څه ته وایي؟ ــ دغه اجباري ودونه د شریعت او قانون په رڼا کې څه حکم لري؟ ــ او اجباري ودونه څه پایلې لري؟.

**د څېړنې میتود یا طرز:** دغه څېړنه مې د موضوع د کمي او کیفي څرنګوالي په اړه په تحلیلي، استقرائي، کتابتوني او میداني میتودونو باندې لیکلې ده.

لکه څرنګه چې زما موضوع دوه اړخه لري، فقه او قانون، نو ما هم په هره مسئله کې اول د فقهاوو اقوال او بیا د قانون خبره ذکر کړېده.

د څېړنې د اصولو مطابق د فقهاوو له اقوالو څخه وروسته مې هغه قول ته چې زما په نظر قوي او راجح و، ترجیح وکړې، که څه هم هغه د احنافو قول نه وي.

همداراز په کوم ځای کې چې د قانون خبره قوي او راجحه وه، همغې ته مې ترجیح ورکړې او تر خپلې وسې پورې مې کوښښ کړی، چې د قانون خبره په هره موضوع کې ذکر کړم او مستقل عنوان ورکړم.

د آیتونو ترجمه مې له کابلي تفسیر څخه رانقل کړې، اما هغه کې ټکی په ټکی معنا ذکر ده او ما هغه کې تقدیم او تاخیر کړی او په روانه ژبه مې معنا لیکلې ده.

زما په لیکنه د ډېر آسانه پوهېدو په خاطر مې د هر مبحث په اول کې د هغه مبحث عنوانونه ذکر کړي، یعنې چې دا مبحث په کومو عنوانو باندې مشتمل دی او د هر فصل په آخر کې مې د هغه فصل لنډیز هم ذکر کړی دی.

له کومو منابعو او مأخذونو څخه مې چې استفاده کړې په اول ځل مې هغه مأخذ تشریح کړې، یعنې د مصنف لقب، د مصنف مکمل نوم، د کتاب نوم، د طبعې شمېره، د طبعې ځای، د طبعې کال، جلد او صفحه مې ذکر کړي دي، اما په دویم ځل مې چې بیا له هغه کتاب څخه استفاده کړې، یوازې د مصنف په لقب، د کتاب نوم، جلد او صفحه باندې اکتفا کړې ده. همداراز د جلد مخفف مې (ج) او د صفحې مخفف مې (ص) لیکلي دي.

## د څېړنې ستونزې:

په دې څېړنه کې زما لویه ستونزه د موضوع په اړه وه، هغه داسې چې زما موضوع ( **په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه د اسلامي شریعت او قانون له نظره**) ده او په دې موضوع کې د اجباري نکاح هغه صورتونه چې په افغانستان کې معمول دي، راټولول مهم وو او دا کار ماته ډېر سخت و، ځکه چې له ټول افغانستان څخه د اجباري نکاح صورتونه را ټولول یو نفر ته ډېر ستونزمند کار دی؛ نو له همدې امله ما هم د ټول افغانستان د اوو زونونو په استازیتوب له یو څو ولایتونو څخه د څو بېلګو په راټولو باندې بسنه کړې ده.

بله ستونزه داوه چې ما غوښتل په خپله موضوع کې د ښځو چارو له وزارت څخه زیات معلومات ترلاسه کړم په همدې خاطر پوهنتون ماته د ښځو چارو وزارت له پاره مکتوب راکړ، ترڅو نوموړی وزارت د اجباري نکاح په اړه د خپلو معلوماتو شریکولو باندې له ما سره مرسته وکړي، اما هغوی یوازې د ۱۳۹۵ کال راپور راکړ او نور څومره معلومات چې ماغوښتل هغه یې رانه کړل او د هغه معلوماتو له راکولو څخه یې ډډه وکړه. وروسته مې د همدغه کار له پاره له شخصي معرفت څخه هم کار واخیست، اما بیا هم بریالی

نه شوم. هغوی ماته ویل چې زموږ معلومات محرم دي، ځکه تا ته دا معلومات نشو درکولای. ما ورته د معلوماتو د محرم ساتلو وړاندیز وکړ؛ اما هغوی زما وړاندیز قبول نه کړ.

زما له موضوع سره مناسب داسې و، چې زه باید هر ولایت ته تللی وی او د هغه ولایت له خلکو سره مې د اجباري نکاح په اړه مرکې کړې وی، اما دا کار مې و نه کړای شو، ځکه چې یو خو مې مالي توان نه درلود، بل داچې ما له ځان سره فکر وکړ، کله چې د ښځو چارو وزارت ماته معلومات رانه کړل سره له دینه چې هغوی ته مې د پوهنتون څخه مکتوب هم ور وړی وو او هغوی ته مې د معلوماتو د محرم ساتلو وړاندیز هم کړی وو، نو خلک به سنګه په دې حساسه موضوع کې خپل معلومات له ما سره شریک کړي؟.

بله ستونزه دا وه چې په عمومي توګه خلک نه غواړي چې خپل شخصي معلومات، یا هم د خپلې سیمې معلومات د نکاح په اړه له چا سره شریک کړي، په همدې خاطر زه وایم چې د ښځو چارو په وزات کې د اجباري نکاح څومره پیښې ثبت شوې، له حقیقت څخه ډیرې کمې دي، ځکه په حقیقت کې د اجباري نکاح واقعات ډیر زیات دي او همدارنګه ما هم په دې اړه چې له خلکو سره مرکې وکړې، فکر کوم ځینو کسانو هغه ټول حقیقتونه چې د هغوی په سیمه کې دي، راته ونه ویل، ځکه چې خلک دا معلومات یو راز بولي او هېڅکله دا حقیقت چاته نه وایي.

## دا څېړنه په لاندې ډول تقسیم شوې ده:

دغه څېړنه په دوو فصلونو باندې وېشل شوې ده. اول فصل د نکاح او اجبار د پېژندنې له پاره ځانګړی شوی، چې په دوه مبحثونو باندې مشتمل دی، اول مبحث کی شپږ مطلبه ذکر دي، اول مطلب د نکاح د پیژندنې په اړه دی. دویم مطلب د نکاح د مشروعیت په اړه دی. دریيم مطلب د نکاح د رکنونو په اړه دی. څلورم مطلب د نکاح د شرطونو په اړه دی. پنځم مطلب د نکاح د اقسامو په اړه دی او شپږم مطلب د نکاح د احکامو په اړه دی.

دویم مبحث هم په شپږو مطلبونو ویشل شوی دی، په لومړي مطلب کې د اجبار معرفې شوې. همدارنګه په دویم مطلب کې د اجبار رکنونه، په دریيم مطلب کې د اجبار شرطونه، په څلورم مطلب کې د

اجبار انواع، په پنځم مطلب کې د اجبار حکم او په شپږم مطلب کې د اجبار تاثیرات په تصرفاتو کې تر عنوان لاندې ذکر دی.

دویم فصل په افغانستان کې د اجباری نکاح صورتونو د هغو څیړنه او د هغو د پایلو له پاره ځانګړی شوی دی، چې په درې مبحثونو باندې مشتمل دی، لومړی مبحث د افغانستان په ځینو ولایتونو کې د نکاح صورتونو په اړه دی، چې په درې مطلبونو باندې ویشل شوی دی. په لومړي مطلب کې د نکاح هغه صورتونه ذکر دي، چې په عمومي ډول یا هم په ټول افغانستان کې معمول دي، په دویم مطلب کې هغه مرکې ذکر شوي، چې د افغانستان د ځینو ولایتونو له خلکو سره د نکاح په اړه ترسره شوي دي، چې همدا مطلب په نهه فرعو تقسیم شوی دی، په هره فرعه کې د یو ولایت مرکه ذکر شوې. همداراز په دریيم مطلب کې هغه راپورونه ذکر شوي، چې د افغانستان ځینو رسمې ادارو خپاره کړي.

دویم مبحث د اجباري نکاح د څرنګوالي په اړه دی، یعنې چې اجباري نکاح د شریعت او قانون له نظره څه حکم لري؟ دا مبحث په پنځو مطالبو باندې تقسیم شوی دی، په هر مطلب کې د اجباري نکاح یو ډول ذکر دی، په لومړی مطلب کې په بدوکې د نجونو ورکول ذکر دي. دویم مطلب کې د مخې یا د بدل واده حکم ذکر دی. دریيم مطلب کې په کم عمرکې د نجلۍ واده کولو حکم ذکر دی. څلورم مطلب کې د کونډې د واده حکم ذکر شوی دی. پنځم مطلب کې د پیسو مقابل کې د نجلۍ د ورکولو حکم ذکر شوی دی.

دریيم مبحث د اجباري نکاح پایلو له پاره ځانګړی شوی، چې په پنځو مطلبونو باندې مشتمل دی، اول مطلب کې په بدو کې د نجونو د ورکړې پایله، په دویم مطلب کې د اجباري نکاح پایله، په دریيم مطلب کې په کم عمر کې د نجونو د ورکړې پایله، په څلورم مطلب کې د بدل د نکاح پایله او په پنځم مطلب کې د اجباري نکاح رواني اغېزې بیان شوي دي.

# لومړی فصل

# د نکاح او اجبار پیژندنه

مخکې له دې چې په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونو په اړه پوه شو، چې په افغانستان کې څو ډوله اجباري نکاح موجوده ده، په کوم صورت کې نکاح صحیح کیږي او کوم صورت کې نه صحیح کیږي، باید اول په دې پوه شو،چې نکاح او اجبار څه ته وایي؟ څو ارکان او څو شرطونه لري؟ او همدارنګه هر یو څو ډوله دی او احکام یې څه دي؟، نو ما هم په همدې خاطر اول فصل د نکاح او اجبار د پېژندې له پاره ځانګړی کړی او دې فصل کې مې دوه مبحثونو ذکر کړی دي. اول مبحث کې مې نکاح تشریح کړې او دویم مبحث کې مې اجبار تشریح کړی دی، اوس راځم اول مبحث ته.

## لومړی مبحث

## د نکاح پیژندنه، مشروعیت یې، رکنونه یې، شرطونه یې، اقسام او حکمونه یې

دا مبحث په شپږو مطالبو باندې مشتمل دی، چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

لومړی مطلب: د نکاح پیژندنه

لومړۍ فرعه: د نکاح لغوي او اصطلاحي معنا

دویمه فرعه: د افغانستان مدنی قانون کې د نکاح تعریف

دویم مطلب: د نکاح مشروعیت

دریم مطلب: د نکاح رکنونه

لومړۍ فرعه: د رکن لغوي او اصطلاحي معنا

دویمه فرعه: د نکاح رکنونه

دریمه فرعه: ایجاب او قبول

څلورم مطلب: د نکاح شرطونه

**لومړۍ فرعه: دشرط لغوي او اصطلاحي معنا**

**دويمه فرعه: د نکاح شرطونه**

**پنځم مطلب: د نکاح اقسام**

**شپږم مطلب: د نکاح احکام، نو اوس راځم اول مطلب ته.**

## لومړی مطلب: د نکاح پيژندنه

**په دې مطلب کې مې د نکاح لغوي معنا د لغتو له کتابونو څخه او اصطلاحي معنا د فقې له کتابونو څخه را نقل کړې او همدارنګه د مدني قانون څخه مې هم د نکاح تعريف رانقل کړی دی، دا مطلب مې په دوه فرعو تقسيم کړی دی، په لومړۍ فرعه کې مې د نکاح لغوي او اصطلاحي معنا او په دويمه فرعه کې مې په مدني قانون کې د نکاح تعريف ذکر کړی دی.**

### لومړۍ فرعه: د نکاح لغوي او اصطلاحي معنا

**الف: نکاح په لغت کي يوځاي کيدو او جمع کولو ته وايي او مراد ورڅخه دښځې او خاوند يوځای کيدل دي، (۱) نکاح د نَكَحَ يَنْكِحُ نَكْحاً د باب څخه دی او د تزويج يا د نکاح د عقد په معنی کې هم استعماليږي، لکه عرب وايي (إمرأة ناكح) يعني هغه ښځه چې صاحب د زوج ده، (۲) نکاح اصلاً په عربي ژبه کې د وطی له پاره استعماليږی او کله کله د هغه عقد له پاره هم ويل کيږي چې خالي وي له وطی څخه هغه ځکه چه همدا نکاح د مباح وطی له پاره سبب دی. (۳)**

**خلاصه د خبرې داشوه چې د نکاح لفظ هم په عقد د نکاح کې استعماليږي او هم په وطی يې کې، نو داسې ويلای شو چې د نکاح د لفظ استعمال په وطی کې حقيقت دی او په عقد د نکاح کې مجاز دی يا بالعکس.**

---

۱ الجرجاني علي بن محمد بن علي، **التعريفات**: طبعه: ۱ بيروت دار الكتاب العربي ، كال: ۱۴۰۵هـ ، ج: ۱، ص: ۳۱۵.
۲ إبراهيم مصطفى ـ أحمد الزيات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار، **المعجم الوسيط** ، ناشر: دار الدعوة ، ب ت ، ج: ۲ ص : ۹۶۰
۳ الافريقى، ابى الفضل ، جمال الدين محمد بن مكرم ابن منظور **لسان العرب**، طبعه : ۶ ، بيروت دار صادر، كال :۲۰۰۸م ، ج: ۱۴ ص: ۳۵۱

**ب: نکاح په اصطلاح کې: فقهاؤو د نکاح مختلف تعریفونه کړي دي.**

**د احنافو تعریف: (عقد وضع لتملک المتعة بالأنثی قصداً). (۱)**

**ژباړه : نکاح هغه عقد دی، چې په قصدی توګه د ښځې د منافعو د ملک له پاره وضع شوی دی.**

**یا په بل تعبیر سره: (عقد وضع لتملیک منافع البضع). (۲)**

**ژباړه: نکاح هغه عقد دی، چې د ښځې د مخصوص اندام د منافعو د مالک کېدو له پاره وضع شوی دی.**

**د مالکیانو تعریف: (عقد لحل استمتاع بأنثی غیر محرم و مجوسیة و أمة کتابیة بصیغة لقادر محتاج أو راج نسلاً).(۳)**

**ژباړه: نکاح هغه عقد دی چې د داسې ښځې د ګټې اخیستو له پاره روا شوی، چې هغه ښځه محرمه نه وي، (لکه خور، مور، لور خوابنې او داسې نور) مجوسیه نه وي او کتابیه وینځه نه وي، (٤) په خاصو الفاظو باندې منعقد کیږي د هغه کس له پاره چې په نکاح باندې قادر او محتاج وي نکاح ته، یا د هغه کس له پاره چې که محتاج هم نه وي، خود نسل پیدا کیدو اراده او امید ولري.**

**د شافعیانو تعریف: (عقد یتضمن إباحة الوطء، بلفظ إنکاح أو تزویج أو ترجمته). (۵)**

**ژباړه : نکاح هغه عقد دی چې د وطې د روا کیدو متضمن دی، په عامه توګه د انکاح او تزویج، یا هم په داسې الفاظو باندې چې د دې معنا ولري منعقد کیږي.**

---

۱ ابن نجیم، زین الدین بن ابراهیم بن محمد المصری: **البحر الرائق شرح کنز الدقائق**، طبعه: ۱ ، بیروت: دار الکتب العلمیة، کال ۱۴۱۸هـ ، ۱۹۹۷م ، ج: ۳ ، ص: ۱۳۶.

۲ ابن الهمام، کمال الدین محمد بن عبدالواحد: **شرح فتح القدیر**، طبعه: ۷، بیروت: دار أحیاء التراث العربی، کال ۱۴۰۶هـ ، ۱۹۸۶م، ج ۳، ص ۹۹.

۳ الصاوی، أحمد: **بلغة السالک لأقرب المسالک الی مذهب الامام مالک علی شرح الصغیر للدردیر**، طبعه: ۱، بیروت دار الکتب العلمیة، کال ۱۹۹۵م، ج ۲ ، ص ۲۱۲.

٤ د مالکیانو په کتابونو کې د نکاح په تعریف کې د کتابیې د وینځې په اړه داسې لیکلي: چې د کتابیې وینځې نکاح نه صحیح کیږي، اما که کتابیه ښځه آزاده وي بیایې نکاح صحیح ده .

٥ الرملی، شمس الدین محمد بن أبی العباس المصری : **نهایة المحتاج الی شرح المنهاج**، طبعه آخری: مصر: مطبعه البابی الحلبی، کال ۱۳۸۶هـ ، ج ۶، ص ۱۷۶.

**د حنبليانو تعريف:** (عقد يعتبر فيه لفظ إنكاح أو تزويج في الجملة والمعقود عليه منفعة الإستمتاع). (١)

**ژباړه: نکاح هغه عقد دی چې په دې کې لفظ د انکاح او تزويج معتبردی، يعنی په همدغه الفاظو باندې منعقد کيږي او معقود عليه يې (په کوم شي چې عقد شوی دی) له ښځې نه ګټه اخيستل وي.**

## دويمه فرعه: د افغانستان مدنی قانون کې د نکاح تعريف

**٦٠ ماده: (ازدواج يوعقد دی، چه د ښځې او سړي معاشرت يې د فاميل د تشکيلولو په مقصد مشروع کړی او د دواړو خوا وو حقوق او واجبات تنظيموي). (٢)**

**راجح قول:** زما په نظر له ټولو تعريفونو څخه د مدني قانون تعريف ډېر ښه دی،ځکه چې د عقد په ټولو اړخونو باندې يې تصريح کړې ده، يعنې په هغه کې د عقد دواړه طرفونه (سړی او ښځه) ذکر کړي، بل داچې (د فاميل د تشکيلولو په مقصد مشروع کړی) دې جملې سره د وطې او له ښځې نه ګټې اخيستلو ته اشاره کړې ده او همدارنګه د دواړو حقوق يې هم يو په بل باندې لازم کړي، چې په نکاح کې دا ډېر مهم ټکي دي.

**د فقهاوو تعريفونه هم صحيح دي، خو مشکل دادی چې هغوی د عقد په ټولو اړخونو تصريح نه ده کړې، يا يې هم هغه قيدونه ذکر کړي، چې په تعريف کې ورته ضرورت نشته، مثلا د احنافو په تعريف کې مشکل دادی، چې دوی په تعريف کې د عقد يو طرف(ښځه) ذکر کړې، اما بل طرف د عقد(سړی) يې نه دی ذکر کړی او همدارنګه نکاح يې صرف د ښځې له مخصوص اندام څخه تر ګټې اخيستلو پورې تړلې ده، سره له دې چې په نکاح کې نه يوازې له مخصوص اندام څخه ګټه اخيستل روا کيږي؛ بلکې سړی د ښځې له ټول بدن څخه ګټه اخيستی شي.**

**د مالکيانو په تعريف کې مشکل دادي، چې دوی نکاح صرف تر هغه کس پورې خاص کړې، چې قادر او محتاج وي، يا هم د نسل د پيدا کولو اراده او اميد ولري، چې دې خبرې ته بلکل ضرورت نشته، ځکه**

---

١ النجدی الحنبلی، عبدالرحمن بن محمد قاسم العاصمی: **حاشية على الروض المربع شرح زاد المستقنع للبهوتی**، طبعه: ١، ١٣٩٧هـ ، ج ۶، ص ٢٢۴.

٢ د افغانستان **مدنی قانون**: ماده: ۶٠.

**که یو نفر نکاح ته محتاج نه وي، یا هم د نسل د پیدا کولو اراده ونه لري، بلکې خاص په دې خاطر نکاح کوي چې د نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) اتباع وکړي، نو نکاح يې صحیح کیږي.**

**د شافعیانو او حنبلیانو په تعریف کې مشکل دادي، چې دوی هم د عقد په دواړو طرفونو باندې تصریح نه ده کړې او همدارنګه بیا شافعیانو نکاح صرف د وطې تر روا کېدلو پورې خاص کړې ده، سره له دې چې په نکاح کې له وطې سره نور کارونه هم روا کېږي.**

## دویم مطلب: د نکاح مشروعیت

**د نکاح مشروعیت یا روا والی په قرآنکریم، سنت، اجماع او عقل باندې ثابت دی، چې په همدې ترتیب يې دلائل ذکر کوم.**

### اول: قرآنکریم:

**۱– « وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ».(۱)**

**ژباړه: که تاسو وېرېږئ، چې د یتیمانو په حق کې به عدل ونه کړای شئ، نو په نکاح کړئ (نورې) هغه ښځې چې ستاسو خوښې وي، دوه دوه، درې درې، څلور څلور. (۲)**

**په تفسیرونو کې د دغه آیت د نزول په سبب کې له بي بي عائشې (رضی الله عنها) (۳) څخه نقل کړل شوي، چې کومه یتیمه نجلۍ چې د ولي په تصرف کې به وه، ولي به هم ورسره په مال کې شریک و، نوکه**

---

۱ سورة النساء: آیة ۳

۲ دیوبندي، شیخ الهند مولانا محمود الحسن – عثماني، علامه شبیر احمد، پښتوته ترجمه کوونکي: د افغانستان د علماوو یو ټولګی، **کابلی تفسیر**، سعودي، مطبعه: خادم الحرمین الشریفین الملک فهد لطباعة المصحف الشریف، ټول جلدونه: ۲، ب، ت، ج: ۱، ص: ۴۲۶.

۳ د مؤمنانو مور بي بي عائشه (رضی الله عنها) د ابوبکر صدیق او ام رومان لور ده، نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) له بي بي عائشې (رضی الله عنها) سره له هجرت نه دوه ، یا درې او یا یو نیم کال مخکې کوژده وکړه، په دې وخت کې دا دشپږو، یا اوو کلونو په عمر وه، بیا په مدینه منوره کې د هجرت په دویم کال کله چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د بدر له غزا نه راستون شو، د شوال په میاشت کې يې واده وکړ او په دې وخت کې بي بي عائشه (رضی الله عنها) د اتو کلونو په عمروه، بي بی عائشه (رضی الله عنها) له هغو کسانو څخه ده چې ډیر احادیث يې روایت کړي ټول احادیث چې له دې نه روایت شوي ۲۲۱۰ احادیثه دي، په دې احادیثو کې چې امام بخاري او امام مسلم دواړو په شریکه روایت کړي ۱۷۴ احادیثه دي، امام بخاري چې یواځې روایت کړي ۵۴ احدیثه دي او امام مسلم چې یواځې روایت کړي ۶۸ احادیثه دي، د بي بي عائشې (رضی الله عنها) مناقب او صفات ډیر زیات دي، چې د هغې له جملې څخه هغه شیان چې دې ته ورکړل شوي وو او بل هیڅ ښځې ته ندې ورکړل شوي، هغه دادي چې جبریل (علیه السلام) د وریښمو په ټوټه کې د دې تصویر راوړی وو او نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ته وویل، چې دا ستا ښځه ده په دنیا او اخرت کې، بل داچې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د دې نه بغیر له بلې پیغلې سره واده ندی کړی بل داچې د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د وفات په وخت کې سر يې د دې په غیږه کې وو او د دې په کوټه کې دفن شو بل داچې د دې پاکي له آسمان څخه نازله او بیان شوې او بل داچې دا د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د خلیفه او ملګري لور وه، د هجرت ۵۷ کال د رمضان ۱۸ نېټه د سې شنبې په شپه وفات شوې، بعضې وایي چې ۵۶ کال او بیا ځینو ویلي چې ۵۸ کال باندې وفات شوې، ابوهریره (رضی الله عنه) هغې باندې د جنازې لمونځ وکړ او د بقیع په هدیره کې د شپې له طرفه خاورو ته وسپارل شوه ځکه هغې خپله همداسې امر کړی وو چې د شپې له طرفه خاورو ته وسپارل شي. مرجع: النووی، أبو زکریا محیي الدین یحیی بن شرف (وفات: ۶۷۶هـ)، **تهذیب الأسماء واللغات**، ناشر:دار الکتب العلمیة، بیروت – لبنان، ج: ۲، ص: ۳۵۱ او ۳۵۲.

**د هغې مال او ښایست به یې خوښېده خپله همدغه ولي به په نکاح کوله (د مال او ښایست په خاطر) بغیر له دې چې د هغې د مهر په ورکولو کې عدل وکړي. یعنې دغې یتیمې ته همدومره مهر ورکړي، لکه نورو ښځوته یې چې ورکوي، نو خلک له دغه کار څخه منع شول، مگر داچې د هغوی په مهر کې عدل وکړي او دوی ته لوړ مهر ورکړي، نو ځکه الله تعالی دوی ته امر وکړ، چې له هغو ښځو سره نکاح وکړئ چې خوښې یې وي بغیر له یتیمانو نجونو څخه. (١)**

**الله تعالی په دغه آیت کریمه کې ښکاره امرکړی په نکاح باندې، چې دا یو لوی دلیل دی د نکاح په روا والي باندې.**

**٢ – « وَأَنكِحُوا الْأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوافُقَرَاءَيُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ».(٢)**

**ژباړه: اې اولیاوو! په نکاح ورکړئ هغه کونډې ښځې له تاسو څخه او خپل صالحان نېکان مریونه او وینځې هم په نکاح ورکړئ، که چیرې دوی فقیران او بې وسې وي، الله تعالی به په خپل فضل دوی غنیان کړي او الله تعالی فراخي راویستونکی او ښه عالم دی. (٣)**

**په دغه آیت کریمه هم الله تعالی اولیاؤو ته امر کړی د کونډو په نکاح ورکولو باندې چې داخپله یو بل ښکاره دلیل دی د نکاح په روا والي باندې.**

**٣ – «وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً». (٤)**

**ژباړه: د الله تعالی د قدرت له نښو څخه ځینې دادي، چې الله تعالی تاسوته د تاسو له نفسونو څخه ښځې پیداکړې، د دې له پاره چې تاسو دوی ته مائل او مطمئن شئ او گرځولې ده دوستي او مهرباني ستاسو په منځ کې. (٥)**

**له دغه آیت کریمه څخه هم په ښکاره ډول معلومیږي، چې سره له دې چې نکاح روا ده، الله تعالی د ښځې او مېړه تر مینځ مینه، محبت او مهرباني اچولې ده، چې همدغه مینه او مهرباني د دې سبب کېږي، چې دواړه په ښه توگه ژوند ته ادامه ورکړي.**

---

١ الصابوني، محمد علي، **صفوة التفاسير:** طبعه: ١، القاهرة: دار الصابوني للطباعة والنشر والتوزيع ، كال: ١٤١٧ هـ - ١٩٩٧ م، ج: ١، ص: ٢٣٦. / او البخارى، محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة **الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري:** طبعه: ١، دار طوق النجاة كال: ١٤٢٢هـ ، ج: ٧، ص: ١٨، حديث نمبر: ٥١٤٠، باب تزويج اليتيمة،

٢ سورة النور: آيت: ٣٢.

٣ **کابلی تفسیر**، ج: ٢، ص: ٣١٢.

٤ سورة الروم: آيت: ٢١.

٥ **کابلی تفسیر**، ج: ٢، ص: ٥٩٠.

**دویم:** حديث شريف: له عبدالله ابن مسعود (رضی الله عنه) (۱)څخه روايت دی، چې نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: **يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ**.(۲)

ژباړه: ای د ځوانانو ټولګيه! هغه څوک چې د نکاح کولو قدرت لري، نو نکاح دې وکړي، دا د سترګو ښه ټيټونکې او د فرج (مخصوص اندام) له پاره ښه ساتونکې ده (د زنا څخه) او څوک چې د نکاح کولو وس او توان نه لري، نو هغوی دې روژه ونيسي، ځکه چې دا کار د هغوي له پاره ښه خصي کېدل (د شهوت له منځه وړل) دي.

په دغه حديث شريف کې هم په ښکاره ډول نکاح باندې امر شوی هغهو کسانو ته چې د نکاح قدرت او توان ولري، په دې معنا چې د ښځې مهر ورکړل شي او نور مصارف چې وربانديې لازميږي لکه: خوراک، څښاک، کور، کالي او داسې نور مصارف پوره کړای شي او که څوک د نکاح قدرت او توان نه لري، يعنې مصارف د نکاح نه شي پوره کولای او دا ويره هم وي، چې په حرامو کې به واقع شي، نو روژه دې ونيسي، ځکه روژه د شهوت ختمونکې ده او شهوت چې کنترول او قابو شي، نو سړی له حرامو څخه هم ژغورل کيږي. په دغه حديث شريف کې خطاب خاص ځوانانو ته وشو، دا ځکه چې شهوت په ځوانانو کې زيات وي نسبت نورو ته، په دې معنا نه ده چې بغير له ځوانانو نه بل کس بلکل شهوت نه لري.

**دریيم:** د صحابه وو آثار: عبدالله ابن مسعود (رضی الله عنه) فرمايلی:«**لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنْ أَجْلِي إِلَّا عَشَرَةُ أَيَّامٍ، وَأَعْلَمُ أَنِّي أَمُوتُ فِي آخِرِهَا يَوْمًا، لِي فِيهِنَّ طَوْلُ النِّكَاحِ، لَتَزَوَّجْتُ مَخَافَةَ الْفِتْنَةِ**».(۳)

ژباړه: ابن مسعود (رضی الله عنه) وايي: که زما عمر لس ورځې پاتې وي او زه پوه شم چې په آخر د دغه ورځو کې مړکيږم او زه د نکاح قدرت او توان ولرم، نو خامخا به نکاح وکړم، په دې خاطر چې په فتنه کې واقع نشم.

---

۱ عبدالله بن مسعود بن غافل هذلی، کنيه يې أبو عبدالرحمن وه، په اسلام کې د اولينو له جملې څخه وو،په بدر کې هم شرکت کړی او دوه کرته يې هجرت کړی، په قضاء او رواية الحديث کې مشهور وو، د هجرت په ۳۲ کال کې په مدينه منوره کې وفات شوی. مرجع: الذهبي، الإمام شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان، **سير أعلام النبلاء:** طبعه: ۲، بيروت لبنان: مؤسسة الرسالة، کال: ۱۴۰۲هـ -۱۹۸۲م، ج: ۱ ، ص: ۴۶۱.

۲ البخاری، **صحيح البخاری:** ج: ۳، ص: ۲۶، حديث نمبر: ۱۹۰۵، باب: الصوم لمن خاف على نفسه العزبة. / او النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (وفات: ۲۶۱هـ)، **المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم = صحيح مسلم:** بيروت دار إحياء التراث العربي ، ب ت، حديث نمبر: ۱۴۰۰، باب استحباب النكاح لمن تاقت نفسه إليه، ووجد مؤنه، واشتغال من عجز عن المؤن بالصوم، ج: ۲، ص: ۱۰۱۸.

۳ الجوزجاني، أبو عثمان سعيد بن منصور بن شعبة الخراساني (وفات: ۲۲۷هـ)، **سنن سعيد بن منصور:** طبعه: ۱، هند: دار السلفية، کال: ۱۴۰۳هـ - ۱۹۸۲م: ج: ۱ ، ص: ۱۶۴، حديث نمبر: ۴۹۳، باب الترغيب فی النكاح.

د صحابه کرامو په مثل اشخاص چې د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) د اتباع ډير تږي او په احاديثو باندې ډير پوه او بيا خصوصا عبدالله ابن مسعود (رضی الله عنه) چې په صحابه وو کې د فقهاؤ له جملې څخه و، نو کله چې هغه نکاح د فتنې څخه په امن کې د پاتې کيدو لامل بولي نو يقيني خبره ده چې نکاح د فتنو څخه د خلاصيدو يو لوی لامل دی .

**څلورم:** اجماع: د نکاح په مشروعيت باندې ټول امت اجماع کړې ده. (۱)

يعنې د اسلام له ظهور څخه تر اوسه پورې چا د نکاح په مشروعيت کې اختلاف نه دی کړی.

**پنځم:** عقل: هر عاقل انسان دا خوښوي، چې له مرګ نه وروسته دې د ده نوم ياد شي، چې دا کار که څه هم په نورو لارو ممکن دی، اما په عامه توګه هر سړی دغه کار هغه وخت کولای شي، چې د ده نسل پاتې وي او نسل هغه وخت پيدا کېږي، چې انسان واده يا نکاح وکړي. بل داچې انسان په ژوند کې مينه، محبت او روحي آرامتيا ته اړتيا لري، چې دا ټول په نکاح کې رانغښتل شوي دي، لکه څرنګه چې الله تعالی په دغه آيت کريمه کې په ښکاره ډول ذکر کړي دي: «وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً ». (۲)

ژباړه: د الله تعالی د قدرت له نښو څخه ځينې دادي، چې الله تعالی تاسوته د تاسو له نفسونو څخه ښځې پيداکړې، د دې له پاره چې تاسو دوی ته مائل او مطمئن شئ او ګرځولې ده دوستي او مهرباني ستاسو په منځ کې. (۳)

بل داچې هر انسان شهواني غريزه لري او د انسان د طبعيت غوښتنه ده، چې دا غريزه بايد اشباع شي، سره له دې چې په دين کې د دې غريزې اشباع په حرامه توګه منع شوې ده. الله تعالی فرمايي: «وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً ». (٤)

ژباړه: تاسې زنا ته مه نږدې کيږئ، ځکه چې دا قبيحه او نارواعمل دی. (٥)

کله چې د شهوت د پوره کولو له پاره حرامه لار منع شوه، نو صرف حلاله لاره چې هغه نکاح ده، پاتې شوه او بله دا چې که نکاح نه وای؛ نو ممکن له يوې ښځې نه زياتو کسانو خپل شهوت پوره کړای وای، چې دا کار د اخلاقي فساد سبب کېده. همدارنګه د ټولنې مصالح له منځه تلل، بې حيايي رامنځته کېده، بل

---

١ الموصلي، عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (وفات: ٦٨٣هـ)، **الاختيار لتعليل المختار:** القاهرة: مطبعه الحلبي، کال: ١٣٥٦ هـ - ١٩٣٧ م، ج: ٣، ص: ٨٢.

٢سورة الروم: آيت: ٢١.

٣ **کابلی تفسير**، ج: ٢، ص: ٥٩٠.

٤ سورة الاسراء: آيت: ٢٣.

٥ **کابلی تفسير**، ج: ١، ص: ١٦٢١.

داچې له ښځو ناوړه استفاده شروع کېدله، د نسب اختلاط او ګډوډي راتلله، د خلکو تر منځ اختلافات پیداکېدل او همدارنګه بې نظمي راتلله، چې د دې ټولو غلطو کارونو مخنیوی په نکاح باندې شوی دی.

## درېیم مطلب: د نکاح رکنونه

دې مطلب کې مې درې فرعې ذکر کړي دی، په لومړۍ فرعه کې مې د رکن لغوي او اصطلاحي معنا ذکر کړې، په دویمه فرعه کې د نکاح رکنونه، چې د رکنونو په اړه مې د فقهاوو مذاهب او همدا رنګه د افغانستان مدني قانون هم ذکر کړی او په درېیمه فرعه کې مې د ایجاب او قبول په اړه تشریح ورکړې ده، چې ایجاب او قبول څه ته وايي او په کومو الفاظو باندې صحیح کېږي.

### لومړۍ فرعه: د رکن لغوي او اصطلاحي معنا

۱ – رکن په لغت کې: میلان او قوي اړخ دشي ته وايي، لکه ویل کیږي: (یأوی الی رکن شدید).(۱) یعنې میلان کوي هغه قوي طرف ته.

الله تعالی فرمایي: «وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا». (۲)

ژباړه: تاسو د دوستي میلان مه کوئ هغه کسانو ته چې ظلم یې کړی دی. (۳)

همدارنګه الله تعالی د لوط (علیه السلام) په قصه کې فرمایي: « قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ». (٤)

ژباړه: لوط (علیه السلام) وویل کاشکې ما زور درلودلی پر تاسو، یا مې پناه وړی وی یو محکم ځای د پناه ته. (٥)

۲ – رکن په اصطلاح کې: فقهاؤو د رکن تعریف داسې کړی: (الرکن ما کان داخل الماهیة).(٦)

ژباړه: رکن هغه شي ته ویل کېږي، چې حقیقت دشي کې داخل وي.

---

۱ الرازی، محمد بن أبي بکر بن عبدالقادر، **مختار الصحاح**، طبعه جدیدة، بیروت :مکتبة لبنان ناشرون، کال: ۱۴۱۵ – ۱۹۹۵، ص: ۱۲۸.
۲ سورة هود: آیت: ۱۱۳.
۳ **کابلی تفسیر**، ج: ۱، ص: ۱۳۰۴.
٤ سورة هود: آیت: ۸۰.
٥ **کابلی تفسیر**، ج: ۱، ص: ۱۲۸۵.
٦ ابن عابدین، **حاشیة رد المختار علی الدر المختار**، بیروت، دار الفکر للطباعة والنشر، کال: ۱۴۲۱هـ - ۲۰۰۰م، ج: ۱، ص: ۴۰۱.

## دويمه فرعه: د نكاح ركنونه

د نكاح ركنونه هغه اجزاء دي، چې له همدغو اجزاوو څخه نكاح جوړه ده، نو كه دغه اجزاء نه وي يا يې هم ځينې نه وي، نو نكاح هم نه كيږي (وجود نلري).اوس د نكاح ركنونه په دوو اجزاوو كې بيانوم، په اول جزء كې د فقهاوو نظريات او په دويم جزء كې د افغانستان په مدني قانون كې د نكاح ركنونه.

**اول جزء: د نكاح په اركانو كې د فقهاوو نظريات**: د نكاح په ركنونو كې فقهاوو اختلاف كړى دى.

الف: احناف: د احنافو په نزد د نكاح اركان دوه دي، ايجاب او قبول. (۱) البته چې دواړه د ماضي په صيغو وويل شي، يا يو د ماضى او بل د مضارع په صيغه وويل شي، چې مطلب ترې حال وي هم صحيح كيږي.

ب: مالكيان: د دوى په نزد د نكاح ركنونه څلوردي ۱: صيغه (ايجاب او قبول)، ۲: ولي، ۳: محل (ښځه او ميړه)، ۴: مهر. (۲)

ج: شافعيان: د دوى په نزد د نكاح ركنونه پنځه دي: ۱: ښځه، ۲: ميړه، ۳: ولى، ۴: شاهدان، ۵: صيغه (ايجاب او قبول). (۳)

د: حنابله: د دوى په نزد د نكاح ركنونه درى دي: ۱: زوجان (ښځه او ميړه) چې خالى وي د نكاح له موانعو څخه لكه: نسب، عدت، رضاع او داسې نور ۲: ايجاب، ۳: قبول. (٤)

**دويم جزء: د افغانستان مدنى قانون كې د نكاح اركان:**

٦٦ ماده: د ازدواج عقد په صريح ايجاب او قبول سره چه فوريت او استمرار افاده كړي، پرته د وخت له قيد څخه په يو مجلس كښې صورت مومي. (٥)

---

۱ الزيلعى، فخرالدين عثمان بن على بن محجن ، **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق** : طبعه: ۱ ، القاهره ، المطبعه الكبرى الأميرية ، كال ۱۳۱۳هـ ، ج: ۲ ، ص: ۹۵. / او الكاسانى، الحنفي: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني (وفات: ۵۸۷هـ) **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع** ، ط: ۲، الناشر: دار الكتب العلمية ، كال: ۱۴۰۶هـ - ۱۹۸۶م، ج: ۲ ، ص: ۲۲۹. / او الموصلى: **الاختيار لتعليل المختار**، ج: ۳، ص: ۸۲.

۲ المالكي، محمدبن أحمد بن محمدعليش،أبوعبدالله (وفات: ۱۲۹۹هـ)، **منح الجليل شرح مختصر خليل**، بيروت دارالفكر، كال: ۱۴۰۹هـ/۱۹۸۹م، ج: ۳، ص: ۲۶۶. / او الغرناطي، **التاج والإكليل لمختصرخليل**، ج: ۵، ص: ۴۲.

۳ الرملى: **نهاية المحتاج الى شرح المنهاج**، ج: ۶، ص: ۲۰۹. / او البكري، أبو بكر عثمان بن محمد شطا الدمياطي الشافعي (وفات: ۱۳۱۰هـ)، **إعانة الطالبين على حل ألفاظ فتح المعين**، طبعه: ۱، دار الفكر للطباعة والنشر والتوريع كال: ۱۴۱۸ هـ - ۱۹۹۷ م، ج: ۳، ص: ۳۱۶.

٤ الحنبلي، محمّد بن بدر الدين بن عبد الحق ابن بلبان (وفات: ۱۰۸۳هـ)، **أخصر المختصرات في الفقه على مذهب الإمام أحمد بن حنبل**، طبعه: ۱، بيروت، دار البشائر الإسلامية، كال:۱۴۱۶هـ، ج: ۱، ص: ۲۱۶. / او النجدي، الحنبلي: **حاشية الروض المربع شرح زاد المستقنع**، ج: ۶، ص: ۲۴۶.

۵ د افغانستان **مدنى قانون** : ۶۶ ماده.

**راجح قول:** زما په نظر د فقهاوو اختلاف د نکاح په رکنونو کې یو شکلي او صوري اختلاف دی، ځکه چې اصلي رکنونه ایجاب او قبول دي، چې په دې باندې ټولو اتفاق کړی دی. احناف نور داخل ته نه دي ورغلي اما نور فقهاء لږ ور داخل شوي او خبره يې لږ تشريح کړې ده، هغه داسې چې دغه ايجاب او قبول چې له چانه صادرېږي (متعاقدين يا ولي) هغه يې هم په رکنونو کې حساب کړي،همدا رنګه چې په چا باندې واقع کېږي (ښځه او مېړه) هغه يې هم په رکنونو کې حساب کړي،بل دا چې دغه ايجاب او قبول چې د چا په حضور کې ترسره کېږي (شاهدان) هغه يې هم په رکنونو کې حساب کړي او همدا رنګه ځينو يو د لوازمو د نکاح څخه چې مهر دی، هم په رکنونو کې حساب کړی، اګر که په نکاح کې مهر ذکر هم نه شي، نو مهر مثل لازمېږي، اما که دغو شيانو ته نظر ونه شي، نو هماغه ايجاب او قبول پاتې کېږي.

## دريمه فرعه: ايجاب او قبول

ايجاب او قبول يا د نوروفقهاوو په تعبير سره صيغه: هغه رکنونه دي، چې ټولو ورباندې اتفاق کړی. دلته دوې مهمې خبرې دي، چې بايد واضحې شي، يو داچې ايجاب او قبول څه ته وايي؟ او بل دا چې په کومو الفاظو باندې ايجاب او قبول صحيح دی؟

**اول:** ايجاب او قبول څه ته وايي؟

ايجاب: هغه لفظ دی چې اول ځل له يو د عاقدينو څخه صادر شي، چې هغه عاقد د دغه لفظ صلاحيت هم ولري، که هغه ښځه وي او که سړی،(۱) صرف مالکيان دا وايي چې ايجاب هغه لفظ دی، چې د ښځې له ولي يا وکيل څخه صادر شي، که مخکې وي او که وروسته فرق نه لري. (۲)

قبول: هغه لفظ دی چې له ايجاب څخه وروسته له دويم طرف د عقد څخه صادر شي، چې د ده له رضايت څخه تعبير وکړي؛ نو په عقد کې اول شروع کوونکی هميشه موجب (ايجاب کوونکی) او مقابل لوری يې قابل (قبول کوونکی) وي. (۳)

د افغانستان مدني قانون د ايجاب او قبول په اړه داسې وايي:

۵۰۶ ماده: (ايجاب او قبول د هغو الفاظو څخه عبارت دي، چې په عرف کښې د عقد د پيدا کيدو د پاره استعمالیږي).

---

۱ ابن نجيم المصري، **البحر الرائق شرح كنز الدقائق**، ج: ۳، ص: ۸۷. / او ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (وفات: ۱۲۵۲هـ)، **رد المحتار على الدر المختار**، طبعه: ۲، بيروت: دار الفكر، كال: ۱۴۱۲هـ - ۱۹۹۲م، ج: ۴، ص: ۵۱۲.

۲ الدسوقي، محمدعرفه، **حاشية الدسوقي على الشرح الكبير**، بيروت: دارالفكر، ب ت ، ج: ۲، ص: ۲۲۱.

۳ ابن نجيم المصري، **البحر الرائق شرح كنز الدقائق**، ج: ۳، ص: ۸۷. / او ابن عابدين، **رد المحتار على الدر المختار**، ج: ۴، ص: ۵۱۲.

**۵۰۷ ماده:** (ایجاب او قبول د ماضي په صیغه وي او د مضارع یا امر په صیغه هم جائز دي؛ خو په دې شرط چې د حال اراده ورڅخه شوې وي). [۱]

**دویم: ایجاب او قبول په کومو الفاظو سره صحیح دی؟**

**د ټولو فقهاوو په اتفاق سره د نکاح او تزویج په الفاظو سره، یا هغه الفاظ چې له دې نه مشتق وي، نکاح صحیح کیږي،پرته له دې چې کوم دلیل یا قرینې ته ضرورت وي، ځکه همدغه الفاظ په نصوصو کې راغلي، الله تعالی فرمایي: «فَأنكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ». [۲]**

**ژباړه: په نکاح کړئ هغه ښځې چې ستاسو خوښې وي. بل ځای کې فرمایي «فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا». [۳]**

**ژباړه: هرکله چې زید [۴] خپل غرض پوره کړ له زینب بنت جحش [۵] څخه (او طلاقه یې کړه او عدت یې هم تېر شو) نو موږ دا زینب تاته په نکاح درکړه. [٦] همداراز د عبد الله ابن مسعود (رضی الله عنه) په روایت نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: (مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ). [۷]**

**ژباړه: هریو له تاسو څخه چې د نکاح د مصارفو توان لري، نو نکاح دې وکړي. اما پرته له دغه دوه الفاظو څخه په نورو الفاظو کې فقهاوو اختلاف کړی، چې په درې مذهبو وېشل شوي دي.**

---

۱ د افغانستان **مدني قانون:** ۵۰۶ او ۵۰۷ ماده.

۲ سورة النساء: آیت: ۳.

۳ سورة الاحزاب: آیت: ۳۷.

٤ زید بن ثابت (رضی الله عنه)، حافظ د قرآن، کاتب د وحی، د میراثو په علم ډېر پوه او د مدینې منورې مفتي وو. د مور نوم یې ام جمیل وو، اسم کنیه یې ابو سعید وه، اما ابو خارجة یې هم ورته ویل، د بني نجار د قبیلې وو، کله چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) هجرت وکړ ده اسلام راووړ او هغه وخت کې دی یولس کلن وو، نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ورته امر وکړ، چې د یهودو ژبه زده کړه، کله به چې د یهودو خط راغی نو ده به نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ته لوسته او کله به هغه مبارک یهودانو ته خط لیږه نو زید به ورته لیکه. له ام سعد بنت سعد بن ربیع او عمرة بنت معاذ بن أنس سره یې واده کړی وو. د وفات په کال کې یې مؤرخینو اختلاف کړی ، اما امام واقدي چې د مؤرخینو امام دی، ویلي چې د هجرت په ۴۵ کال وفات شو او د ده عمر ۵۶ کاله وو. مرجع: الذهبی، **سیرأعلام النبلاء**، ج: ۲، ص: ۴۲۶، ۴۲۷، ۴۲۸، ۴۴۱.

۵ ام المؤمنین، زینب بنت جحش بن ریاب، د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) بي بي او د ترور (عمه) لور وه، ځکه چې مور یې امیمه بنت عبدالمطلب بن هاشم وه، د اولینیو مهاجرینو څخه وه، د زید بن ثابت په نکاح کې وه کله چې هغه طلاقه کړه، د هجرت په پنځم کال د ذوالقعدې په میاشت کې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ورسره نکاح وکړه په دغه وخت کې دا د پنځه ویشتو کلونو په عمر وه او دغه آیت شریف د دې په حق کې نازل شو، (وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَراً زَوَّجْنَاكَهَا) الآية، الله تعالی پرته له شاهد او پرته له ولي څخه په خپل قول باندې د دې مبارکې نکاح له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) سره وتړله، چې دې به په همدې خبره فخر کاوه او نورو بی بیانو ته به یې ویل، چې ستاسو نکاح ستاسو کورنیو تړلې او زما نکاح له عرشه پورته الله تعالی تړلې ده. بي بي زینب ډېره پرهیزګاره او ډېره صدقه کوونکې ښځه وه، په همدې خاطر یې هغې ته ام المساکین ویلې. د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) له وفات څخه وروسته اولنۍ بي بي وه چې له هغه وروسته وفات شوېده. د هجرت په شلم کال د عمر (رضی الله عنه) په خلافت کې وفات شوه او عمر (رضی الله عنه) ورباندې د جنازې لمونځ وکړ. مرجع: الذهبی، **سیرأعلام النبلاء**، ج: ۲، ص: ۲۱۱ ، ۲۱۲، ۲۱۷.

٦ **کابلی تفسیر**، ج: ۲، ص: ۶۸۴.

۷ البخاری، **صحیح البخاری:** ج: ۳، ص: ۲۳، حدیث نمبر: ۱۹۰۵، باب: الصوم لمن خاف علی نفسه العزبة.

**اول: د احنافو مذهب همداراز ابوثور(۱) او امام ثوري (۲) هم ورسره دي.**

**دوی وايي: د نکاح عقد لکه څرنګه چې د نکاح او تزويج په الفاظو سره صحيح کيږي، همدارنګه په داسې الفاظو باندې هم صحيح کيږي، چې د يو شي ملکيت فی الحال ثابتوي. لکه هبه، تمليک، صدقه او بيع اما داسې الفاظ چې فی الحال ملکيت نه ثابتوي لکه اجاره، اباحت او وصيت نو پداسې الفاظو باندې نکاح نه صحيح کيږي. (۳)**

**دلائل: ۱- الله تعالی فرمايي: «وَامۡرَأَةً مُؤۡمِنَةً إِنۡ وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنۡ يَسۡتَنۡكِحَهَا خَالِصَةً لَکَ». (٤)**

**ژباړه: هغه مؤمنه ښځه چې ځان وبښي نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته، نو که چېرې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) اراده وکړي چې دغه ښځه په نکاح کړي، نو دا کار يواځې تاته جائز دی. (٥)**

**استدلال: دلته الله تعالی د هبې په لفظ باندې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته ښځه حلاله کړه او هر هغه شی چې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته روا وي، نو امت ته روا کېږي؛ تر هغه چې د اختصاص دليل نه وي راغلی.**

**۲ – له سهل بن سعد الساعدي (٦) څخه روايت دی، چې يوه ښځه نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته راغله او ورته يې وويل: ما خپل ځان تاته هبه کړی، نو نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) هغه ښځه يو نفر ته په نکاح کړه او داسې يې ورته وفرمايل: (اذۡهَبۡ فَقَدۡ مَلَّكۡتُكَهَا بِمَا مَعَکَ مِنۡ الۡقُرۡآنِ). (۷)**

**ژباړه: لاړ شه ته مې د دې ښځې مالک کړې د هغه شي مقابل کې چې له تا سره دي له قرآنکريم څخه.**

---

۱ ابوثور: امام ابراهيم بن خالد بن ابی اليمان البغدادی دی، د عراق مفتی وو اسم کنيه يې أبو عبدالله ده او په ابو ثور الفقيه باندې مشور وو، په ۱۷۰هـ، ۷۸۶م ، کال کې پيدا شوی، د يو مستقل مذهب امام وو اما مذهب يې ځکه مشهور نشو چې اتباع کوونکي او کومک کوونکي يې له مينځه ولاړل، او په بغداد کې په ۲۴۰هـ ، ۸۵۸م ، کال کې وفات شو. مرجع: الذهبی، **سيرأعلام النبلاء**، ج: ۱۲، ص: ۷۲.

۲ امام ثوری: سفيان بن سعيد بن مسروق الثوری دی، نسبت يې ثور بن عبد مناة ته شوی چې د مضر له قبيلو څخه يوه قبيله وه ، يو د أعلامو د ائمه وو څخه وو، د کوفی او د عراق امام وو، د تبع تابعينو له جملې څخه وو، ابن عيينه د دې په حق کې وايي: ما بغير له ده نه بل څوک په حلال او حرامو باندې پوه کس نه دی ليدلي، په ۹۷هـ کال کې پيدا او په ۱۶۱هـ کې وفات شوی. مرجع: الذهبی: **سيراعلام النبلاء**، ج: ۷، ص: ۲۳۰.

۳ السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة (وفات: ۴۸۳هـ)، **المبسوط**، بيروت : دار المعرفة ، کال: ۱۴۱۴هـ - ۱۹۹۳م، ج: ۵، ص: ۶۰. / او الحنفي، أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري (وفات: ۶۱۶هـ)، **المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه**، طبعه: ۱، بيروت – لبنان: دار الکتب العلمية، کال: ۱۴۲۴ هـ - ۲۰۰۴ م، ج: ۳، ص: ۶. / او الزيلعي الحنفي: **تبيين الحقائق شرح کنز الدقائق**، ج: ۲، ص: ۹۶.

٤ سورة الاحزاب: ايت: ۵۰.

٥ **کابلی تفسير**، ج: ۲، ص: ۶۹۲.

٦ ابو العباس سهل بن سعد بن سعد الخزرجي، الانصاري، الساعدي. پلار يې هم صحابي و، د نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) په ژوند وفات شو. دی د نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم) د وفات په وخت کې پنځلس کلن و. ګڼ شمير احاديث يې روايت کړي، آخري صحابي و چې په مدينه منوره کې وفات شو، د هجرت په ۹۱ کال او ابو نعيم – د امام بخاري استاد دی- ويلي چې په ۸۸ کال کې وفات شوی. مرجع: الذهبی: **سيراعلام النبلاء**، ج:۳،ص: ۴۲۲ او ۴۲۳.

۷ البخاري، **صحيح البخار**، ج: ۷، ص: ۶، حديث نمبر: ۵۰۸۷، بَاب تَزْوِيجِ الْمُعْسِرِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى { إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمْ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ }.

له پورتني حديث شريف څخه معلوميږي چې د هبې او تمليک په الفاظو د نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) په وخت کې هم نکاح کيدله، همدغه حديث شريف په همدې خبره ښکاره دليل ده.

**۳ – د نکاح او تزويج په الفاظو ځکه نکاح صحيح کېږي، چې دغه الفاظ د ازدواج په خاطر وضع شوي دي،اما له دغو الفاظو سره هغه ملکيت چې شرعا لازم دی، په نکاح کې ضمنا ثابتيږي. ځکه ازدواج بغير له ملکيت څخه نه صحيح کېږي، نو که څوک د تمليک په لفظ سره نکاح وکړي، په دغه لفظ سره اصلا ملکيت ثابتيږي او ضمنا ورسره ازدواج هم ثابتيږي. (په نکاح کې دوه اصله دي يو ازدواج او بل ملکيت) نو راضي کېدل په يو اصل باندې راضي کېدل په بل باندې هم دي. (۱)**

**دويم:** د شافعيانو(۲) او حنابله و(۳) مذهب او همدارنګه سعيد بن مسيب (٤) او عطاء بن ابي رباح(٥) هم ورسره دي.

**دوی وايي: د نکاح عقد بغير د نکاح، تزويج او هغه الفاظ چې له دې دواړو نه مشتق وي په نورو الفاظو نه صحيح کيږي.**

**دلائل: ۱– په قرآنکريم کې چې هر ځای نکاح ياده شوې، نو يا په لفظ د نکاح سره يا هم په لفظ د تزويج سره ياده شوې، صرف يو ځای کې چې د هبې په لفظ ياده شوې:**

**الله تعالی فرمايي:«وَامۡرَأَةً مُؤۡمِنَةً إِنۡ وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنۡ يَسۡتَنۡكِحَهَا خَالِصَةً لَكَ».(٦)**

**ژباړه: هغه مؤمنه ښځه چې ځان وبښي نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته، نو که چېرې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) اراده وکړي چې دغه ښځه په نکاح کړي، نو دا کار يوائې تاته جائز دی. (۷) دا د نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) خصوصيت دی.**

---

١ الکاساني، الحنفي: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد (وفات: ٥٨٧هـ) **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**، ط: ٢، الناشر: دار الكتب العلمية ، ١٤٠٦هـ - ١٩٨٦م، ج: ٢، ص: ٢٣٠.

٢ الرملی، **نهاية المحتاج الى شرح المنهاج**، ج: ۶، ص: ٢١١. / او البكري، الشافعي، **إعانة الطالبين على حل ألفاظ فتح المعين**، ج: ٣، ص: ٢٧۴.

٣ ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، (وفات: ۶٢٠هـ)، **المغني لابن قدامة**، مصر، مكتبة القاهرة، كال: ١٣٨٨هـ - ١٩۶٨م، ج: ٧، ص: ٧٨.

٤ سعيد بن مسيب: حزن بن مخزوم القرشی المخزومي دی، د مشهورو تابعينو او اوو فقهاؤو څخه دی، د عمر(رضی الله عنه) د خلافت څخه دوه کاله وروسته پيدا شوی، د زياتو صحابه وو څخه يې احاديث اوريدلي ، ابن عمر(رضی الله عنه) د ده په حق کې داسی وايی: سعيد بن مسيب يو له مفتيانو څخه وو، په ٩۴هـ ٧١٢ م کال کي وفات شوی. مرجع: العسقلاني، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر (وفات: ٨٥٢هـ)، **تهذيب التهذيب**، طبعه ١، الهند: مطبعه دائرة المعارف النظامية، كال: ١٣٢۶هـ، ج: ۴، ص: ٨۶.

٥ عطاء: ابن أبی رباح ده اسم کنيه يې أبو محمد وه، د تابعينو له جملې څخه وو، د مکي مکرمې د لويو فقهاوو له جملې څخه وو ، امام اوزاعی د ده په حق کې وايي: په داسې ورځ مړ شو چې د زمکې خلک ترينه ډير راضی ول، له ډيرو صحابه وو څخه يې احاديث روايت کړي لکه ابن عباس، ابوهريره او ابو سعيد الخدری، او له ده څخه هم زياتو راويانو احاديث روايت کړي، په ٢٧هـ ۶٥۴م کال په جند کې پيداشوی او په ١١٥هـ ٧٣٣ م کال کې وفات شوی دی او ټول عمريې ٨٨ کاله وو. مرجع: العسقلاني، **تهذيب التهذيب**، ج: ٧، ص: ١٩٩- ٢٠٣.

٦ سورة الاحزاب: ايت: ٥٠.

٧ **کابلی تفسير**، ج: ٢، ص: ۶٩٢.

**٢ – له جابر بن عبدالله (رضی الله عنه) (١) څخه روایت دی چې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: (...فاتقوا الله في النساء، فإنكم أخذتموهن بأمان الله، واستحللتم فروجهن بكلمة الله...). (٢)**

**ژباړه: د ښځو باره کې له الله تعالی نه ویریږئ، ځکه هغوی ستاسو سره د الله تعالی امانت دي او د هغوی فرجونه (مخصوص اندام) چې تاسو ته حلال شوي هغه د الله په قول باندې دي.**

**استدلال: دغه حدیث شریف کې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) په ښکاره ډول ویلي دي، چې د ښځو فرجونه (مخصوص اندام) چې روا شوی هغه د الله تعالی په قول باندې ده او دالله تعالی قول په قرآنکریم کې یا د نکاح لفظ ده او یا هم د تزویج نو ځکه په بل لفظ باندې نکاح نه صحیح کیږي.**

**٣ – قیاس هم دا تقاضا کوي چې نکاح دې په نورو الفاظو باید صحیح نشي، ځکه نکاح یو نوعه عبادت دی، نو په لفظ د اباحت، تملیک او هبه سره نه صحیح کیږي. پاتې شوه دا خبره چې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ته د هبې به لفظ روا شوې، نو هغه د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) خصوصیت دی، لکه څرنګه چې الله تعالی په ښکاره ډول ذکر کړي: «خَالِصَةً لَکَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ». (٣)**

**دریيم: د مالکیانو مذهب:**

**دوی وايي: د نکاح عقد لکه څرنګه چې د نکاح او تزویج په الفاظو صحیح کیږي، همدارنګه د هبې په لفظ هم صحیح کیږي، خو په دې شرط چې مهر ورسره ذکر شي، په دې خاطر چې د مهر ذکر قرینه شي، چې له دغه لفظ څخه ازدواج مراد دي، یعنې که مهر ورسره ذکر نه شي، نو د نکاح عقد نه صحیح کیږي. (٤) او د دوي دلیل هم د احنافو دلیل دی.**

**راجح قول: په دې مسئله کې د احنافو دلیل قوي دی، ځکه دوی په مسئله کې عمیق نظر کړی، هغه داسې چې دوی وایي: نکاح د هبې په لفظ ځکه صحیح د، چې الله تعالی په قرآنکریم کې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ته د هبې په لفظ ښځه حلاله کړې: «وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا». (٥) او قاعده داده: چې هر هغه شی چې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ته روا وي، نو امت**

---

١ جابر بن عبدالله بن عمرو بن حرام السلمي، امام، مجتهد، حافظ، فقیه او په بیعة الرضوان کې هم موجود وو. له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) څخه یې زیات علم روایت کړی، له عمر، ابو بکر، علی، ابو عبیده، معاذ بن جبل زبیر او داسې نور صحابه و څخه یې احادیث روایت کړي دي، همداراز ابن المسیب ، عطاء بن ابی رباح، سالم بن ابی الجعد، حسن بصري، حسن بن محمد بن الحنفیة ، ابو جعفر الباقر، محمد بن المنکدر، سعید بن میناء او داسې نورو راویانو له ده څخه احادیث روایت کړی دي. په خپل وخت کې د مدینې منورې مفتي و. د ٩٤ کلونو په عمر د هجرت په ٧٨ کال وفات شو. مرجع: الذهبی: **سیراعلام النبلاء**، ج: ٣، ص: ١٨٩- ١٩٢ .

٢ النیسابوري، **صحیح مسلم**، ج: ٢، ص: ٨٨٦، حدیث نمبر: ١٢١٨، باب حجة النبي صلی الله علیه وسلم.

٣ سورة الاحزاب: ایت: ٥٠.

٤ الخرشي، المالکي، محمد بن عبد الله أبو عبد الله (المتوفی: ١١٠١هـ)، **شرح مختصر خلیل للخرشي**، بیروت: دار الفکر للطباعة، ب ت ، ج:٣، ص: ١٧٣.

٥ سورة الاحزاب: ایت: ٥٠.

**ته هم روا کيږي، تر څو د اختصاص دليل نه وي راغلی. د شافعيانو او حنابله وو له طرفه اعتراض کيږي چې دلته خو د اختصاص دليل شته: الله تعالی په ښکاره ډول ذکر کړي: «خَالِصَةً لَکَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ».**

**د احنافو جواب: دلته کوم اختصاص چې دی هغه د هبې په لفظ کې نه دی، بلکې په دې کې دی چې نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) ته ښځه بغير له مهر څخه روا ده او دا خبره له همدې آيت شريف نه معلوميږي: (١)**

**اول: په همدغه آيت شريف کې وروسته ذکر دي: «قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ ». (٢)**

**ژباړه: موږ پوهيږو په هغه حکم چې مقرر کړی موږ په دوی باندې په حق د ښځو کې(مهر). (٣) نو معلوم شو چې دغه آيت شريف کې د نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) له پاره خالص والی په هغه نکاح کې دی، چې له مهر نه خالی وي، نه داچې د هبې په لفظ کې.**

**دويم: له دغه جملې نه وروسته په همدغه آيت شريف کې بيا الله تعالی فرمايي: «لِکَيْلَا يَکُونَ عَلَيْکَ حَرَجٌ». (٤)**

**ژباړه: د دې له پاره چې پر تا باندې تکليف او حرج نه وي. (٥) په دې جمله کې الله تعالی په ښکاره ډول ويلي دي، چې په تا باندې تکليف او حرج نه وي، نو معلومه خبره ده چې تکليف او حرج د مهر په ورکولو کې دی نه په الفاظو کې.**

**درېيم: الله تعالی دا قول د احسان په شکل ذکر کړی او احسان دادی، چې په نکاح کې مهر لازم نه وي ځکه مهر ورکول ښځې ته يو نوع مشقت او تکليف دی او احسان هغه وخت کېږي، چې يو انسان له تکليف څخه معاف يا خلاص کړي، نه داچې يو چاته خالي الفاظ استعمال کړې؛ نو معلومه شوه چې دلته د نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) تخصيص په هغه نکاح کې دی، چې له مهر نه خالي وي، نه داچې د هبې په لفظ خاص نبي کريم(صلی الله عليه وسلم) ته نکاح روا شي او نورو ته نه.(٦)**

---

١ الزيلعي، **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق**، ج: ٢، ص: ٩٧. / او الكاساني، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**، ج: ٢، ص: ٢٣٠. / او الحنفي، سراج الدين عمر بن إبراهيم بن نجيم (وفات ١٠٠٥هـ)، **النهر الفائق شرح كنز الدقائق**، طبعه: ١، دار الكتب العلمية، كال: ١٤٢٢هـ - ٢٠٠٢م، ج: ٢، ص: ١٧٩.

٢ سورة الاحزاب: ايت: ٥٠.

٣ **كابلی تفسير**، ج: ٢، ص: ٦٩٢.

٤ سورة الاحزاب: ايت: ٥٠.

٥ **كابلی تفسير**، ج: ٢، ص: ٦٩٢.

٦ الكاساني، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**، ج: ٢، ص: ٢٣٠. / او السرخسي، **المبسوط**، ج: ٥، ص: ٥٩ - ٦٠./ او الغزنوي، عمر بن إسحق بن أحمد الهندي، أبو حفص الحنفي (وفات: ٧٧٣هـ)، **الغرة المنيفة في تحقيق بعض مسائل الإمام أبي حنيفة**، طبعه: ١، مؤسسة الكتب الثقافية، كال: ١٤٠٦-١٩٨٦ هـ، ج: ١، ص: ١٣٧.

پاتې شوه د حديث شريف خبره چې هلته له (كلمة الله) لفظ نه شافعيانو او حنابله وو قول مراد کړی و، صحيح استدلال نه دی، ځکه که څوک هغه نکاح ته چې پرته د نکاح او تزويج له الفاظو څخه په نورو الفاظو وتړله شي، نکاح بغير کلمة الله وواييي، نو دا سمه نه ده، ځکه کلمة الله دا احتمال هم لري چې مراد ورڅخه حکم الله يعنې د الله تعالى حکم شي، نو هرکله چې احتمال راشي استدلال باطليږي.(۱)

## څلورم مطلب: د نکاح شرطونه

دا مطلب په دوه فرعو باندې مشتمل دی، لومړۍ فرعه کې مې د شرط لغوي او اصطلاحي معنا ذکر کړې، په دويمه فرعه کې مې د نکاح شرطونه ذکر کړي چې په شرطونو کې مې د انعقاد شرطونه، د نافذيدو شرطونه، د صحت شرطونه، د لزوم شرطونه او همدا رنګه د افغانستان په مدني قانون کې د نکاح شـــرطونه ذکر کړي، نو اوس راځم اولې فرعې ته.

### لومړۍ فرعه: دشرط لغوي او اصطلاحي معنا

شَرْط په سکون د را سره په لغت کې په معنى د الزام يا التزام د شي سره راغلی که په بيع کې وي يا په نورو شيانو کې، (۲) اما په فتحې د را سره (شَرَط) بيا په معنا د علامې سره ده او جمع يې شروط او اشراط راځي،الله تعالى فرمايي: «فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا». (۳)

ژباړه: په تحقيق سره د قيامت علامې راغلي دي. (٤) همداراز په معنى د اول د شي سره او په معنى د رذيل او خراب سره هم راځي، لکه چې ويل کيږي: (شَرَطُ الناس) يعنې رذيل د خلکو. (٥)

شرط په اصطلاح کې: (هو تعليق شيء بشيء، بحيث إذا وجد الأول وجد الثاني، وقيل: الشرط: ما يتوقف عليه وجود الشيء، ويكون خارجًا عن ماهيته، ولا يكون مؤثرًا في وجوده). (٦)

---

۱ الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**، ج: ۲، ص: ۲۳۰.
۲ (إبراهيم مصطفى / أحمد الزيات / حامد عبد القادر / محمد النجار)، **المعجم الوسيط**، دار الدعوة، ب ت ، ج: ۱، ص: ۴۷۸.
۳ سورة محمد: آيت: ۱۸.
٤ **کابلی تفسير**، ج: ۲، ص: ۱۱۶۱.
٥ الزَّبيدي، محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقب بمرتضى، (المتوفى: ۱۲۰۵هـ)، **تاج العروس من جواهر القاموس**، دار الهداية، ب ت ، ج: ۱۹، ص: ۴۰۴- ۴۰۵.
٦ الجرجاني، **التعريفات**، ص: ۱۲۵.

ژباړه: شرط معلق کول د یو شي دي په بل شي پورې، په داسې شکل چې که اول موجود شي دویم هم موجودېږي. ځینو داسې ویلي: شرط هغه شي ته ویل کېږي، چې وجود دشي هغه پورې موقوف او تړلی وي او په حقیقت دشي کې داخل نه وي او په وجود د شي کې مؤثر هم نه وي، لکه اودس د لمانځه له پاره چې د لمانځه صحیح کېدل په اوداسه پورې معلق دي اما د لمانځه په حقیقت کې داخل نه دی او همدا رنګه د لمانځه په وجود کې مؤثر هم نه دی، په دې معنا چې هر کله اودس وشي نو لازم نه دي چې لمونځ دې هم وشي، ځکه داسې ممکن دي چې اودس وشي اما د لمانځه وخت نه وي، نو لمونځ نه کېږي.

## دویمه فرعه: د نکاح شرطونه

د هرعقد له پاره څلورقسمه شرطونه وي: اول ــ د انعقاد شرطونه، دویم ــ د نافذیدو شرطونه، درېیم ــ د صحت شرطونه او څلورم ــ د لزوم شرطونه، چې نکاح هم یو له عقودو څخه دی او دغه شرطونه لري.

**الف: د انعقاد شرطونه:** دا هغه شرطونه دي، چې د ده پوره کول په عقد کې لازم دي او که یو له دغو شرطونو څخه په عقد کې نه وي، نو عقد په اتفاق د ټولو علماوو سره باطل ګڼل کېږي. (۱)

په دې کې یوشرط عاقد ته (هغه کس چې د نکاح عقد ترسره کوي) راجع دی او بل د عقد مکان ته.اول هغه شرط چې عاقد ته راجع دی:

۱ – د تصرف اهلیت: له دې نه مراد عقل دی، یعنې عاقد باید دا وړتیا ولري چې خپل ځان ته یا بل چا ته عقد وکړای شي، چې دا وړتیا په تمیز ( دښو او بدو تر منځ فرق کولو) سره په انسان کې راځي، نو د لیوني او عاقل غیر ممیز عقد نه صحیح کېږي.

۲ – بل هغه شرط چې د عقد مکان یا ځای ته راجع کیږي: عبارت ده د اتحاد المجلس څخه یعنې په کوم ځای کې چې ایجاب وشي قبول هم باید په هماغه ځای کې وشي، البته دا په هغه صورت کې چې دواړه عاقدین حاضر وي. (۲)

---

[1] الزحیلی، استاد دکتور وهبة، **الفقه الاسلامی و ادلته:** طبعه: ۴ ، دمشق، دار الفکر، کال : ۱۴۳۳هـ ، ۲۰۱۲م، ج: ۹ ص: ۶۵۳۳.
[2] الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع**، ج: ۲، ص: ۲۳۲.

**د انعقاد شرطونه په صیغه (ایجاب او قبول) کې**

**۱ – ایجاب او قبول باید په مخصوصو الفاظو سره وي، یا صریح الفاظ او یا هم کنایي الفاظ.**

**صریح الفاظ: د نکاح او تزویج الفاظ صریح دي او همداراز هغه الفاظ چې له دغو کلمو نه مشتق وي هم صریح دي، برابره خبره ده که د ماضي په لفظ سره وي یا د مضارع په دې شرط چې په حال باندې دلالت وکړي؛ خو چې د وعدې الفاظ نه وي او همدا رنګه د امر په لفظ سره هم صحیح کېږي.**

**کنایي الفاظ: هغه الفاظ چې فی الحال ملکیت د یو شي ثابتوي؛ خو په داسې الفاظو کې نیت ته ضرورت وي، یا هم داسې قرینه موجوده وي، چې په نیت باندې دلالت وکړي، لکه د هبې، صدقې، تملیک، بیع او د شراء الفاظ چې په دغو الفاظو سره که چېرې نکاح وشي، نو د ازدواج نیت پکې شرط دی. اما د اجارې، وصیت، اباحت، اعاره او رهن په الفاظو سره نکاح بلکل نه صیحیح کېږي، ځکه دغه الفاظ د یو شي ملکیت فی الحال نه ثابتوي. (۱)**

**۲ – قبول باید له ایجاب سره موافق وي: په دې معنا چې ایجاب د چا په حق کې وشي نو قبول هم باید د هماغه په حق کې وشي،یعنې که څوک ایجاب د یوې ښځې وکړي او قبول د بلې ښځې نو نکاح نه صحیح کېږي.**

**۳ – ایجاب او قبول باید په یو مجلس کې وي، یعنې چې کله یو طرف ایجاب وکړي، نو مخکې له دې چې دغه مجلس بدل شي (یوطرف د عقد له مجلس څخه پورته شي یا دا سې یو کار وکړي چې د مجلس د ختمیدو لامل وګرځي) بل طرف باید قبول وکړي.**

**دغه شرط د مکان په اړه هم ذکر شو، زما په نظر دا شرط دوه اړخه لري، یو یې د مکان بل یې د هغه کار په اړه چې په همدغه مکان کې ترسره کېږي (ایجاب او قبول) نو د دواړو اړخونو ته کتل شوي ځکه یې په دواړه ځایونو کې ذکر کړ.**

**۴ – قبول باید له ایجاب سره متصل وي: په دې معنا چې کله ایجاب وشي، نو د قبول تر وخته باید داسې کار ونه شي چې د مجلس د بدلیدو یا اعراض علامه وي، لکه مجلس نه پورته کیدل یا په بل کار باندې مصروف کیدل. (۲)**

---

۱ المرغیناني، ابوالحسن برهان الدین علی بن ابی بکر، **الهدایة شرح بدایة المبتدی**، ط: ۳، القاهره، دار السلام، کال: ۱۴۳۳هـ، ۲۰۱۲م ، ج ۲ ، ص ۴۵۹-۴۶۰.
۲ ابن عابدین، **رد المحتار علی الدر المختار**، ج: ۳، ص: ۱۴.

### ب: د نافذېدو شرطونه

دا هغه شرطونه دي چې د عقد مرتبه آثار په دې پورې موقوف دي يعنې كه يو له دغه شرائطو څخه په عقد كې نه وي نو عقد به موقوف وي.(١) دا شرطونه په لاندې ډول دي:

١ – بلوغ: دا شرط د نافذېدو له شرطونو څخه دی. كه يو ماشوم چې عاقل وي اما بالغ نه وي او نكاح وكړي، نو د نكاح عقد يې صحيح دی، اما نافذ نه دی، بلكې د دې نكاح نافذېدل د ولي تر اجازې پورې موقوف دي. كه ولي اجازه وكړه نكاح به صحيح وي او كه اجازه يې ونه كړه نو نكاح هم نه صحيح كېږي. د دغې نكاح نافذېدل د ولي تر اجازې ځكه موقوف دي چې ولي د ماشوم په مصلحت ښه پوهېږي له هغه نه، ځكه چې ماشوم د كم فكر او كمې تجربې په اساس په خپلو مصالحو ښه نه پوهېږي. (٢)

٢ – آزاد والی: يعنې د غلام نكاح نه صحيح كيږي، كه عاقل او بالغ هم وي، ترڅو سيد يا بادار اجازه ورته ونه كړي، ځكه چې له جابر بن عبدالله څخه روايت دی، چې نبی كريم (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: «أيما عبد تزوج بغير إذن سيده فهو عاهر» (٣)

ژباړه: هر هغه غلام چې د خپل سيد يا بادار له اجازې پرته نكاح وكړي، نو هغه زنا كار دی. مطلب دادی، چې نكاح يې نه صحيح كيږي، نو ځكه ورته زنا كار ويلی شوی. (٤)

### ج: د صحت شرطونه

دا هغه شرطونه دي چې د نكاح شرعي آثارو مرتب كېدوله پاره د دې وجود لازمي دی، يا په بل تعبير سره چې د نكاح د عقد د صحت له پاره دغه شرطونه ضروري دي، نوكه له دغو شرطونو څخه كوم يو موجود نه شي، د احنافو په نزد عقد فاسد او د جمهورو په نزد باطل دی. (٥) چې په لاندې ډول دي:

١ – عدم محرميت: يعنې د ښځې نكاح بايد له سړي حرامه نه وي، نه ابدي حرامه وي او نه موقته، لكه: خور، مور، ښينه، د بل كس طلاقه شوي په عدت كې چې په سړي باندې نكاح حرامه ده، يا داسې نورې اګركه ځينو ابدي حرامه د انعقاد په شرطونو كې ذكر كړې ده. (٦)

---

١ الزحيلی، **الفقه الاسلامی و ادلته**، ج: ٩ ص: ٦٥٣٣.
٢ الكاساني، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**، ج: ٢، ص: ٢٣٣.
٣ الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، (وفات: ٢٧٩هـ) **سنن الترمذي**، تحقيق: بشار عواد معروف، ناشر: بيروت - دار الغرب الإسلامي، كال: ١٩٩٨م، د حديث نمبر: ١١١٢، باب ما جاء في نكاح العبد بغير إذن سيده، ج: ٣، ص: ٤١١. امام ترمذي ويلي، چې دا حديث حسن او صحيح دی.
٤ الكاساني، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**، ج: ٢، ص: ٢٣٣.
٥ الزحيلی، **الفقه الاسلامی و ادلته**، ج: ٩ ص: ٦٥٣٣، / او ابن عابدين، **رد المحتار على الدر المختار**، ج: ٣، ص: ١٣١.
٦ اسامة ذيب مسعود، **أثرالاجبار في عقد النكاح دراسة مقارنة بين المذاهب الفقهية الأربعة وقانون الأحوال الشخصية الأردني**، د ماستري رساله د نجاح خصوصي پوهنتون، فلسطين ، په ٢٠٠٦، ١٤٢٧هـ كې.

۲ – د ایجاب او قبول الفاظ باید تر یو وخت پورې مؤقت نه وي، لکه میاشت، کال او داسې نور، نو که یو نفر نکاح د تمتع په لفظ سره وکړي مثلا داسې ووايي: أتمتع بکِ إلی شهر کذا، زه له تاسره تمتع کوم (له تا نه ګټه اخلم) تر فلانۍ میاشت پورې یا یې تر یو مؤقت وخت پورې نکاح وکړه او وخت یې تعین نه کړ، دا نکاح باطله ده او نه صحیح کیږي.(۱)

۳ – شاهدان باید حاضروي: که نکاح کې شاهدان نه وي نو نکاح نه صحیح کیږي، له عائشې (رضی الله عنها) څخه روایت دی چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: « لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ وَشَاهِدَيْ عَدَلٍ ». (۲)

ژباړه: نکاح نه صحیح کیږي مګر د ولي او دوه نفره عادله شاهدانو په حضور کې.

بل داچې د شاهدانو په حضور باندې نکاح نوره هم دوامداره کیږي، یعنې که د زوجینو ترمنځ د نکاح په باره کې اختلاف راشي او یو ترې انکار وکړي، نو دهمدې شاهدانو په ذریعه بل طرف کولای شي چې د همدې نکاح په عقد باندې شاهدي ورکړي.همدا رنګه ویلی شو چې په همدې شاهدانو باندې د زنا تهمت هم لرېکیږي، یعنې که یو څوک په ښځه او مېړه باندې د زنا تهمت ولګوي چې دوی دواړو زنا وکړه نو زوجین کولای شي چې د همدې شاهدانو په واسطه دغه تهمت لرې کړي. (۳)

۴ – رضایت له دواړو طرفونو څخه: یعنې که په یو د عاقدینو باندې اجبار وشي یعنې په زوره نکاح ورباندې وشي، نو نکاح نه صحیح کیږي،البته دا شرط د جمهورو په نزد دی او احنافو دا شرط په نکاح کې نه دی ذکرکړی، چې تفصیل به یې په راتلونکي مبحث کې د اجبار تأثیرات په قولي تصرفاتو کې ذکر کړم انشاءالله.

**د: د لزوم شرطونه**

دا هغه شرطونه دي چې د عقد باقي پاتېکېدل او دوام تر هغه پورې موقوف دي، یعنې که یو شرط له دغو شرطونو څخه نه وي، نو د نکاح عقد به لازم نه وي، یعنې یو د عاقدینو یا بل کس هم کولای شي چې عقد فسخ کړي، (٤) چې دا شرطونه په لاندې ډول دي.

---

۱ الزحیلی، **الفقه الاسلامی و ادلته**، ج: ۹ ص: ۶۵۳۴.
۲ البیهقی، **السنن الکبری**، حدیث نمبر: ۱۳۷۱۹، باب لا نکاح إلا بشاهدین عدلین، ج: ۷، ص: ۲۰۲. امام الباني ویلي، چې دا حدیث صحیح دی.
۳ ابن نجیم، **البحر الرائق شرح کنز الدقائق**، ج ۳ ، ص۱۵۶.

٤ الزحیلی، **الفقه الاسلامی و ادلته**، ج: ۹ ص: ۶۵۳۳.

**۱ – په اولیاوو کې د پلار یا نیکه شتون: د هغه عاقد له پاره چې اهلیت د عقد بلکل ونه لري، لکه لیونی یا معتوه (بې عقل چې په ښه او بد نه پوهېږي) یاخو اهلیت ولري اما ناقص وي لکه وړوکی هلک یا وړه نجلۍ، نو که د دغو کسانو نکاح پرته د پلار او نیکه څخه بل ولي کړې وي، نو د مانع لرې کېدو په صورت کې (له لیونتوب څخه جوړیدل یا هم بالغ کېدل) هر یو اختیار لري چې دغه عقد د نکاح فسخ کړي.**

**۲ – مېړه باید د ښځې کفو یا سیال وي: که یوې آزادې عاقلې او بالغې نجلۍ پرته د ولي له رضایت څخه خپله ځان په نکاح ورکړي دا نکاح صحیح کېږي اما که مېړه د ښځې کفو یا سیال نه وو نو ولي کولای شي چې دغه نکاح فسخ کړي.**

**۳ – د ښځې مهر باید د مهر مثل نه کم نه وي: په همدې تېرشوي صورت کې که د ښځې مهر له مهرمثل څخه کم وي، نو ولي د اعتراض حق لري او د ښځې مهر تر مهر مثل پورې هم رسولی شي یا نکاح هم فسخ کولای شي.**

**۴ – مېړه باید له عیبونو څخه پاک وي: که مېړه مجبوب وي (ذکریې قطع وي) یا عنین وي (د جماع وړتیا پکې نه وي) یا خصي وي یا نرښځی وي، نو ښځه په داسې حالاتو کې کولای شي چې دغه د نکاح عقد فسخ کړي. (۱)**

**هـــ : د افغانستان په مدني قانون کې د نکاح شرطونه**

**د افغانستان مدني قانون د ایجاب او قبول په اړه داسې وایي:**

**٦٦ ماده: د ازدواج عقد په صریح ایجاب او قبول سره چې فوریت او استمرار افاده کړي،پرته د وخت له قید څخه په یو مجلس کې صورت مومي.**

**٦٧ ماده: ازدواج چې د غیر محقق شرط پورې معلق وي یا راتلونکې زمانې ته مضاف وي عقد نه شي کیدای. (۲)**

**او د نکاح د صحت او نافذیدو شرطونو په اړه داسې وایي:**

**٧٧ ماده: د نکاح د عقد د صحت د پاره او د هغې د نافذیدو د پاره لاندیني شرطونه لازم دي:**

---

۱ الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع**، ج: ۲، ص: ۳۲۷، / او المرغینانی، **الهدایة شرح بدایة المبتدی**، ج: ۲، ص: / او ابن الهمام، **شرح فتح القدیر**، ج: ۳، ص: ۱۹۳.

۲ **مدنی قانون:** ۶۶ ماده او ۶۷ مادې .

۱ – د عقد د دواړو خواوو یا د هغوی د ولیانو یا وکیلانو په وسیله د صحیح ایجاب او قبول تر سره کول.

۲ – د اهلیت لرونکو دوه شاهدانو حضور.

۳ – د نکاح کوونکي او نکاح کیدونکې تر منځ د دایمي یا مؤقتي حرمت نشتوالی. (۱)

## پنځم مطلب: د نکاح اقسام

نکاح پنځه قسمه ده او اقسام یې له شرطونو څخه په ډاګه کیږي یعنې: اول: هغه نکاح چې د هغې ارکان، او ټول شرطونه پوره وي چې عبارت دي له: د انعقاد شرطونه، د صحت شرطونه، د نافذیدو شرطونه او د لزوم شرطونو څخه صحیحه لازمه نکاح بلل کیږي، لکه پلار خپله لور د هغې په خوښه یو نفر ته د مهر مقابل په نکاح ورکړي.

دویم: هغه نکاح چې د هغې ارکان او نور ټول شرطونه پوره وي، اما د لزوم له شرطونو څخه یو شرط پکې نه وي موجود صحیحه غیر لازمه نکاح بلل کیږي، لکه یوه ښځه یو سړي سره واده وکړي اما له واده وروسته معلوم شي چې سړی مجبوب دی یعنې ذکر یې قطع دی، او یا عنین دی یعنې د جماع وړتیا پکې نشته.

دریم: هغه نکاح چې د هغې ارکان او نور ټول شرطونه پوره وي اما د نافذیدو له شرطونو څخه یو شرط پکې نه وي موجود موقوفه نکاح بلل کیږي، لکه یو وړوکی هلک چې په ښه او بدو پوهیږي اما بالغ نه وي په خپل سر خپل ځان ته نکاح وکړي.

څلورم: هغه نکاح چې د هغې ارکان او نور ټول شرطونه پوره وي اما د صحت له شرطونو څخه یو شرط پکې نه وي موجود فاسده نکاح بلل کیږي، لکه یو سړی له خپلې خور، مور یا داسې ښځې سره نکاح وکړي چې نکاح یې دغه سړي ته حرامه وي.

---

۱ **مدني قانون:** ۷۷ ماده.

پنځم: هغه نکاح چې د هغې یو رکن له ارکانو څخه یا هم د انعقاد له شرطونو څخه یو شرط پکې نه وي موجود، لکه نکاح پرته له ایجاب، یا پرته له قبول څخه، یا خو په نکاح کې ایجاب او قبول وشي اما د ایجاب او قبول مجلس یو نه وي، یا ایجاب او قبول د یوې ښځې په اړه ونه شي یا هم د ایجاب او قبول زمانه یوه نه وي، د احنافو په نزد دا قسم نکاح باطله بلل کېږي، اما لکه څرنګه چې مخکې مې د نکاح د صحت په شرطونو کې وویل د جمهورو په نزد باطله نکاح هغه ده چې په هغې کې د نکاح یو رکن له ارکانو څخه یا هم د صحت له شرطونو څخه یو شرط پکې نه وي موجود، لکه پرته د شاهدانو له حضور څخه نکاح کول. (۱)

## شپږم مطلب: د نکاح احکام

**۱ – د صحیحې لازمې نکاح احکام:**

الف: له ښځې سره د جماع حلالیدل.

ب: ښځې ته له سر څخه تر پښو پورې کتلو او لمس کولو حلالیدل.

ج: میړه ته د حبس او بندولو ملکیت ثابتیدل، یعنې میړه کولای شي چې خپله ښځه د کور څخه له وتلو نه منع کړي.

د: په میړه باندې د مهر لازمیدل.

هـــ : له میړه څخه د اولادونو د نسب ثابتیدل.

و: د نفقې او سکنی ( د اوسېدلو ځای) لازمیدل.

ز: د مصاهرة د حرمت ثابتیدل، یعنې په میړه د ښځې اصول او فروع حرامیږي، نکاح ورسره نه شي کولای او په ښځه د میړه اصول او فروع حرامیږي، نکاح ورسره نه شي کولای.

---

۱ الزحیلی، **الفقه الاسلامی و ادلته**، ج: ۹ ص: ۶۵۳۳.

**ح: د میراث حق ثابتیدل د میړه او ښځې ترمینځ، یعنې که یو له میړه او ښځې څخه مخکې له دینه چې نکاح یې ختمه وي مړ شي، نو یو له بل څخه میراث وړي.**

**ط: د ښځو په حقوقو کې عدل کول، یعنې که میړه له یوې ښځې څخه زیاتې ښځې په نکاح کړې وي د هغوی ترمینځ باید په خوراک، څښاک، پوښاک، اوسیدل او شپې تیرولو کې عدل او برابري وکړي.**

**ی: کله چې میړه له خپلې ښځې څخه د جماع غوښتنه وکړي نو په ښځه باندې د میړه اطاعت کول لازمیږي، یعنې باید ښځه د خپل میړه خبره ومني.**

**ک: مېړه ته د تأدیب ولایت ثابتېدل، که ښځې د مېړه خبره نه منله په هغو کارونو کې چې د مېړه اطاعت لازم وي، نو مېړه ته د تأدیب ولایت ثابت دی، یعنې مېړه کولای شي چې خپلې ښځې ته په ترتیب باندې ادب ورکړي، یعنې اول باید نصیحت ورته وکړي که په هغه سمه نه شوه بیا دې  د شپې له طرفه یو ځای ورسره نه ځلمي او که په هغه هم سمه نه شوه بیا دې ووهي البته داسې وهل چې عیبي نه شي.**

**ل: ښه ژوند کول له ښځې سره یعنې ضرر به نه ور رسوي، حقوق به یې مکمل اداء کوي او نیک اخلاق به ورسره کوي. (۱)**

**۲ – د صحیحې غیر لازمې نکاح حکم:**

**د غیر لازمې نکاح حکم هم د لازمې نکاح احکام لري صرف دلته دومره خبره ده چې ښځې ته دا حق شته چې دغه نکاح فسخ کړي. (۲)**

**۳ – د موقوفې نکاح حکم:**

**دا نکاح چې د چا تر اجازې پورې موقوفه وي؛ ترڅو هغه اجازه نه وي کړې په دې نکاح باندې د نکاح احکام نه مرتب کیږي، یعنې میړه ته روا نه ده چې له ښځې سره جماع وکړي. نفقه، لباس او سکنی هم په میړه نشته او همدارنګه د دوی ترمینځ د میراث حق هم نه لازمیږي. (۳)**

---

۱ الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع**، ج: ۲ ص: ۳۳۰- ۳۳۴.
۲ الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع**، ج: ۲ ص: ۳۲۷.
۳ ابن عابدین، **رد المحتار على الدر المختار**، ج: ۳، ص: ۱۶۳، / او الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع**، ج: ۲ ص: ۲۳۳.

**۴ – د فاسدې نکاح حکم:**

**په فاسده نکاح کې مخکې له دخول څخه په دې نکاح باندې د نکاح احکام نه مرتب کيږي يعنې ميره ته جماع نه روا کيږي. مهر، نفقه، عدت، ميراث نه لازميږي او همدارنګه د مصاهرت حرمت هم نه ثابتيږي، اما که دخول شوی وو، نو بيا دغه احکام وربانديې مرتب کيږي:**

**الف: مهر وربانديې لازميږي.**

**ب: د اولادونو نسب يې ثابتيږي.**

**ج: عدت وربانديې لازميږي.**

**د: د مصاهرة حرمت هم لازميږي.** (۱)

**۵ – د باطلې نکاح حکم:**

**په باطله نکاح کې په هيڅ صورت کې د نکاح احکام وربانديې نه مرتب کيږي، يعنې ميره ته جماع کول حرام دي، مهر، نفقه، سکنی، عدت، ميراث پکې نه لازميږي او همدارنګه د مصاهرت حرمت هم پکې نشته. په دې نکاح کې که دخول هم شوی وي بيا هم د صحيحې نکاح کوم حکم نه ثابتيږي او قاضي به د دواړو ترمينځ تفريق راولي او عدت هم په ښځه نشته.** (۲)

۱ الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**، ج: ۲ ص: ۳۳۵، / او ابن عابدين، **رد المحتار على الدر المختار**، ج: ۳ ، ص: ۱۳۱ – ۱۳۴.
۲ الزحيلی، **الفقه الاسلامی و ادلته**، ج: ۹، ص: ۶۶۰۵.

# دویم مبحث

# د اجبار پیژندنه، رکنونه یې، شرطونه یې، ډولونه یې، حکم یې او په تصرفاتو کې تأثیرات یې

دا مبحث مې د اجبار په اړه لیکلی او په شپږو مطلبونو باندې مشتمل دی چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

لومړی مطلب: د اجبار پیژندنه

لومړۍ فرعه: د اجبار لغوي او اصطلاحي معنا

دویمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع قانون کې د تاوتریخوالي تعریف

دویم مطلب: د اجبار رکنونه

دریيم مطلب: د اجبار شرطونه

څلورم مطلب: د اجبار ډولونه

پنځم مطلب: د اجبار حکم

لومړۍ فرعه: د اجبار حکم په شریعت کې

دویمه فرعه: د اجبار حکم د افغانستان د جزا په قانون کې

شپږم مطلب: د اجبار تاثیرات په تصرفاتو کې

لومړۍ فرعه: د اجبار تأثیرات په قولي تصرفاتو کې

**دويمه فرعه: د اجبار تأثيرات په فعلي تصرفاتو کې، اوس راځم اول مطلب ته چې د اجبار د پېژندنې په اړه دی.**

## لومړی مطلب: د اجبار پېژندنه

**اجبار عربي کلمه ده او په پښتو کې ورته تاوتريخوالی وايي، نو په همدې خاطر ما دامطلب په دوه فرعو تقسم کړی. لومړۍ فرعه کې مې د اجبار معنا د عربي کتابونو(لغاتو او فقه) څخه را نقل کړې او په دويمه فرعه کې مې بيا د قانون څخه د تاوتريخوالي تعريف را نقل کړی؛ ترڅو واضح کړای شم چې په قانون کې تاوترخوالی څه ته وايي او کوم کارونه تاوتريخوالی بلل کيږي؟.**

### لومړۍ فرعه: د اجبار لغوي او اصطلاحي معنا

**اجبار په لغت کې غلبې او اکراه ته وايي.(١) د اجبار د کلمې اصلی حروف (ج ب ر) دي له باب د جَبَرَ يجبِرُ جبْراً و جبوراً څخه دي، اصلي معنا د جبر داده: (أن تغني الرجل من فقر أو تصلح عظمه من کسر).(٢)**

**ژباړه: چې سړی له فقر نه خلاص يا غني کړې او يا دا چې هډوکی له ماتيدو څخه وروسته جوړ کړې.**

**اجبار يې د مزيد صيغه او جبَّار يې د مبالغې صيغې دي، جبار د الله په صفاتوکې په معنا د عالی او غالب سره ده، په مخلوقاتو باندې، يعنی هغه درجه چې څوک هغې ته نه شي رسيدلای او جبار بيا د مخلوق په صفاتو کې په معنی د اجبار او زور سره ده. (٣)**

**علماؤو د اجبار اصطلاحي معنا له پاره کوم خاص تعريف نه دی ذکر کړی، نو کوم ځای کې چې د اجبارکلمه استعماليږي له لغوی معنی نه به خالی نه وي. (٤)**

---

١ الفيومي، أحمد بن محمد بن علي المقري، **المصباح المنير في غريب الشرح الكبير للرافعي**، بيروت المكتبة العلمية، ب ت، ج: ١، ص: ٨٩.
٢ الرازی، **مختار الصحاح**، ج: ١، ص: ١١٩.
٣ ابن منظور، **لسان العرب**: ج ٤، ص: ١١٣.
٤ الكويت، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية، **الموسوعة الفقهية الكويتية** ، طبعه: ٢، الكويت: دارالسلاسل، كال: (من ١٤٠٤ الى ١٤٢٧ هـ)، ج: ١، ص: ٣١١.

**يادونه:** اجبار او اکراه هغه دوه الفاظ دي چې معنا يې يو شی ده، ځکه چې د لغتو په کتابونو کې د اجبار معنا په اکراه سره کړې او د فقهې په کتابونو کې د اجبار په بحث کې د اکراه کلمه تشريح شوې ده. دا چې زما موضوع د اجبار ده، نوځکه غواړم چې هماغه د اکراه تشريح او تفصيل د اجبار په صورت کې بيان کړم چې له موضوع سره مې مطابقت وکړي، نو اوس راځم د اجبار اصطلاحي معنا ته.

اجبار په اصطلاح کې: فقهاؤ په مختلفو جملو سره د اجبار معنا کړې:

۱ – احناف وايي: اجبار هغه فعل ته وايي چې يو سړی په بل چا باندې يو کار وکړي، نو د هغه (مجبَر) رضا له منځه لاړه شي يا يې اختيار فاسد شي، اما په حق د مجبَر کې اهليت له منځه نه ځي او نه خطاب ترې ساقطيږي. (۱) يا په بل تعبير سره: اجبار عبارت ده له هغه فعل څخه چې په زور او تهديد سره تر سره شي. (۲)

۲ – مالکيان وايي: اجبار هغه فعل دی چې په انسان باندې داسې يو کار ترسره شي چې هغه ته پکې ضرر وي يا هم له هغه څخه ورته درد ورسيږي که هغه له وهلو څخه وي يا کوم بل شي نه. (۳)

۳ – شافعيان وايي: اجبار دې ته وايي چې انسان د داسې يو کس په لاس کې ولويږي چه له هغه نه ځان نه شي منع کولی که هغه پادشاه وي او که غل يا يو داسې کس چې که د هغه خبره ونه مني، نو دا ويره وي چې له هغه نه به سخت ووهل شي يا به هم له مينځه ولاړ شي. (٤)

۴ – حنابله وايي: ترهغه پورې هغه شخص ته مجبَر نه ويل کيږي چې له ګواښ سره سره عذاب ورته نه وي رسېدلی، که هغه عذاب له وهلو، خپک کولو، زور کولو، بندي کولو او يا هم په ابو کې غوپه کولو څخه وي. (۵)

---

۱ السرخسی، **المبسوط** ، ج: ۲۴، ص: ۳۸.

۲ الکاسانی، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع** ، ج ۷ ، ص ۱۷۵.

۳ المالکي ، محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري الغرناطي (وفات: ۸۹۷هـ) **التاج والإکليل لمختصر خليل** ، ناشر: دار الکتب العلمية ، اوله طبعه، کال: ۱۴۱۶هـ ۱۹۹۴م، ج ۵، ص ۳۱۲.

٤ الشافعي، أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع المکي (وفات: ۲۰۴هـ) **الأم** : الناشر: دار المعرفة – بيروت، کال: ۱۴۱۰هـ ۱۹۹۰م ، ج ۳، ص ۲۴۰.

٥ الجماعيلي، المقدسي، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة : **المغني لابن قدامة:** الناشر: مکتبة القاهرة، کال: ۱۳۸۸هـ - ۱۹۶۸م، ج ۷ ، ص ۳۸۳.

## دويمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالي د منع قانون کې د تاوتريخوالي تعريف

**۳ ماده: د دې قانون په پنځمه ماده کې د درج شوو اعمالو ارتکاب دی، چې د ښځې شخصيت، جسم، مال او روان ته د زيان موجب کيږي.**

**۵ ماده: د ښځې پر ضد د لاندې اعمالو ارتکاب تاوتريخوالی پېژندل کيږي:**

**۱ – جنسي تيری.**

**۲ – فحشاء ته مجبورول.**

**۳ – د مجني عليها د هويت ضبطول او ثبتول او د هغه خپرول په داسې توګه چې د هغې شخصيت ته زيان ورسوي.**

**۴ – اور ورته کول يا د کيمياوي، زهري او يا نورو زيان رسوونکو موادو استعمالول.**

**۵ – ځان سوځولو يا ځان وژنې او يا د زهري مادو يا نورو زيان رسوونکو موادو استعمالولو ته مجبورول.**

**۶ – مجروحول يا معلولول.**

**۷ – وهل او ټکول.**

**۸ – د واده په منظور يا بهانه پيرل او پلورل.**

**۹ – په بدو کې ورکول.**

**۱۰ – اجباري نکاح.**

**۱۱ – د واده له حق او يا د زوج د غوره کولو له حق څخه منع.**

**۱۲ – د قانوني سن له بشپړيدو د مخه نکاح.**

**۱۳ – ښکنځلې، تحقير او تخويف.**

۱۴ – ځورول (ازارول او اذيت) .

۱۵ – اجباري يوازې پرېښودل (انزوا).

۱٦ – د مخدرو موادو اعتياد ته د ښځې مجبورول.

۱۷ – په ارث کې له تصرف څخه منع کول.

۱۸ – په شخصي مالونو کې له تصرف څخه منع کول.

۱۹ – د ښوونې، تحصيل، کار او روغتيايي خدمتونو ته د لاس رسي له حق څخه منع کول.

۲۰ – اجباري کار.

۲۱ – د مدني قانون په (۸٦) ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو پرته، له يوې څخه د زياتو ښځو سره واده کول.

۲۲ – د قرابت نفی کول. (۱)

په لنډ ډول ويل شو چې هر ډول انساني ضد عمل چې کرامت، شرافت، عزت، آزادي، حيثيت او انساني شخصيت ته زيان رسوي اجبار بلل کيږي. او همدارنګه اجبار يوه ټولنيزه بدمرغي، ناوړه او زيان رسوونکی چلند دی، چې د هرې ټولنې، ملت او هيواد د ټولنيزې وضعې په اساس په بيلابيلو شکلونو او ډولونو سره ځرګنديږي، چې معاصر تمدنونه هم د هغې په محو او له منځه وړلو کې ډير بريالي نه دي، په دې پراخه نړۍ کې هيڅ ټولنه نشته، چې هغې کې يو ډول اجبار موجود نه وي.

## دويم مطلب: د اجبار رکنونه

په اجبار کې څو شيانو ته اعتبار ورکول کيږي: مجبِر، مجبَر، مجبَر عليه او مجبَر به ته چې له همدغه شيانو څخه اجبار جوړ دی، يا په بل تعبير سره همدا څلور د اجبار ارکان دي.

---

[۱] **د ښځې پر ضد د تاوتريخوالي د منع قانون:** ۳ ماده ۲ فقره او ۵ ماده.

**۱: مجبِر: دا هغه کس دی، چې په بل چا باندې يوکار په زور کوي برابره خبره ده که هغه بادشاه وي او که بل څوک.**

**۲: مجبَر: دا هغه کس دی، چې په ده باندې کوم کار په زور کېږي.**

**۳: مجبَر عليه: دا هغه قول يا عمل دی، چې اجبار په هغه کې واقع کېږي،چې ځينې وخت دا قول يا عمل شرعا حرام وي، لکه په زور په يو نفر باندې د يو شي خرڅول، چې هغه يې نه غواړي چې خرڅ يې کړي او ځينې وخت حرام نه وي، لکه: قاضي د قرضدار مال په دې پخاطر خرڅ کړي، چې د ده قرض ورباندې ادا کړي.**

**۴: مجبَر به: دا هغه د تهديد اقسام دي، چې مجبَر ته متوجه کيږي، لکه وژل، د کوم اندام قطع کول، د مال له مينځه وړل، وهل او داسې نور. (۱)**

**غواړم دا ټول ارکان په يو مثال کې واضح کړم، مثال: احمد محمود ته وايي چې دا خپل موټر دې خرڅ کړه کنې وژنم دې؛ نو په دغه صورت کې احمد مجبِر يعنې اجبار کوونکی دی، محمود مجبَر دی، يعنې هغه نفر چې هغه باندې جبرکړل شوی وي، د موټر خرڅول مجبر عليه دی او دا د وژلو تهديد مجبر به دی.**

## درېيم مطلب: د اجبار شرطونه

**۱: د مجبِر (اجبار کوونکی) قدرت په هغه کار باندې چې مجبَر ورباندې تهديد کوي، که هغه پادشاه وي او که بل څوک، فتوی په همدې قول ده اګر که امام ابوحنيفه (رحمه الله) (۲) وايې چې اجبار کوونکی صرف پادشاه کيدای شي اما دا اختلاف زماني اختلاف دی، نه د دليل او حجت، يعنې د امام**

---

۱ السرخسی، **المبسوط** ، ج: ۲۴، ص: ۳۹.

۲ ابوحنيفه: نعمان بن ثابت تيمی او کوفی، کنيه يې أبوحنيفه ده ، د احنافو امام ده فقيه او تحقيق کوونکی مجتهد وو، د اهل السنة والجماعة د څلورو امامانو څخه يو امام دی اصلا د فارس دی په ۸۰ هـ ۶۹۹م کال کې په کوفه کې پيداشوی، اول يې د علم له طلب سره د رخت کار او بار کاوه بيا وروسته يې ځان د تدريس او افتاء له پاره فارغ کړ، عمر بن هبيره (د عراق او کوفی اميروو) غوښتل يې چې امام صاحب قاضی وټاکي خو امام صاحب د تقوا په خاطر د هغه غوښتنه و نه منله بيا وروسته منصورعباسی هم وغوښتل چې په بغداد کې قاضی شي اما امام صاحب دا خبره ونه منله تر څو امام صاحب يې په همدې خبره د مرګ تر وخته بندې کړ، په استدلال کې ډير زيات قوی وو او دخبرو منطق يې ډير قوی وو امام مالک (رحمه الله) د امام صاحب په صفت کې داسې وايي: امام صاحب داسې يو سړی وو که د پايې په باره کې غوښتی وی چې سره زر ترينه جوړ کړي نو حتما يې دليل ورته ويل، ډير د ښو اخلاقو څښتن وو ډير سخی وو ډير ښه صورت يې درلود او ښايسته غږ يې درلود، امام شافعی (رحمه الله) د امام صاحب په صفت کې داسې وايی: ټول خلک په فقه کې د امام صاحب عيال او اولاده دي. دی په حديثو کې مسند هم لری چې شاګردانو يې ترينه روايت کړی، او په ۱۵۰هـ ۷۶۷م کال کې په بغداد کې وفات شو. نور هم بې شماره مناقب لري چې زه په همدومره باندې اکتفاء کوم. مرجع: الزرکلي، الدمشقي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، (وفات: ۱۳۹۶هـ)، **الأعلام**، طبعه: ۱۵، دار العلم للملايين، کال: ۲۰۰۲م ، ج: ۸، ص: ۳۶. / او البغدادي، أبو بکر أحمد بن علي بن ثابت بن أحمد بن مهدي الخطيب، (وفات: ۴۶۳هـ)، **تاريخ بغداد**، طبعه: ۱، بيروت، دار الغرب الإسلامي، کال: ۱۴۲۲هـ - ۲۰۰۲ م، ج: ۱۵، ص: ۴۴۴.

صاحب په زمانه کې صرف د پادشاه قدرت او غلبې ته اعتبار ورکول کیده او اجبار یې منل کیده اما په وروسته زمانه کې پادشاه نه بغیر د نورو کسانو قدرت او غلبې ته هم اعتبار ورکول کیږي او اجبار یې منل کیږي. (۱)

**۲: د مجبَر (په چا چې اجبار کیږي) ډار او ویره د هغه کار له واقع کیدو څخه چې دی ورباندې تهدید شوی وي که هغه حقیقی وي یعنې تهدید کوونکی خپله موجود وي او که حکمي وي یعنې تهدید کوونکی خپله نه وي اما د هغه نفر تهدید کړی وي. (۲)**

**۳: مجبَر علیه (هغه کار چې اجبار ورباندې کیږي) مخکې منع شوی وي، یا په خپل حق کې لکه د خپل مال خرڅول پرته له عوض نه، یا یې تلف کول او له مینځه وړل، یا د بل چا په حق کې لکه د بل چا مال تلف کول او له مینځه وړل، یا هم د شریعت په حق کې لکه د شرابو خرڅول یا زنا کول او داسې نور، که په کوم شخص باندې په داسې کارونو کې اجبار وشي د هغه رضا له مینځه وړي، ځکه چې شخص مخکې له اجبار څخه هم له دغو کارونو څخه منع شوی وي. (۳)**

**۴: مجبَر به (دتهدید نوع) به یا د انسان له مینځه وړل وي یا د کوم اندام له مینځه وړل او یا به داسې کار وي چې انسان مجبوره وي او رضا یې له مینځه وړي، لکه یو شریف انسان ته بدې خبرې کول یا فحش ویل، د هغه په حق کې اجبار دی، ځکه هغه ته دا قسم خبرې کول له هغه درد ناک وهلو څخه هم ډیر سخت دي، اما رذیل انسان ته بیا ښکنځلې کول یا لږ وهل یا یو ساعت بندې کول د هغه په حق کې اجبار نه دی، ځکه هغه په دې کارو باندې هیڅ باک نه راوړي. (٤)**

**۵: اجبار باید په ناحق او زور سره وي، نو که اجبار په حق سره وي، کوم تأثیر نلري، لکه د قرضدار مال خرڅول په زور باندې چې قرض یې اداء کړي. (۵)**

---

۱ داماد أفندي، عبد الرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده (وفات: ۱۰۷۸هـ)، **مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر**، دار إحياء التراث العربي، ب ت ، ج: ۲، ص: ۴۲۹. / او ابن نجيم، **البحر الرائق شرح كنز الدقائق**، ج: ۸، ص: ۸۰. / او ابن قدامة، **المغني لابن قدامة**، ج: ۷، ص: ۳۸۴.

۲ البابرتي، محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله (وفات: ۷۸۶هـ)، **العناية شرح الهداية**، دار الفكر، ب ت ، ج: ۹، ص: ۲۳۳. / او ابن قدامة، **المغني لابن قدامة**، ج: ۷، ص: ۳۸۴. / او ابن نجيم، **البحر الرائق شرح كنز الدقائق**، ج: ۸، ص: ۸۰.

۳ داماد أفندي، **مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر**، ج: ۲، ص: ۴۲۹،/ او ابن عابدين، **رد المحتار على الدر المختار**، ج: ۶، ص: ۱۲۹.

٤ ابن قدامة، **المغني لابن قدامة**، ج: ۷، ص: ۳۸۴. / او داماد أفندي، **مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر**، ج: ۲، ص: ۴۳۰.

٥ الرحيلى، **الفقه الاسلامى و ادلته**، ج: ۴، ص: ۳۰۶۵.

د اجبار له پاره ځينې نور شرطونه هم فقهاؤو ذکر کړي اما هغه ټول په دغه شرطونو کې رانغښتل شوي، نو بيا ذکر کولوته يې ضرورت نشته.

## څلورم مطلب: د اجبار ډولونه

علماوو اجبار په دوه اعتبارونو باندې تقسيم کړی دی. يو په اعتبار د (مجبَر عليه) سره، يعنې په کوم شي باندې چې اجبار کيږي، که هغه عمل وي او که قول او بل په اعتبار د (مجبَر به) سره يعنی د اجبار اسباب چې عبارت دي د تهديد له اقسامو څخه.

**الف:** اجبار په اعتبار د مجبَر عليه سره په دوه ډوله دی: اجبار بحق او اجبار بغير حق.

۱: اجبار بحق: دا قسم اجبار مشروع او روا دی، يعنې په دا قسم اجبار کې ظلم او ګناه نشته، دا هغه اجبار دی چې په دې کې دوې خبرې موجودې وي، يو دا چې مجبِر (اجبار کوونکی) ته پکې تهديد روا وي او بل داچې مجبِر (اجبار کوونکی) په مجبَر باندې د يو کارالزام کولای شي، لکه اجبار د مرتد په اسلام باندې، يا اجبار د قرضدار په ورکولو د قرض باندې چې قادر وي د قرض په اداء کولو باندې، نو دا قسم اجبار صحيح او روادی، ځکه په دغه قسم اجبار کې دا دواړه خبرې شته.

۲: اجبار بغيرحق: دا هغه اجبار دی، چې په دې کې ظلم وي او دا قسم اجبار حرام دی، يا خو په دې خاطر چې له کومې وسيلې څخه په دې کې استفاده کوي، هغه حرامه ده او يا هم کوم کار چې په دې کې مطلوب وي هغه حرام دی. (۱) لکه اجبار د مفلس په بيع د هغو شيانو چې ورسره پاتې وي يا اجبار په قول باندې چې يو ظالم په چا باندې په ظلم د کفر خبره وکړي نو دلته که مجبَر زړه مطمئن و په ايمان باندې، نو تنها د کفر خبره کول په خوله باندې پروا نه کوي او مجبَر پدې صورت کې نه مؤاخذه کيږي، يعنې په اجبار باندې کوم اثر نه مرتب کيږي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: «إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ». (۲)

---

۱ **الموسوعة الفقهية الكويتية**، ج: ۶، ص: ۱۰۴.
۲ سورة النحل: ايت: ۱۰۶.

**ژباړه: مګر په هغه کس د الله تعالی غضب نشته چې زور ورباندې وکړای شي او له مجبوري د کفر کلمه ووایي په داسې حال کې چې زړه يې مطمئن وي په ایمان سره. (١)**

**ب: اجبار په اعتبار د مجبَر به سره هم په دوه ډوله دی: اجبار ملجئ یا تام او اجبار غیرملجئ یا ناقص.**

**١ : اجبار ملجئ (تام): دا هغه اجبار دی چې په هغه کې اجبار دومره زیات وي چې انسان د مضطر یعنې د مجبور په حکم کې داخل شي او د دې ویره وي چې دا سړی به قتل شي، یا به يې کوم اندام قطع شي یا د داسې وهلو ویره وي، چې له هغه نه د مړه کېدو یا د کوم اندام قطع کېدو ویره وي دا مهمه نه ده، چې وهل پکې زیات وي او که کم،یوازې همدومره چې ضرورت پکې موجود شي، نو دغه قسم اجبار ته اجبار تام وایي، (٢) د دې قسم اجبار حکم دادی، چې رضا له مینځه ځي او اختیار فاسدیږي.(٣)**

**٢ : اجبار غیر ملجئ (ناقص): دا هغه اجبار دی چې په دې کې د انسان ژوند ته یا کوم اندام ته یا ټول مال ته تهدید نه وي متوجه،بلکې د انسان د بندي کېدو یا د داسې وهلو تهدید وي، چې د انسان اندامونه پکې له منځه نه ځي. دا قسم اجبار ته اجبار غیر ملجئ وایي، ځکه په دې کې انسان په داسې وهلو باندې تهدید شوی وي، چې د هغه اندامو نه پکې له منځه نه ځي، نو په دې کې هم رضا له منځه ځي اما اختیار پکې نه فاسدیږي، ځکه مجبَر کولای شي چې په کوم شي باندې چې تهدید شوی هغه باندې صبر او تحمل وکړي، (٤) نو داقسم اجبار مختلف کېږي په اختلاف د خلکو سره.په دې معنا چې لږ وهل یو عادي کس ته اجبار نه دی چې هغه ور باندې باک هم نه راوړي، اما هغه کس ته چې هغه صاحب د شهرت او مقام وي نو د هغه په حق کې بیا اجبار دی. (٥)**

---

١ **کابلی تفسیر**، ج: ١، ص: ١٥٨٢.
٢ الکاساني، **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**، ج: ٧، ص: ١٧٥.
٣ البزدوي، عبد العزيز بن أحمد بن محمد، علاء الدين البخاري (وفات: ٧٣٠هـ)، **كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي**، طبعه: ١، بيروت: دار الكتب العلمية، کال: ١٤١٨هـ/١٩٩٧م، ج: ٤، ص: ٥٣٨.
٤ زیلعي، **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق**، ج: ٥، ص: ١٨١. / او البزدوي، **كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي**، ج: ٤، ص: ٥٣٩.
٥ زیلعی، **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق**، ج: ٥، ص: ١٨٢. / او ابن قدامه، **المغنی**، ج: ٧، ص: ٣٨٤.

## پنځم مطلب: د اجبار حکم

په دې مطلب کې مې دوې فرعې ذکر کړې، په لومړۍ فرعه کې مې د اجبار حکم په شریعت کې او په دویمه فرعه کې مې د اجبار حکم د افغانستان د جزاء په قانون کې ذکر کړی، اوس راځم اولې فرعې ته.

### لومړۍ فرعه: د اجبار حکم په شریعت کې

اجبار د مجبِر (اجبار کوونکی) په حق کې:

اجبار کوونکي ته اجبار کول حرام دي، ځکه چې اجبار ظلم ده او ظلم د کبیره ګناهونو له جملې څخه ده، (۱) له ابو ذر (رضی الله عنه) (۲) څخه روایت دي، چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) له الله تعالی څخه نقل کړی (حدیث قدسي) فرمایي: (يَا عِبادِي إني قَد حَرمتُ الظُلمَ عَلى نَفسِي وجَعلتُهُ مُحرماً بَينَكُم فَلا تَظالَمُوا ....).(۳)

ژباړه: اې زما بنده ګانو! ما په خپل ځان باندې ظلم حرام کړی او ستاسو په منځ کې مې هم حرام ګرځولی، نو په خپل منځ کې یو پر بل باندې ظلم مه کوئ.

اجبار د مجبَر (په چا چې اجبار شوی وي) په حق کې:

اجبار که ملجئ (تام) وي او که غیر ملجئ (ناقص) په دواړه صورتونو کې اهلیت د وجوب او خطاب په اداء کولو د مامور به له مینځه نه ځي، (٤) ځکه عقل او بلوغ لاتر اوسه پورې شته صرف په اجبار ملجئ کې رضا نه وي او اختیار فاسدیږي اما په غیر ملجئ کې رضا نه وي، خو اختیار نه فاسدیږي، نو ځکه حکم یې هم مختلف کیږي په اختلاف د جرمونو سره. مثلا په ځینې جرمونو کې اجبار هیڅ تاثیر نه لري، لکه اجبار کول د انسان په وژلو باندې.یعنې که یو نفر د انسان په وژلو باندې مجبور شي او په زوره ورباندې یو

---

۱ **الموسوعة الفقهية الكويتية**، ج: ۶، ص: ۱۰۱.

۲ ابو ذر جندب بن جنادة بن سفيان بن عبيد بن حرام بن غفار، الغفاري، په صحابه وو کې د سابقون الاولونو له جملې څخه وو، پنځم نفر و چې اسلام یې قبول کړ. له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) سره په هجرت او جهاد کې ملګری وو. د ابوبکر الصدیق، عمر او عثمان (رضی الله عنهم) په خلافت کې یې فتوا هم ورکوله، ډیرو صحابه وو ورڅخه احادیث روایت کړی دي. په تقوا، صدق، علم ، عمل او حقه خبره کې اول و، د هجرت په ۳۲ کال د ذي الحجې په میاشت کې وفات شو. مرجع: الذهبی: **سیراعلام النبلاء**، ج: ۲، ص: ۴۶، ۴۷ او ۷۴.

۳ البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة أبو عبد الله (وفات: ۲۵۶هـ)، **الأدب المفرد**، طبعه: ۱، الرياض: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع، کال: ۱۴۱۹ هـ - ۱۹۹۸ م، حدیث نمبر: ٤۹۰، باب الظلم ظلمات، ص: ۲۴۷. امام الباني ویلي، چې دا حدیث صحیح دی.

٤ البزدوي، **كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي**، ج: ۴، ص: ۵۳۹.

شخص قتل کړل شي، نو په دغه صورت کې دا اجبار کوم تاثير نه لري او ده ته دا قتل نه مباح کوي، بلکې په ده باندې بيا هم قصاص لازمېږي. الله تعالى فرمايي:«وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ».(۱)

ژباړه: تاسو مه وژنئ هغه کس چې الله تعالى د هغه وژل حرام کړي دي، مګر په حق سره. (۲)

اما په ځينو جرمونو کې جنايي مسؤليت پورته کېږي، لکه د اکراه په حالت کې د مردارې څخه خوړل، يا د وينو څښل. دا کار په عادي حالت کې حرام دی، اما که د اکراه او ضرورت په حالت کې انسان دا حرام وخوري؛ نو جنايي مسؤوليت ورڅخه پورته کېږي. الله تعالى فرمايي: «فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ». (۳)

ژباړه: هغه څوک چې اړ شي د دې حرامو خوړلو ته په داسې حال کې چې ظلم کوونکی او د ضرورت له اندازې څخه تجاوز کوونکی نه وي، نو ګناه وربانديې نشته. (٤)

په ځينو جرمونو کې بيا جنايي مسؤوليت باقي وي، اما جزاء نه ورکول کېږي، لکه يو څوک په يوې ښځې باندې د اجبار په نتيجه کې د زنا تهمت ولګوي، يا مثلا يو نفر دې ته مجبور شي، چې د بل چا مال هلاک کړي، نو په دغو صورتونو کې جنايي مسؤوليت د مجرم په غاړه دی، يعنې دا کارونه له اجبار سره سره بيا هم په خپل حرمت باقي دي اما څرنګه چې دا کار وربانديې په جبر او زور ترسره شوی، نو ځکه وربانديې جزاء نشته.(٥)

## دويمه فرعه: د اجبار حکم د افغانستان د جزا په قانون کې

**۹۴ ماده:** که شخص د مادي يا معنوي قوې د تاثير لاندې چه دفع کول يې په بل ډول ممکن نه وي، د جرم په ارتکاب مجبور وګرځي، مسئول نه ګڼل کيږي. (٦)

---

۱ سورة الانعام آيت: ۱۵۱.
۲ **کابلی تفسير**، ج: ۱، ص: ۸۲۹.
۳ سورة البقرة آيت: ۱۷۳.
٤ **کابلی تفسير**، ج: ۱، ص: ۱۲۱.
٥ عودة،عبد القادر ، **التشريع الجنائي الإسلامي**، بيروت: دار الكاتب العربي، ب ت، ج: ۱، ص: ٥٦٨- ٥٧٣.
٦ د **جزا قانون:** ۹۴ ماده.

۴ ماده: تاوتریخوالی جرم دی، هیڅوک حق نه لري د اوسېدنې په ځای، دولتي یا غیر دولتي ادارې، مؤسسو، عامه ځایونو، نقلیه وسایطو یا نورو ځایونو کې د هغه مرتکب شي، د ارتکاب په صورت کې د دې قانون د حکمونو مطابق مجازاتیږي. (۱)

## شپږم مطلب: د اجبار تاثیرات په تصرفاتو کې

د اجبار تأثیرات په تصرفاتو کې په دوه ډوله دي، یا په بل تعبیر سره هغه تصرفات چې له مجبَر نه صادریږي په دوه ډوله دي: یو قولي تصرفات او بل فعلي تصرفات، یعنې اجبار د مجبَر په قول یا فعل باندې څه تأثیر لري؟ په دې مسئله کې د فقهاوو اختلاف دی.

### لومړی فرعه: د اجبار تأثیرات په قولي تصرفاتو کې

الف: **احناف** وایي: د اجبار تأثیرات په قولي تصرفاتو کې مختلف دي، ځکه دا قول به یا اقرار وي یا انشاء، که چېرې د مجبَر قول د اقرار(اخبار) له جملې څخه و، نو اقرار یې باطل دی. برابره خبره ده که اجبار ملجئ وي او که غیر ملجئ، یعنې که په یو کس باندې په زوره اعتراف وشي د ازدواج یا د طلاق یا داسې نور،نو دا عتراف یې باطل دی او شرعا کوم اعتبار نه ورکول کېږي، ځکه د مقِر اقرار ته هغه وخت اعتبار ورکول کېږي، چې د صدق او ربښتیا اړخ پکې قوي وي او دا امکان نه لري چې له اجبار سره دې ریښتیا هم وي، ځکه اجبار د دې دلیل دی، چې مقِر په خپل اقرار کې صادق نه دی،بلکې صرف په دې خاطر یې اقرار کړی، چې د متوجه شوي له تهدید څخه ځان خلاص کړي. (۲)

اما انشاء بیا په دوه قسمه دی، ځېنې داسې دي چې د فسخ احتمال لري او ځېنې د فسخ احتمال نه لري.هغه چې د فسخ احتمال لري، هغه موقوف دي د مجبَر تر اجازې او خوښې پورې لکه: بیع، اجاره، رهن او داسې نور عقود،په دېمعنا چې که چا په مجبَر باندې کوم عقد (بیع، اجاره یا داسې نور عقدونه) په زور ترسره کړل، نو که مجبَر له اجبار څخه وروسته په همدغه عقد باندې راضي و، نو عقد صحیح کېږي او که نه و، نو نه صحیح کېږي. ځکه هر هغه عقد چې په زور سره (که اجبار ملجئ وي او که غیر ملجئ) منعقد

---

۱ د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع قانون: ۴ ماده.
۲ ابن عابدین، **رد المحتار علی الدر المختار**، ج: ۵، ص: ۵۸۹.

**شي، هغه عقد فاسد دی، اما باطل نه دي. باطل ځکه نه دي چې دغه عقد له اهل د عقد څخه په خپل محل کې صادر شوی او فاسد ځکه دي، چې رضا نشته او رضا د عقد د صحت او نافذيدو له شرطونو څخه ده، نو کله چې مجبَر له اجبار څخه وروسته اجازه او رضايت ښکاره کړي، د عقد فساد له منځه ځي او عقد صحيح کېږي. (۱)**

**هغه چې د فسخ احتمال نه لري او په ټوکو سره هم صحيح کېږي، لکه نکاح، طلاق، رجعت، قسم، ظهار او ايلاء. ابو هريره (رضی الله عنه) (۲) له نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) څخه روايت کوي، چې هغه وفرمايل:«ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ، وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ، الطَّلَاقُ، وَالنِّكَاحُ، وَالرَّجْعَةُ».(۳)**

**ژباړه: درې شيان دي، چې رښتيا يې هم رښتيا دي او ټوکې يې هم رښتيا دي، چې هغه يو طلاق دی، بل نکاح ده او بل رجعت دی. يعنې رجوع کول له طلاق څخه، نو په داقسم تصرفاتو کې اجبار هېڅ تأثير نه لري، نو لکه څرنګه چې دا تصرفات په ټوکو باندې صحيح کېږي، په اجبار سره هم صحيح کېږي، ځکه دا هغه تصرفات دي چې په صرف ويلو سره نافذ کېږي. (٤)**

**ب:جمهور** **وايي: په قولي تصرفاتو کې اجبار مکمل تأثير لري، يعنې د مجبَر په قول باندې هېڅ حکم نه مرتب کېږي، بلکې قول يې هدر او بې فايدې دی، يعنې نه يې طلاق واقع کېږي، نه يې بيع صحيح کېږي او نه يې کوم بل قولي تصرف صحيح کېږي. (٥)**

**راجح قول:** **زما په نظر د جمهورو قول راجح او قوي دی، چې د مجبر په قول باندې نکاح او طلاق صحيح نه شي، ځکه هغه خو مجبور دی او په خپله خوښه دا کار نه کوي. د ټوکې په اړه نص راغلی اما د جبر په اړه کوم نص نشته. نو ټوکه او جبر سره فرق لري، ځکه په ټوکه کې سړی چې کوم کلمات**

---

۱ الکاسانی، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع** ، ج ۷ ، ص ۱۸۶.
۲ ابو هريره الدوسي امام فقيه، مجتهد او حافظ د ده په اصلي نوم کې ډير اقوال دي خو راجح قول دادی، چې اصلی نوم يې عبدالرحمن بن صخر دی، په جاهليت کې يې نوم ابو الأسود، عبد الشمس وو بيا له اسلام څخه وروسته نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) نوم ورته بدل کړ په ابو هريره، عبدالله يا عبدالرحمن باندې. مور يې ميمونه بنت صبيح نوميده. له نبي کريم( صلی الله عليه وسلم) څخه يې ډير علم زده کړی او روايت کړی دی، ډيرو صحابه وو او تابعينو له ده څخه احاديث روايت کړي دي چې شمير يې اته سوه ووته رسيږي. د هجرت د اووم کال په اولو کې يې ايمان راووړ او له نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) سره يې ځلور کاله تير کړل، د رواياتو د اختلاف په بناء د هجرت په ۵۷ يا ۵۸ يا ۵۹ کال وفات او د بقيع په هديره کې دفن شو. مرجع: الذهبی: **سيراعلام النبلاء**، ج: ۲، ص: ۵۷۸، ۵۷۹، ۵۸۶، ۵۸۹، ۶۲۶ او ۶۲۷.
۳ السِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي (وفات: ۲۷۵ هـ)، **سنن أبي داود**، ناشر: بيروت المكتبة العصرية، ب ، ت ، حديث نمبر: ۲۱۹۴، باب: باب في الطلاق على الهزل، ج: ۲، ص: ۲۵۹، / او الطحاوي، **شرح معاني الآثار**، حديث نمبر: ۴۶۵۴، باب طلاق المكره، ج: ۳، ص: ۹۸. امام الباني ويلي، چې دا حديث حسن دی.
٤ ابن عابدين، **رد المحتار على الدر المختار**، ج: ۵، ص: ۵۸۹،/ او الکاسانی، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع** ، ج ۷ ، ص ۱۸۲.
٥ الشافعی، **الام**، ج: ۳، ص: ۲۴۰، / او ابن قدامه، **المغنی لابن قدامه**، ج: ۹، ص: ۲۴.

تلفظ کوي، هغه په خپل کامل اختیار باندې تلفظ کوي او دهغه اراده رشخند وهل وي، نو دهغه له حال سره سختي او تشدد مناسب دی، چې د هغه کلمات صحیح و ګڼل شي او حکم ورباندې مرتب شي. اما په کوم نفر چې په زورورباندې طلاق واقع یا نکاح وشي، هغه له مجبورۍ دا کار کوي، صحیح اختیار پکې بلکل نه وي، یوازې په دې خاطر دا خبره کوي، چې له ضرر څخه ځان وژغوري، نو د ده له حال سره مناسب آساني ده، چې خبره يې باطله وګڼله شي او حکم ورباندې مرتب نه شي. بل داچې د اسلام دین د مهربانۍ او ترحم دین دی، دا د دین مهرباني او ترحم هم دا ایجابوي چې له مجبور سره ډېر سهولت وشي او په زور سره نکاح یا طلاق يې واقع نه شي.

## دویمه فرعه: د اجبار تأثیرات په فعلي تصرفاتو کې

فعلی تصرفات: هغه تصرفات دي چې له ژبې نه پرته په نورو اندامونو تر سره شي، چې دا قسم افعال په څلور ډوله دي:

**اول:** هغه افعال چې اصلا روا او جائز وي، پرته له اجبار نه لکه خوړل یا څښل، نو که په کوم کس باندې په داقسم افعالو کې اجبار وشي، په مجبَر باندې لازمه ده، چې په اخف د ضررینو باندې عمل وکړي او کوم چې ورته آسانه وي هغه دې وکړي. (۱)

**دویم:** هغه افعال چې شارع د ضرورت په وخت کې مباح کړي وي، لکه د شرابو څښل یا له مردارې څخه خوړل او داسې نور، په دا قسم کارونو کې که اجبار تام وي ( که دا کار ونه کړي نو مجبَر یا قتل کېږي یا يې کوم اندام له منځه وړل کېږي) نو مجبَر باندې لازم او واجب ده، چې دا کار وکړي او خپل ځان وژغوري له قتل یا د بدن د یوې حصې له تلف کېدو څخه. ځکه الله تعالی د ضرورت په وخت کې دا قسم کارونه جائز کړي. الله تعالی فرمايي: «إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ». (۲)

ژباړه: په تحقیق سره الله تعالی حرام کړي دي په تاسو باندې خوراک د مردارې، خوراک د وینې، خوراک د خنزیر د غوښې او خوراک د هغې مذبوحې چې د الله تعالی له نوم څخه پرته په بل نوم ذبح شي،

۱ **الموسوعة الفقهیه الکویتیة**، ج: ۶، ص: ۱۰۶.
۲ سورة البقرة، آیت: ۱۷۳.

مگر هغه څوک چې اړ شي د دې حرامو خوړلو ته په داسې حال کې چې ظلم کوونکی او د ضرورت له اندازې څخه تجاوز کوونکی نه وي، نو گناه وربانديې نشته. (۱)

بل ځای کې الله تعالی فرمايي: «وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ». (۲)

ژباړه: څه مانع دی تاسې ته، چې له هغې مذبوحې څخه نه خورئ، چې د ذبحې پر وخت پر هغې د الله تعالی نوم ويل شوی وی، په داسې حال کې چې الله تعالی تاسو ته واضح بيان کړي هغه شيان چې پر تاسو يې حرام کړي دي، مگر که تاسې د هغه حرامو خوړلو ته اړ شئ، نو هغه هم حلال دي. (۳)

استثناء له حرامو څخه د اباحت دليل دی او په دې کې هم شک نشته چې تام اجبار له هغو ضرورتونو څخه دی، چې الله تعالی له هغه نه گناه پورته کړې ده د ضرورت په خاطر، نو له هغه مباح څخه استفاده کول چې د انسان د هلاکت څخه د ژغورنې سبب کېږي واجب دي او ترک يې جائز نه دی. (٤)

**درېيم:** هغه افعال چې شارع د ضرورت په وخت کې ورته رخصت ورکړی، اما بيا هم که مجبَر دا کار ونه کړي او هغه تکليف تحمل کړي، نو د الله تعالی له طرفه هغه ته اجر او ثواب ورکول کېږي، لکه اجبار په کفر باندې يا اجبار په سپکاوي د دين باندې، البته دلته هم هغه اجبار معتبر دی، چې د مجبَر د نفس يا د کوم اندام تلف کېدو خطر پکې وي، نو که يو انسان په داسې کار باندې مجبور شي اما ايمان يې په زړه کې محکم وي،دا کار دې وکړي او کومه گناه وربانديې نشته. (٥) لکه څرنگه چې الله تعالی فرمايي: «مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ». (٦)

---

۱ **کابلی تفسير**، ج: ۱، ص: ۱۱۸ - ۱۲۱.
۲ سورة الانعام، آيت: ۱۱۹.
۳ **کابلی تفسير**، ج: ۱، ص: ۸۰۱ او ۸۰۲.
٤ **الموسوعة الفقهيه الکويتية**، ج: ۶، ص: ۱۰۶- ۱۰۷، / او الکاسانی، **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع** ، ج ۷ ، ص ۱۷۶، / او الزيلعی، **تبيين الحقائق شرح کنز الدقائق**، ج: ۵، ص: ۱۸۵.
٥ المرغينانی، **الهداية شرح بداية المبتدی**، ج: ۳، ص: ۲۷۴.
٦ سورة النحل، آيت: ۱۰۶.

**ژباړه: هرهغه څوک چې کافر شي وروسته له ايمان راوړلو څخه په الله تعالی باندې، نو په هغه به د الله تعالی غضب وي، مګر په هغه کس به غضب نه وي، چې زور پرې وکړی شي او له مجبوري د کفر کلمه ووايي، په داسې حال کې چې زړه يې آرام او مطمئن وي، په ايمان سره. (۱)**

**همداراز په سنن کبری او مستدرک کې د عمار بن ياسر (۲) حديث روايت کړی وايي: کله چې عمار بن ياسر مشرکينو بندي کړ، نو تر هغه وخته يې پرېنښود؛ تر څو چې د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) په حق کې بې ادبه کلمات استعمال نه کړل (ښکنځلي ورته وکړي) او د هغو بوتان يې په ښو الفاظو ياد نه کړل، نو کله چې هغه بيرته نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته راغی هغه مبارک ترينه پوښتنه وکړه چې شاته دې څه پرېښودل؟ عمار بن ياسر په جواب کې ورته وويل: چې شر او بد مې پرېښي، وايي: ترهغه يې پرېنښودم؛ ترڅو ستا په حق کې مې بې ادبي ونه کړه او د هغوی د بتانو مې صفت ونه کړ.بيا نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) پوښتنه وکړه چې زړه دې څنګه وپه دې حالت کې؟ هغه جواب ورکړ، چې مطمئن و په ايمان سره، نو نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ورته وفرمايل: (فَإِنْ عَادُوا فَعُد). (۳)**

**ژباړه: که هغوی بيا اجبار او زور وکړي، نو ته هم بيا اطمنان قلبی ته وګرځه.**

**ځينې علماء دا قول د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) (فَإِنْ عَادُوا فَعُد) په ظاهر حمل کوي او معنا يې داسې کوي: که هغوی بيا اجبار وکړي، نو ته هم بيا زما په حق کې بې ادبي او د هغوی بوتان په ښو الفاظو سره يادولو ته وګرځه، اما دا معنا غلطه ده، ځکه چې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) هېڅکله چاته د**

---

۱ **کابلی تفسير**، ج: ۱، ص: ۱۵۸۲.
۲ عمار بن ياسر العنسی، ابو اليقظان يې هم کنيه ده د نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) صاحب او ملګری وو، د بنی مخزوم مولی (ازاد شوی غلام) وو، مور يې سميه بنت خياط نوميده د ابوحذيفه بن مغيره ابن عبدالله بن عمر بن مخزوم وينځه وه ، پلار يې ياسر له يمن نه مکې ته راغلی وو او له ابوحذيفه بن مغيره سره يی حلف( قسم) کړی وو، د ياسر ځوی عمار په مکه کې پيدا شو بيا ابوحذيفه آزاد کړ، عمار له خپلې مور څخه بل ورور هم درلود په نامه د سلمه بن الازرق ، عمار، مور يې سميه او پلار يې ياسر په اولو وختونو کې اسلام راووړ او دوی هغه کسان وو چې د اسلام پخاطر ډير په عذاب کيدل کله به چې نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) دوی باندې تيريده او دوی به په عذاب کې ول نو هغه مبارک به ورته ويل: صبر وکړی ای د ياسر اولادې ستاسو ځای جنت ده، ابوجهل سميه په نيزه باندې شهيده کړه او هغه اوله مسلمانه وه چې په اسلام کې شهيده شوه نو ځکه هم ورته د (اول شهيد فی الاسلام) لقب ورکړای شوی دی، عمار په بدر او په ټولو غزاګانو کې له نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) سره شرکت کړی او په دواړه هجرتونو کې هجرت کړی د غه آيت کريمه «إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ» هم د ده باره کې نازل شوی، پيدايښت يې: ۵۷ کاله مخکې له هجرت څخه يعنې په ۵۶۷ م او وفات يې : ۳۷هـ ۶۵۷ م کال کې شوی. مرجع: الزرکلی، **الاعلام**، ج: ۵، ص: ۳۶، / او القضاعي، يوسف بن عبد الرحمن بن يوسف، أبو الحجاج، جمال الدين ابن الزكي أبي محمد الكلبي المزي (وفات: ۷۴۲هـ)، **تهذيب الكمال في أسماء الرجال**، طبعه: ۱، بيروت: مؤسسة الرسالة، کال: ۱۴۰۰ – ۱۹۸۰، ج: ۲۱، ص: ۲۱۵.
۳ البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي، **السنن الكبرى**، طبعه : ۱، هند: حيدر آباد مجلس دائرة المعارف النظامية ، کال: ۱۳۴۴ هـ، ج: ۸، ص: ۲۰۸، باب المكره على الردة، حديث نمبر: ۱۷۳۵۰./ او النيسابوري، أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم المعروف بابن البيع (وفات: ۴۰۵هـ)، **المستدرك على الصحيحين**، طبعه:۱، بيروت دار الكتب العلمية ، کال: ۱۴۱۱ – ۱۹۹۰، ج: ۲، ص: ۳۸۹، تفسير سورة النحل، حديث نمبر: ۳۳۶۲. امام حاکم ويلي، چې دا حديث د شيخينو په شرط صحيح دی، خو هغوی نه دی ورايت کړی.

**شرک په کلمه باندې امر نه کوي، نو عزیمت او بهتر داده چې دا کلمه په اطمینان قلبي باندې حمل شي، اګر که د بتانو د صفت ویلو ته هم پکې رخصت ورکړای شوی دی خو له هغه څخه منع افضل ده. (۱)**

**په دا قسم اجبار کې که چیرې مجبَر تکلیف تحمل او صبر ورباندې وکړي او هغه کار ونه کړي، چې د هغه په خاطر ورباندې اجبار شوی، نو ده ته ثواب او اجر ورکول کېږي او که هغه کار یې وکړ، نو کومه ګناه ورباندې نشته.**

**څلورم: هغه افعال چې مجبَر ته په هیڅ صورت کې حلال نه دي، لکه د یو انسان قتلول په ناحقه باندې ځکه الله تعالی فرمایي: «وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ». (۲)**

**ژباړه: تاسو مه وژنئ هغه نفس چې الله تعالی د هغه وژل حرام کړی، مګر په حق سره. (۳)**

**همدا رنګه د یو انسان د یو اندام له منځه وړل یا دا سې وهل چې له هغه څخه انسان هلاک یا له منځه لاړ شي، که چیرې یو شخص باندې له دغو کارونو څخه د یو اجبار وشي، نو مجبَر ته جائز نه ده، چې دا کار وکړي. (٤) له عمران بن حصین (رضی الله عنه) (٥) څخه روایت دی، چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي : (لاطاعة لمخلوق في معصیة الله). (٦)**

**ژباړه: د مخلوق اطاعت (خبره منل) په هغه ځای کې لازم نه ده، چې هلته د الله تعالی له امرڅخه معصیت (نافرماني) وي.**

**په دې سره د مؤمن د وینې حرمت او کرامت هم معلومیږي، ځکه چې الله تعالی د اجبار په صورت کې د کفر یا د شرک کلمه ویل مباح کړي، سره له دې چې شرک عظیمه ګناه ده، الله تعالی فرمایلي: «إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا». (۷)**

---

۱ السرخسی، **المبسوط** ، ج: ۲۴، ص: ۴۴.
۲سورة الانعام، آیت: ۱۵۱، / او سورة الاسراء، آیت: ۳۳.
۳ **کابلی تفسیر**، ج: ۱، ص: ۸۲۹.
٤ الکاسانی، **بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع** ، ج: ۷، ص: ۱۷۷.
٥ عمران بن حصین بن عبید بن خلف الخزاعي، د هجرت په اووم کال له ابو هریره (رضی الله عنه) سره یو ځای ایمان راوړ. عمر (رضی الله عنه) د بصرې قاضي مقرر کړی وو. دی وایي: کله چې ما له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) بیعت وکړ له هغه وروسته مي په خپل ښي لاس خپل ذکر نه دی مسه کړی. ګڼ شمیر راوایانو ورڅخه احادیث یې روایت کړی دي ټول هغه احادیث چې له ده څخه روایت شوی دی شمیر یې ۱۸۰ ته رسیږي. د هجرت په ۵۲ کال وفات شوی دی. مرجع: الذهبی: **سیراعلام النبلاء**، ج: ۲، ص:۵۰۸، ۵۰۹ او ۵۱۱.
٦ الطبراني، سلیمان بن أحمد بن أیوب أبو القاسم، **المعجم الکبیر**، طبعه: ۲، موصل: مکتبة العلوم والحکم ، کال: ۱۴۰۴ – ۱۹۸۳، د حدیث نمبر: ٤۳۷، ج: ۱۸، ص: ۱۸۵. امام الباني ویلي، چې دا حدیث صحیح دی.
۷ سورة النساء آیت: ۴۸.

**ژباړه: بیشکه الله تعالی شرک نه ښښي او پرته له شرک څخه نور ګناهونه چاته چې وغواړي ښښي او هرهغه څوک چې له الله تعالی سره شریک ونیسي، په تحقیق سره په الله تعالی پورې یې لوی دروغ وتړل او د لویه ګناه یې وکړه. (۱) اما د مؤمن د وینې په تویولو باندې لاس پورې کول د اجبار په حالت کې هم نه مباح کوي. (۲)**

**اوس راځم دې مسئلې ته چې که یو شخص د اجبار په صورت کې یو څوک قتل کړي نو حکم یې څه دی؟**

**فقهاؤ و په دې مسئله کې اختلاف کړی چې په لاندې ډول دی:**

**۱: امام ابوحنیفه او امام محمد (۳) (رحمهما الله) وایي: که اجبار تامه وي نو په مجبَر قصاص نشته صرف تعزیر ورکول کیږي بلکه قصاص په مجبِر باندې لازمیږي، ځکه چې اصل کې قاتل مجبِر ده او د مجبَر څخه یواځې د قتل صورت موندلی نو دلته مجبَر د آلې مثال لري (٤) د دوی دلیل حدیث شریف دی، له ثوبان (رضی الله عنه) (۵) څخه روایت دی، چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: (إن الله تجاوز عن أمتي ثلاثة: الخطأ، والنسیان، وما أکرهوا علیه) (٦)**

**ژباړه: الله تعالی زما امت ته له دریو شیانو تیر شوی (عفوه یې ورته کړې او هغوی په دغو دریو شیانو نه نیسي) یو خطا بل هېره او بل کله چې په دوی باندې اجبار او زور وشي.**

**نو عفوه له یو شي نه په حقیقت کې عفوه د هغه له موجب څخه هم ده. له حدیث شریف څخه په ښکاره ډول معلومیږي، چې دلته د قتل په صورت کې هم مجبَر معاف دی او قصاصورباندې نشته. اما که اجبار ناقص وي، نو بیا د قصاص مانع نشته نو قصاص لازمیږي.**

---

۱ **کابلی تفسیر**، ج: ۱، ص: ۴۸۲.
۲ السرخسی، **المبسوط** ، ج: ۲۴، ص: ۴۵- ۴۶.
۳ محمد بن الحسن الشیباني اسم کنیه یې ابو عبدالله ده، پلار یې واسط ته راغی او محمد بن الحسن هم په واسط کې په ۱۳۲هـ کې پیدا شو او په کوفه کې را لوی شو، د حدیثو او فقه علم یې له لویو علماؤو څخه زده کړی لکه مسعر، مالک بن مغول، عمر بن ذر، سفیان ثوری، اوزاعی، ابن جریج، امام ابو حنیفه او داسې نور اما په فقه کې ډیر ماهر وو نو ځکه په فقه کې مشهور هم شو ، هارون رشید دیو څه وخت له پاره په رقه کې قاضي مقرر کړ او کله چې هارون رشید د ری منطقې ته ولاړ نو امام محمد یې هم له ځانه سره بوته او بیا هملته وو تر څو هملته په ۱۸۹هـ کال کې وفات شو.
مرجع: ابن سعد، أبو عبد الله محمد بن سعد بن منیع الهاشمي بالولاء، البصري، البغدادي (وفات: ۲۳۰ هـ) **الطبقات الکبری**، طبعه: ۱، دار صادر – بیروت، کال: ۱۹۶۸ م، ج: ۷، ص: ۳۳۶- ۳۳۷.
٤ الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع** ، ج: ۷، ص: ۱۷۹، / او السرخسی، **المبسوط**، ج: ۲۴، ص: ۷۶.
۵ ثوبان (رضی الله عنه) د نبی کریم( صلی الله علیه وسلم) آزاد شوی غلام وو، اسم کنیه یې ابو عبدالله یا ابو عبدالرحمن ده، پلار یې جحدر یا بجدد نومیده ، دی یماني وو. له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) څخه یې زیات علم زده کړی وو، د مصر په فتح کې یې هم شرکت کړی وو. په حمص، رمله او مصر کې یې کورونه درلودل، د هجرت په ۵۴ کال په حمص کې وفات شو. مرجع: الذهبی: **سیراعلام النبلاء**، ج: ۳، ص: ۱۵ – ۱۸.
٦ الطبراني، **المعجم الکبیر**، ج: ۲، ص: ۹۷. امام الباني ویلي، چې دا حدیث صحیح دی.

**۲: امام ابویوسف (۱) (رحمه الله) وایي: په دواړو باندې قصاص نه لازمیږي، ځکه مجبِر خو په حقیقت کې قاتل نه دی؛بلکې صرف د قتل سبب دی، اصلی قاتل خو مجبَر دی، ځکه قتل خو له هغه نه صادر شوی، نو کله چې قصاص په مجبَر باندې لازم نه شو، په مجبِر باندې باید په طریقه اولی سره لازم نه شي. (۲)**

**۳: جمهور فقهاءوایي: په دواړو باندې قصاص لازمېږي، ځکه چې قتل هغه فعل ته وایي چې عادتاً د انسان ژوند له منځه وړي او دغه کار په دواړو کې (مجبَر او مجبِر) موجود دی، البته په مجبَر کې په مستقیمه توګه موجود دی، ځکه قتل له هغه نه صادر شوی او په مجبِر کې د سبب په توګه موجود دی، نو کله چې د قتل معنا په دواړو کې راغله، په دواړو باندې قصاص لازمېږي. (۳)**

**راجح قول: زما په نظر د طرفینو خبره سمه او قوي خبره ده، چې قصاص په مجبِر (جبر کوونکي) باندې لازم شي او مجبَر (جبرکړای شوي) ته صرف تعزیر ورکړل شي، ځکه چې اصلي لامل د قتل خو همدا مجبِر دی، نو د قصاص وړ هم دغه مجبِر دی او مجبَر خو مجبور او اړ شوی دی دې کار ته، نو ځکه باید قصاص نه شي او تعزیر باید ځکه ورکړل شي، چې هغه هم مکمل بې قصوره او بې ګناه نه دی.**

---

۱ امام، مجتهد، علامه، محدث او قاضی القضاة ابو یوسف اصلی نوم یې یعقوب ده د ابراهیم بن حبیب بن حبیش بن سعد بن بجیر بن معاویه الانصاري ځوی ده، په ۱۱۳هـ کال کې پیداشوی، له مختلفو راویانو څخه یې احادیث روایت کړي لکه هشام بن عروه، یحیی بن سعید الانصاری، عطاء بن السائب، یزید بن ابی زیاد، ابی اسحاق الشیباني، حجاج بن ارطاة، امام ابو حنیفه او داسې نور اما له امام ابو حنیفه سره پاتې شو او له هغه سره یې ډېره شاګردي وکړه او د فقه علم یې هم له هغه څخه زده کړ او د ډېرو پوه او زیرکو شاګردانو له جملې څخه وو، خپله امام ابو یو سف وایي چې ما له امام ابو حنیفه سره اوولس کاله شاګردي کړېده، او د پنج شنبې په ورځ پنځم د ربیع الاول ۱۸۲ هـ کال کې وفات شو. مرجع: الذهبي، **سیراعلام النبلاء**، ج: ۸، ص: ۵۳۵- ۵۳۸.

۲ الکاساني، **بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع** ، ج: ۷، ص: ۱۷۹.

۳ الدسوقي، **حاشیة الدسوقي على الشرح الکبیر**، ج: ۴، ص: ۲۴۶. / او الضبي، أحمد بن محمد بن أحمد بن القاسم (وفات: ۴۱۵هـ)، **اللباب في الفقه الشافعي**، طبعه: ۱، دار البخاری، المدینة المنورة، المملکة العربیة السعودیة، کال: ۱۴۱۶هـ، ج: ۱، ص: ۳۵۴. / او ابن قدامه، **المغنی لابن قدامة**، ج: ۸، ص: ۲۶۸.

## د لومړي فصل لنډیز

نکاح په لغت کې یو ځای کولو ته وایي او په اصطلاح کې له هغه عقد څخه عبارت دی، چې د ښځې او سړي د کورنۍ د تشکیلولو په مقصد روا شوی او د دواړو خوا وو حقوق یو پر بل باندې لازم وي. د نکاح ثبوت او روا والی په قرآنکریم، سنت، اجماع او عقل یا قیاس باندې ثابت دی.

د نکاح هغه ارکان چې په هغه باندې د فقهاوو اتفاق دی دوه دي. ایجاب او قبول، اما نورو فقهاوو بغیر له احنافو څخه له ایجاب او قبول سره سره ځینې نور ارکان هم ذکر کړي، لکه: د مالکیانو په نزد ولي، محل (ښځه او مېړه) او مهر، د شافعیانو په نزد ښځه، مېړه، ولی او شاهدان او د حنابله وو په نزد زوجان (ښځه او مېړه) چې خالي وي، د نکاح له موانعو څخه، لکه: نسب، عدت، رضاع او داسې نور.

او د نکاح شرطونه چې په څلور ډوله دي او د ټولو شرطونو وجود ضروري دی.

اول د انعقاد شرطونه: اهلیت د تصرف، د ایجاب او قبول مجلس باید یو وي،قبول باید له ایجاب سره موافق وي،ایجاب او قبول باید په مخصوصو الفاظو سره وي، که صریح الفاظ وي او که کنایي الفاظ،قبول باید له ایجاب سره متصل وي.

دویم د نافذیدو شرطونه: بلوغ او آزاد والی.

درېیم د صحت شرطونه: عدم محرمیت، نکاح باید تر یو وخت پورې موقوفه نه وي، لکه میاشت، کال او داسې نور، شاهدان باید حاضروي، دواړه طرفه باید په دې نکاح راضي وي البته دا شرط د جمهورو په نزد دی.

څلورم د لزوم شرطونه: په اولیاوو کې د پلار یا نیکه شتون، مېړه باید د ښځې کفو یا سیال وي، د ښځې مهر باید له مهر مثل څخه کم نه وي او مېړه باید له عیبونو څخه پاک وي.

دا وه د اول مبحث خلاصه، اوس راځم دویم مبحث ته چې په دې کې مې د اجبار په اړه معلومات راټول کړي.

اجبار په لغت کې غلبې او اکراه ته وایي او په اصطلاح کې هر هغه انساني ضد عمل دی، چې د انسان کرامت، شرافت، عزت، آزادي، حیثیت او انساني شخصیت ته زیان رسوي.

د اجبار ارکان څلور دي، اول مجبِر: هغه نفر چې په زور په بل چا باندې یوکار وکړي، دويم مجبَر: هغه شخص چې په ده باندې کوم کار په زور وکړل شي، درېیم مجبَر علیه: هغه قول یا عمل چې اجبار په هغه کې واقع کېږي، څلورم مجبَر به: هغه د تهدید اقسام چې مجبَر ته متوجه کېږي، لکه: وژل، د کوم اندام قطع کول، د مال له منځه وړل، وهل او داسې نور.

د اجبار شرطونه: اول: د جبر کوونکی قدرت په هغه کار باندې چې مجبَرورباندې تهدیدوي، دویم: د جبر کړای شوي شخص ویره د هغه کار له واقع کېدو څخه چې دی ورباندې تهدید شوی وي، درېم: هغه کار چې جبر ورباندې کېږي مخکې له اجبار څخه منع شوی وي، څلورم: تهدید به یا د انسان له منځه وړل وي یا د کوم اندام له منځه وړل او یا به داسې کار وي، چې د انسان رضایت له منځه وړي او پینځم: جبر باید په ناحق او زور سره وي.

د اجبار انواع: اجبار په دوه اعتبارونو باندې تقسیم شوی، یو په اعتبار د (مجبَر علیه) سره یعنې په کوم شي باندې چې اجبار کېږي که هغه عمل وي او که قول دا قسم اجبار په دوه ډوله دی، اجبار بحق او اجبار بغیر حق، بل په اعتبار د (مجبَر به) سره یعنی اسباب د اجبار چې عبارت دي د تهدید له اقسامو څخه، دا قسم اجبار هم په دوه ډوله دی، اجبار ملجئ یا تام او اجبار غیرملجئ یا ناقص.

د اجبار حکم: اجبار د جبر کوونکی له پاره حرام دی، ځکه چې اجبار ظلم دی اود جبر کړای شوي په حق کې دادی، چې اجبار که تام وي او که ناقص، په دواړه صورتونو کې اهلیت د وجوب او خطاب په اداء کولو د مامور به له منځه نه ځي،ځکه عقل او بلوغ لاتر اوسه پورې شته صرف په اجبار تام کې رضا نه وي او اختیار فاسدیږي اما په ناقص کې رضا نه وي، خو اختیارهم نه فاسدېږي.

د اجبار تاثیرات په تصرفاتو کې: هغه تصرفات چې له مجبَر نه صادریږي، په دوه ډوله دي: یو قولي تصرفات او بل فعلي تصرفات.

اول: د اجبار تأثیرات په قولي تصرفاتو کې، احناف وایي: د اجبار تأثیرات په قولي تصرفاتو کې مختلف دي، ځکه دا قول به یا اقرار وي یا انشاء.که چېرې د مجبَر قول د اقرار له جملې څخه و، نو اقرار یې باطل دی. اما انشاء بیا په دوه قسمه دی کله کله انشاء داسې وي چې د فسخ احتمال لري او کله کله بیا د فسخ احتمال نه لري، نو هغه چې د فسخ احتمال لري هغه موقوف دی د مجبَر تر اجازي پورې لکه:

بیع، اجاره او داسې نور عقودونه او هغه چې د فسخ احتمال نه لري او په ټوکو سره هم صحیح کېږي لکه نکاح، طلاق، رجعت، قسم، ظهار او ایلاء، نو په داقسم تصرفاتو کې اجبار هېڅ تأثیر نه لري، لکه څرنګه چې دا تصرفات په ټوکو باندې صحیح کېږي، نو په اجبار سره هم صحیح کېږي. جمهور وایي: په قولي تصرفاتو کې اجبار مکمل تأثیر لري، یعنې د مجبَر په قول باندې هېڅ حکم نه مرتب کېږي، بلکې قول یې بې فایدې دی، یعنې نه یې طلاق واقع کېږي او نه یې بیع صحیح کېږي او نه یې کوم بل قولي تصرف صحیح کېږي.

دویم: د اجبار تأثیرات په فعلي تصرفاتو کې دا قسم افعال په څلور ډوله دي.

**اول:** هغه افعال چې اصلا روا او جائز وي پرته له اجبار نه، لکه خوړل یا څښل. نو که په کوم شخص باندې په داقسم افعالو کې اجبار وشي، په مجبَر باندې لازم دي، چې په اخف د ضررینو باندې عمل وکړي.

**دویم:** هغه افعال چې شارع د ضرورت په وخت کې مباح کړي وي، لکه د شرابو څښل یا له مردارې څخه خوړل، په دا قسم کارونو کې که اجبار تام وي، نو په مجبَر باندې لازم او واجب دي، چې دا کار وکړي او خپل ځان وژغوري له قتل یا هلاکت څخه.

**دریيم:** هغه افعال چې شارع د ضرورت په وخت کې ورته رخصت ورکړی وي، اما بیا هم که مجبَر دا کار ونه کړي او هغه تکلیف تحمل کړي، نو د الله تعالی له طرف نه هغه ته اجر او ثواب ورکول کېږي، لکه اجبار په کفر باندې یا اجبار په سپکاوي د دین باندې. نو که یو انسان په داسې کار باندې مجبور شي اما ایمان یې په زړه کې محکم وي، دا کار دې وکړي او کومه ګناهورباندې نشته.

**څلورم:** هغه افعال چې مجبَر ته په هېڅ صورت کې حلال نه دي، لکه د یو انسان قتلول په ناحقه باندې، همدا رنګه د یو انسان د یو اندام له منځه وړل یا کوم بل ظلم کول، نو که چېرېپه یو نفر باندې د داقسم کارونو له جملې څخه اجبار وشي، مجبَر ته جائز نه ده چې دا کار وکړي.

# دویم فصل

## په افغانستان کې د اجباری نکاح صورتونه، د هغو څېړنه او پایلې یې

د څېړنې اساسي او مهمې نکتې په همدې فصل کې بیانې شوي دي، په دې معنا چې په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه کوم دي؟ آیا په جبر او زور باندې نکاح صحیح کیږي؟ کومې ښځې چې په جبر او زور په نکاح ورکړل شوي، یا کومو کسانو ته چې په جبر او زور واده شوی دغه اجباري واده د هغوی په ژوند څه منفي اغیزې کوي؟

د دغه ټولو پوښتنو ځوابونه په همدغه فصل کې بیان شوي دي، نو همدغه پوښتنو ته په کتنې سره دغه فصل په دریو مبحثونو ویشل شوی دی، په اول مبحث کې د نکاح هغه صورتونه ذکر دي، چې په افغانستان کې معمول او رواج دي، په دویم مبحث کې د اجباري نکاح د صورتونو څېړنه شوې، چې په کومو صورتونو کې نکاح صحیح کېږي او په کومو صورتونو کې نه صحیح کېږي؟ او په دریم مبحث کې د اجباري نکاح صورتونو پایلې ذکر دي.

## لومړی مبحث

### د افغانستان په ځینو ولایتونو کې د نکاح صورتونه

دا مبحث په درې مطالبو باندې مشتمل دی، چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

لومړی مطلب: په عمومي ډول په افغانستان کې د نکاح صورتونه

دویم مطلب: د افغانستان په ځینو ولایتونو کې د نکاح په اړه له خلکو سره مرکې

لومړی فرعه: د غزني ولایت مرکه

دویمه فرعه: د ننګرهار ولایت مرکه

دریمه فرعه: د هلمند ولایت مرکه

شلورمه فرعه: د کندهار ولایت مرکه

پینځمه فرعه: د بدخشان ولایت مرکه

شپږمه فرعه: د خوست ولایت مرکه

اوومه فرعه: د کندز ولایت مرکه

اتمه فرعه: د کابل ولایت مرکه

نهمه فرعه: د تخار ولایت مرکه

درېیم مطلب: په ځینو رسمي ادارو کې د اجباري نکاح د ثبت شوو پېښو شمیر

لومړۍ فرعه: د ښځو چارو د وزارت راپور

دویمه فرعه: د بشري حقونو د خپلواک کمیسون راپور، اوس راځم اول مطلب ته.

## لومړی مطلب: په عمومي ډول په افغانستان کې د نکاح صورتونه

په دې خاطر چې په افغانستان کې د اجباري نکاح صورتونه پیدا کړم، نو لازمه مې وګڼله چې اول باید په افغانستان کې د نکاح ټول صورتونه پیدا کړم، بیا له هغه صورتونو څخه اجباري صورتونه جلا او د هغو څرنګوالی په شریعت او قانون کې ذکر کړم او د دې کار له پاره آسانه لار انټرنټ وه، نو ځکه ما هم په دې مطلب کې له انټرنټ څخه استفاده کړې ده. په افغانستان کې د نکاح د صورتونو په اړه مختلفې څېړنې شوې وې،خو ما په دې څېړنو کې یوه داسې څېړنه انتخاب کړه، چې هم یې ټول صورتونه ذکر کړي او هم یې هر یو صورت تشریح کړی، چې هغه عبارت ده له: (انواع ازدواج در افغانستان) څخه په دې څېړنه کې ټول اوولس (۱۷) قسمه د نکاح صورتونه ذکر کړي، چې په لاندې ډول دي:

۱: د ماشومانو ودول: ځینې کورنۍ خپل ماشومان په ماشوم توب کې ورکوي او بیا تر بلوغ پورې هغوی منتظر کوي چې ډیر کرته داسې ودونه خرابې پایلې لري.

**۲: رسمي ودونه:** دا هغه د معمول مطابق ودونه دي چې اول مرکه (خواستګاري) کېږي بیا واده کېږي.

**۳: اجباري ودونه:** دا قسم ودونه غیر عادي ودونه دي، چې یوه نجلۍ په زور له یو چا سره واده ته مجبوره کېږي، چې عمده دلائل یې فقر، غلط رواجونه، نا امني او د ښځو د فرهنګ دوام دی، چې په اوسط ډول هر کال ۲۳۰ اجباري ودونه واقع کېږي.

**۴: د ولور واده:** په بعضې غربي ولایتونو کې یو کس خپله لور یو چاته د یو اندازه پیسو مقابل کې په نکاح ورکوي،تر هغه چې زوم دا ټولې پیسې خسر ته ورنه کړي، حق نه لري چې خپله ښځه د خسر له کور څخه خپل کور ته بوځي. کله کله دا سې هم پېښېږي چې د همدې ښځې د پلار په کور کې دوه یا درې ماشومان هم پیدا شي.

**۵: په بدو کې ورکول:** بد ترین او خراب ترین رواج په بدو کې د نجونو ورکول دي، که یو کس له یوې کورنۍ څخه څوک قتل کړي یا دې ته ورته کوم جرم وکړي، نو دغه قاتل له مرکې وروسته خپله خور یا لور د مقابل لوري کورنۍ ته ورکوي، یعنې په حقیقت کې دغه د بدو دود یوه نجلۍ قرباني کول دي.

**٦: د بدل واده:** یوه کورنۍ خپله لور د بلې کورنۍ هلک ته په نکاح ورکوي او له هغې کورنۍ څخه یوه نجلۍ خپل زوی یا ورور ته واده کوي.

**۷: میراثي واده:** د افغانستان په ډېرو ځایونو کې دا رواج ده، که یو ورور مړ شي، نو د مړ شوي کس مېرمن د هغه ورور ته، یا دهغوی نږدې خپلوانو ته په نکاح ورکوي، په داقسم نکاح ګانو کې د عمر کموالی یا زیاتوالی مهم نه وي،یوازې د ننګ او ناموس خبره وي، یعنې د مړه کورنۍ نه پرېږدي چې د دوی ناموس د بل چاشي.

**۸: په ډله ییز ډول واده کول:** په ځینو ځایونو کې خصوصا په هزاره ګانو کې خلک په یوه ورځ په یو تالار کې له پنځوسو څخه تر سلو ځوانانو په یو ځای واده کوي، دا قسم ودونه له ډېرو مصارفو مخنیوی کوي او یو ځوان په ډېره ساده ګۍ سره کولای شي، چې د واده څښتن شي.

۹: د موافقې واده کول: یوه کونډه ښځه وروسته له موافقې، یا د دواړو کورنیو له موافقې وروسته له یو چا سره نکاح کوي او له هغه سره د هغه کور ته ځي، البته دا په هغه وخت کې چې کونډه بغیر د مېړه له کورنۍ څخه بل کس سره واده وکړي.

۱۰: د بدلې واده: یو کس د چا قرضدار وي یا کوم هلک یوه نجلۍ په عاشقي باندې تښتولې وي،یا کوم کس د چا ناموس ته په سپکه کتلي وي، یا داسې کوم بل جرم وي، چې د همدې مشابه وي، نو اصلي کس مقابل لوري ته د همدې جرم مقابل کې خپله لور یا خور ورکوي. دا واده هم مکمل د بدو واده دی.

۱۱: په قمار کې د بایللو واده: ځینې قمار بازان خپله لور یا خور په قمار کې له بایللو وروسته هغه چا ته ورکوي، چې په قمار کې یې ترې وګټي او دا کار په اسلام کې حرام دی.

۱۲: د خرڅولو اواخیستلو واده: په ځینو ځایونو د افغانستان کې ښځې د سامان په توګه اخیستل کېږي او خرڅول کېږي.

۱۳: مؤقتي یا د صیغې واده: موقته یا د صیغې نکاح صرف د شیعه ګانو په مذهب کې شته اما هغوی هم دا قسم نکاح ډېره په پټه کوي.

۱۴: د جهاد واده: دا یو مستعار نوم دی، د جنسي رابطې له پاره د جهاد په نامه باندې، کله چې یوه نجلۍ په زور یا په خپله خوښه باندې د یو جهادي کس د جنسي خواهشاتو پوره کولو په خاطر اقدام کوي، هغه ته د جهاد واده یا د جهاد نکاح وایي، البته دا قسم نکاح صرف د داعشیانو په منځ کې شرعي بلل کېږي.

د داقسم واده په اړه مې پخوا بلکل نه وو اوریدلي، اول ځل مې دی، چې په افغانستان د دا قسم واده په اړه خبر شوم، ځکه چې پخوا د داعشیانو ډله په افغانستان کې موجوده نه وه او بله داچې دا قسم نکاح بغیر د داعشیانو له ډلې په نورو ځایونو کې نشته.

۱۵: د وړې ماشومې واده کول له یو مشر کس سره: یو څوک یوازې د پیسو په خاطر خپله وړه لور د هغې له خوښې پرته یو مشر سړي ته په نکاح ورکوي، چې دا قسم واده ته ازدواج زیر سن یا د کم عمر واده وایي او دا غیر قانوني واده دی، یعنې که پیسې نه وي، دا پلار خپله لور داسې کس ته نه ورکوي.

۱۶: په زور واده: دا قسم ودونه وروسته له داخلي جنګونو څخه په افغانستان کې رواج شوي، هغه داسې چې یو زور واکی یا قومندان په زور یوه نجلۍ له خپل کور څخه باسي، د هغې او د هغې د مور او پلار له خوښې پرته له هغې سره نکاح کوي، یا داچې اول له هغې سره جنسي تجاوز کوي، بیا ورسره نکاح کوي یا د نجلۍ پلار ته ګواښ کوي، چې د لور دستمال دې تر سبا راکړه کنې وژنم دې، حتا کله کله داسې هم پیښ شوي، چې یوه واده شوې ښځه د هغې د ښایست په خاطر د هغې د مېړه له کور څخه تښتول شوې او له هغه سره نکاح شوې.

۱۷: د تښتونې واده: ځینې واده شوې ښځې له خپل کور څخه تښتي له بل کس سره او بیا له هغه سره نکاح کوي، پرته له دې چې له اول مېړه څخه طلاق واخلي او معمولاً دا قسم ښځې له افغانستان څخه وځي او په کوم بل مملکت کې واده کوي. (۱)

دا ټول صورتونه د اجباري نکاح نه دي، ځکه چې په ځینو صورتونو کې بلکل اجبار نشته، لکه د کونډې د موافقې واده، چې په خپل رضایت واده کوي، یا د صیغې او په ډله ییزه توګه واده، چې په دې کې هم هېڅ اجبار نشته، داچې په کومو صورتونو کې اجبار دی او زه باید کوم صورتونه وڅېړم، نو دا خبره د مبحث په آخر کې ذکر کوم، انشاءالله.

## دویم مطلب: د افغانستان په ځینو ولایتونو کې د نکاح په اړه له خلکو سره مرکې

زما له موضوع سره داسې مناسب وو، چې د افغانستان له ټولو ولایتونو څخه د اجباري نکاح هغه صورتونه راټول کړم، چې په خلکو کې معمول دي، اما په ټولو ولایتونو کې مې ونه شو کولای، ځکه امکانات مې نه درلودل،خو له ځینو ولایتونو څخه مې وکړای شول، چې دا صورتونه راټول کړم او د هر ولایت مرکه مې په یوې فرعه کې ذکر کړې، اوس راځم همدغو مرکو ته.

**یادونه:** د مرکو په اړه باید ووایم چې ما دا مرکې په داسې ترتیب برابرې کړې، چې اول مې له مرکه کوونکي څخه د هغوی په سیمه کې په عمومي ډول د ودونو په اړه پوښتنه کړې،په دې په خاطر چې اجباري او غیر اجباري صورتونه راته معلوم شي او د مرکه کوونکي نظر هم پکې اخیستل شوی، چې د هغه په نظر

---

۱ د ځیرنوال کریم پوپل ځیړنه: **انواع ازدواج د رافغانستان**، ۸ اکتوبر، ۲۰۱۷م، د مشعل سایټ، www. Mashal. org

کوم ډول ودونه سم او کوم ډول يې ناسم دي، بيا مې د اجباري صورتونو په اړه پوښتنه کړې، چې زما په نظر د اجباري نکاح مهم صورتونه درې وو، يو په بدو کې ورکول، بل د بدل واده او بل د کونډې واده کول په زور باندې. نو ځکه مې د دغو دريو صورتونو پوښتنه په مستقله توګه کړې او د مرکه کوونکي په اړه معلومات، د مرکې ځای او د مرکې تاريخ مې په حاشيه کې ذکرکړي دي.

## لومړۍ فرعه: د غزني ولايت مرکه

۱– پوښتنه: ستاسو په سيمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې يا خويندې واده کوي؟

ځواب: لکه څرنګه چې په ټولو پښتنو سيمو کې معمول دی،زموږ خواته هم دا معمول دی، د ولور واده شته، د مخي (بدل) واده شته، په بدو کې د نجونو ورکړه شته، کله کله داسې نادرې هم پېښېږي، چې يو ځوان را ولاړيږي يا پيسې نه لري،يا يې مور او پلار ورسره سختي کوي، په يوې نجلۍ باندې ټکونه کوي او هغه ټکيزه کوي، يعنې چې دا نجلۍ زما شوه، څوک ور نږدې نه شي او بل د وړيا واده دی، په هغه کې مور او پلار را ولاړ شي يو ځوان يې خوښ وي يا يې د لور د راتلونکې له پاره يو ځای خوښ وي، په خپله په ننګ باندې ورته وايي چې دا لور مې په بل چا باندې نه لوريږي، تا ته يې درکوم ولور هم مه راکوه، د واده مصارف يا پرې کيږدي او يا د واده مصرف هم په خپله پلار کوي، نو دا قسم واده ته وړيا واده وايي.

۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم ناسم دي؟

ځواب: موږ اوتاسو مسلمانان يو که شريعت ته وګورو، نو دغه وړيا واده درست او سم دی او دا د ولور واده په دا قسم ولور اخيستل چې اوس په خلکو کې رواج او معمول دی درست نه دی،همدا رنګه د ښځو په بدو کې ورکړه يا په مخي باندې ورکړه، يا يو ځوان يوه نجلۍ ټکيزه کوي، نو دا هغه ودونه دي چې بيا نا مطلوبه او خرابې پايلې لري او د قومونو تر منځ بد او دښمني رامنځته کوي.

۳– پوښتنه: کله چې خلک خپلې لورګانې يا خويندې په نکاح ورکوي، نو آيا د هغې د رضايت يا خوښې پوښتنه ورڅخه کوي؟

ځواب: داسې شاذ او نادر پيداکيږي، چې مور او پلار دې راولاړ شي او له خپلې لور څخه دې پوښتنه وکړي، چې چاته دې ورکړم،يا مثلا دغه فلانکی سړی دې خوښ دی او که نه؟

اما نور په پښتني ټولنه کې مور او پلار دومره عزت لري، چې اولاد يې په مقابل کې سر نه پورته کوي او اولاد هم له مور اوپلار نه شرمېږي، نو مور او پلار چې اولاد ته کوم سرنوشت وټاکي، اولاد هم هماغه خپل سرنوشت بولي او د مور پلار په مقابل کې زيات لاس او پښې نه ښوروي او دا کار ځکه کوي، چې يو خو له لويه سره دا رواج راغلی بل داچې که مور او پلار په دې پوه شي، چې د لور مې فلانی سړی خوښېږي، نو دا د هغې په بد اخلاقۍ باندې دلالت کوي او هغې ته يو قسم پيغور پاتی کېږي.

۴ – پوښتنه: ستاسو په نظر په بدو کې د نجونو ورکول له کوم وخت څخه پيل او هدف يې څه دی؟

ځواب: زما په غالب ګمان دا دود د جاهليت له زمانې راپاتې دی او بيا د اسلام له راتګ نه وروسته هم خلکو په دې هدف دغه دود ته دوام ورکړ، چې کله د يوې نجلۍ پلار يا ورور يو کس مړ کړي، يا يې ګوډ کړي، يا کوم بل تاوان ور ورسوي، نو د هغه جبران يا د بيرته د دوستۍ د ټرون وجه همدا نجلۍ کېدای شي، چې دغه لور قربانۍ ته ورکوي، نو د دغه قاتل کولمې هم د مقتول له کورنۍ سره ګرو شي او د مقتول د کورنۍ کولمې هم د قاتل له کورنۍ سره ګرو شي، نو مجبور دي چې له دې وروسته له هغوی سره سمه وضعه کوي او د غه نجلۍ د هغه مقتول په کورنۍ کې خدمتګاره شي، هغوی هم په خپل زړه کې هغه بدنيتي او کدورت (دښمنۍ) نه پرېږدي او همدا دوستې کولای شي چې دښمنۍ ختمه کړي البته دا خبره دوی له خپلې ګېډې څخه ويلې ده او په شريعت کې داسي نشته.

۵ – پوښتنه: په بدو کې د نجونو ورکول څه پايلې لري؟

ځواب: په بدو کې د نجونو ورکول يوه ښېګڼه لري او نورې ډېرې بدې پايلې لري، ښېګڼه يې داده، چې د خلکو په منځ کې چې کومه دښمني پيدا شي، نو همدا نجلۍ يې د دې دښمنۍ له منځه وړلو او د بيرته دوستۍ وجه وي، يوازينۍ ښېګڼه يې همدا ده او نورې ټولې پايلې يې بدې دي اول يې داچې د دغه واده شکل د نورو ودونو سره فرق کوي – په پښتنو کې يوه خبره معمول ده، چې په بدوکې خو دې نه يم راوړې، په دې معنا چې نه پکې خوشحالي وي او نه پکې ډول وي نه سرنی. همدا سې له لاسه يې نيسي او ور وباسي يې او هغوی ته يې په لاس ورکوي، چې دا کار د نجلۍ په زړه او اعصابو باندې يو قسم تاثير کوي او په روحيه باندې بل قسم تاثير کوي، بل داده چې په زياتره ځايونو کې له همدې نجلۍ د هغو بدو انتقام اخلي چې د دې پلار يا ورو کړي وي، زجر ورکوي، ځوروي يې او قسم قسم تکليفونه ورکوي.

۶ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې خلک په کوم هدف د بدل واده کوي؟

ځواب: زموږ په ځای کې د بدل واده ته د مخي واده وايي، همداچې د يو کس لور او زوی ځوانان شي، نو خپل ځان ته بل سړی پيداکړي، چې د هغه هم لور او زوی ځوانان وي،نو خپله لور د هغه زوی ته او د هغه لور خپل زوی ته واده کوي، يعنې خلک دا خپله لور د زوی د واده له پارهيوه وجه بولي او وايي که دا لور په دنيا ورکړم، نو بيا زوی ته به له کومه واده کوم، نو بس همدا لور ورکړي او زوی ته ورباندې واده وکړي.

۷ – پوښتنه: د بدل واده کومې پايلې لري؟

ځواب: دا دوه قسمه پايلې لري کله کله دواړه کورنۍ د مخې له واده وروسته دومره سره خوږې شي، چې ډېر کلک دوستان شي او کله کله بيا د دواړو ترمنځ بدي او جنګونه رامنځته شي، په يوې نجلۍ باندې که هرڅه کېږي هغه بل لورى د دوی په لور باندې د انتقام په نيت هماغسې کوي.

۸ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې کونډه په خپله خوښه د بل چاسره ( دمېړه له کورنۍ پرته) واده کولای شي؟

ځواب: نه ابداً نه پرېښودل کېږي چې له بل کس سره واده وکړي، البته دا خبره ده که دا ښځه په مفته راغلې وي يعنې د کورنۍ پيسې ورباندې نه يي مصرف شوې، نو بيا پرېښودل کېږي چې له هرچا سره واده کوي، کولای يې شي،خو که د کورنۍ او ورونو ګډې پيسې ورباندې تللي وي، بيا دا حق نه لري چې له بل چا سره واده وکړي، حتما به په همدې کورنۍ کې واده کوي، د مېړه له سکه ورور نيولې د کورنۍ تر وروستي غړي پورې.

۹ – پوښتنه: په زور باندې د کونډې ودول څه پايلې لري؟

ځواب: اول خو داچې دا کار شرعا ناروا دی، دويم دا کار ډېرې بدې پايلې لري، ځکه چې ډېر کله داسې وي، چې کونډه داسې ماشوم ته واده کړي، چې هغه په هيڅ نه پوهېږي، نو کونډه ورته ناسته وي؛

ترڅو هغه رالوی شي، یا یې سپین ږیري ته واده کړي، چې په دواړو حالتونوکې ژوند ډېر تریخ او خراب تېرېږي.(۱)

## دویمه فرعه: د ننګرهار ولایت مرکه

**۱ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې یا خویندې واده کوي؟**

ځواب: زموږ په سمیه کې خلک په عام طور باندې خپلې لور ګانې په دوه ډوله واده کوي، یو په ولور یعنې د پیسو په مقابل کې او بل په بدل باندې او نور اقسام هم شته د ودونو البته په ځینو خلکو کې پېښېږي، چې د خلکو تر کورنیو پورې تعلق لري، لکه په بدو کې ورکول یا همداسې له ولور پرته ورکول. ځېنې کورنۍ داسې دي چې خپله لور یو عالم او تقوا دار کس ته همداسې ورکوي، صرف د الله تعالی درضا له پاره، یعنې ولور نه ترینه اخلي حتا د واده مصارف هم خپله د نجلۍ پلار کوي، ځېنې کسان داسې هم شته چې د خپلې لور ولور ورته مهر وګرځوي او هغې ته یې مصرف کړي او ځېنې داسې هم شته چې د لور ولور په خپل جیب کې واچوي او د لور پکې هیڅ برخه نه وي، نو خلک په دې اړه مختلف دي.

**۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم ناسم دي؟**

ځواب: زما په نظر دا بغیر د ولور څخه ورکول (۲) د شریعت مطابق دي چې د مهر مثل باندې ورکوي او هغه مهرمثل دغې خپلې خور یا لور ته ورکوي اما دا نور اقسام یې دومره خاص جواز نه لري اګرکه ځینو علماوو شغار یا بدل ته جواز وکړي دی.

**۳ – پوښتنه: کله چې خلک خپلې لورګانې یا خویندې ورکوي نو آیا د هغې د رضایت پوښتنه ورڅخه کوي؟**

ځواب: په دې باره کې عام خلک په دوه ډوله دي ځېنې خلک د خپلو خویندو یا لور ګانو نه پوښتنه کوي، چې دغه هلک له دغې کورنۍ څخه دی موږ غواړو چې ورسره خپلوي وکړو (تا هغه ته ورکوو) ستا خوښه ده او کنه؟

---

۱ مرکه کوونکی: ګل محمد کوچی، په قوم اندړ، د کوچي کلا اوسیدونکی او د شیخ زاهد پوهنتون کې اداري مشاور . د مرکې ځای: د غزني ولایت، د غزني ښار د سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو مؤسسه. د مرکې نیټه: ۱۱/ ۱۱ / ۱۳۹۷.

۲ ولور په حقیقت کې مهر دی اګرکه نوم ورباندې د ولور ایښودل شوی دلیل یې دادی، چې په کوم ځای کې چې د نجلۍ پلار ولور زیات اخلي د هغه ځای په باره کې خلک وایي، چې د دې سیمې ښځې قیمته دي او دا خبره په هغه ځای کې ویل کیږي، چې د هغه ځای د ښځو مهرونه زیات وي.

اما ډېر داسې دي چې د خپلې لور يا خور نه اجازه نه اخلي او هغې ته خبر نه ورکوي، ډېر ځله داسې هم واقع کېږي، چې يو څوک خپله لور يا خور يو سپين ږيري ته د پيسو په مقابل کې ورکړي او هغه خبره هم نه وي، ځېنې کسان ځکه پوښتنه نه کوي چې هغه د جاهليت د زمانې فکر ورسره وي چې لور يا خور نه چا پوښتنه کړې؟ او بيا ځېنې کسان ځکه پوښتنه نه کوي چې هغه پيسو يې سترګې پټې کړې وي او هغه صرف هماغه پيسو ته ګوري، نو خپلې لور يا خور ته نظر نه کوي.

۴ – پوښتنه: ستاسو په سېمه کې په بدو کې د نجو ورکولو دود او رواج شته؟

ځواب: زموږ په سېمه کې دا رواج او دود تقريبا دېرش کاله مخکې و، اما اوس کرار کرارمخ په ختميدو دی، ډېر کم خلک داسې دي، چې خپلې لورګانې يا خويندې په بدو کې ورکوي.

۵ – پوښتنه: په بدو کې د نجونو ورکولو هدف څه دی او څه پايلې لري؟

ځواب: دوی دا کار په دې هدف کولو، چې دغه دښمني په دوستۍ سره بدله شي اما بالعکس دا دښمني به نوره هم زياته شوه، چې اوس هم همداسې ده، چې په بدو کې د نجونو ورکول د دوستۍ پر ځای دښمني نوره هم زياتوي.

٦ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې د بدل واده شته؟ که وي نو په کوم هدف دا کار کوي؟

ځواب: هو زموږ په سيمه کې د بدل واده ډير عام دی او لوی هدف يې دادی، چې په هغه کې په سرې باندې مصارف کم راځي، ځکه لور ورکړي او خپل زوی ته ورباندې واده وکړي، نور د لور په قيصه کې نه وي چې ژوند يې ښه تېرېږي او که خراب، بس همدا يې هدف دی، چې له مصارفو خلاص شي، يعنې خپله لور له زوی څخه قربانوياو وايي چې زوی حقدار دی.

۷ – پوښتنه: د بدل واده څه پايلې لري؟

ځواب: زه چې په دې اړه څومره معلومات لرم،زياتره خلکو چې د بدل واده کړی هغه خلک بيا په دښمنۍ ککړ شوي دي، قتل او قتال ته خبره پکې رسېدلې ده، د نجونو کينول پکې راغلي، يو د بل کورته د هغوی لورګانې نه پرېښودل پکې راغلي، يعنې د هغه نجلۍ هغه ټول حقوق پکې تر پښو لاندې کړل شوي او د يو په لور باندې چې کوم ظلم کېږي هغه بله کورنۍ د دې په خاطر چې د خپلې لور انتقام يې اخيستی وي،

هماغه شان ظلم د دوی په لور باندې کوي، داسې شاذ او نادر هم پکې شته دي، چې ښه ژوند ولري، اما زياتره پکې دښمنۍ ته رسيدلي.

۸ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې کونډه په خپله خوښه له بل چاسره ( دمېړه له کورنې پرته) واده کولای شي؟

ځواب: نه،زموږ په سيمه کې کونډه خپل مال او ميراث ګڼل کېږي او په هيڅ صورت کې د مېړه له کورنۍ پرته له بل چا سره واده نه شي کولای، حتا که دا کونډه ډېرش کلنه هم وي، نو د لسو کلونو ماشوم ته يې ساتي؛ څو هغه را لوی شي اودا ورته په نکاح کړي، اما بل چاته يې نه ورکوي او بل چاته يې ورکول ننګ او عار ګڼي، چې زموږ ښځه به څنګه له بل چا سره واده کوي، صرف ځېنې هغه کسان چې دينې علم يې کړی وي او له دين څخه خبر وي، نو هغوی بيا کونډې ته آزادي ورکوي.

۹ – پوښتنه: په زور باندې د کونډې ودول څه پايلې لري؟

ځواب: داخو معلومه خبره ده، چې کله کونډه په زور سره واده شوه، نو هغه واده نه صحيح کېږي او دوستي هم نه پاتې کېږي، نو د کونډې ژوند له خاورو سره خاورې وي، د هغې حقوق تر پښو لاندې کېږي او له ژوند نه بلکل بيزاره وي، حتا ډېر ځلې داسې هم پېښېږي، چې دا ښځه زهر وخوري يا بل دا سې کار وکړي، چې په هغې باندې خپل ځان مړ کړي. (۱)

## دريمه فرعه: د هلمند ولايت مرکه

۱ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې يا خويندې واده کوي؟

ځواب: زموږ په ځای کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې واده کوي، کله يې د پيسو مقابل کې ورکوي، لږې پيسې اخلي، خصوصا کله چې دسړي اول واده وي او که په بله ښځه (بن) باندې يې ورکوي، نو بيا زياتې پيسې ترې اخلي،له ډېرش لکو څخه تر پنځوس لکه کلدارو پورې او ځېنې خلک په مخۍ يا بدل باندې هم لور ګانې ورکوي.

۱ مرکه کوونکی: مولوی زين الدين د ننګرهار ولايت د خوګيانيو ولسوالۍ د وزيرو د قوم د احمد خيلو د کلي اوسيدونکی. د مرکې ځای: کابل ولايت د کابل ښار. د مرکې نيټه: ۱۹ / ۱۱ / ۱۳۹۷.

۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم ناسم دي؟

ځواب: زما په نظر دغه د لږو پیسو واده کول سم دي، ځکه چې همدا پیسې د لور له پاره مهر کړي او هغې ته وربانديې د کور سامان اخلي اما دا ډیرې پیسې چې اخلي هغه نو داسې وي لکه خرڅول او ټولې ورته نه مصرفوي.

۳ – پوښتنه: کله چې خلک خپلې لورګانې یا خویندې ورکوي، نو آیا د هغې د رضایت پوښتنه ورڅخه کوي؟

ځواب: زموږ په سیمه کې معمول داسې ده، چې کله د هلک کورنۍ د نجلۍ غوښتلو ته راشي، نو که د نجلۍ د کورنۍ مشوره راغله بیا دوی د هلک دکورنۍ پوښتنه کوي،لکه د هغه تعلیم، اخلاق او داسې نور، بیا د نجلۍ کورنۍ له هغې څخه پوښتنه کوي چې ستا خوښه ده؟ او د هلک ټول صفات ورته بیانه وي، که د نجلۍ خوښه وه ورکوي یې او که خوښه یې نه وه،نه یې ورکوي او د نجلۍ د خوښې پوښتنه ځکه کوي، چې د نجلۍ خوښه او رضایت شرط دی، نو که دنجلۍ خوښه نه وي نکاح نه صحیح کېږي.

۴ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې په بدو کې د نجو ورکولو دود شته؟ که وي نو هدف یې څه دی؟

ځواب: په بدو کې د نجونو د ورکړې دود ډیر پخوا و، تقریبا یوه پیړۍ مخکې،خو اوس ډیر کم دی. په بدو کې ورکول داسې وي، چې په دې واده کې نه خوشحالي وي نه کوم بل شی، صرف یوه نجلۍ له کوره را وباسي او بلې کورنۍ ته یې همداسې په لاس ورکړي، هغه داسې وه چې دوه تربرونه به وو دواړو به خپلو کې بدي سره کړې وه، نو مشران به را ولاړ شول او یوه ته به یې د بل لور ورکړه او بل ته به د بل لور، چې دا دښمني ختمه شي او په دوستۍ بدله شي، دا کار به د یوې کورنۍ یعنې تربرونو په منځ کې کیده، چې د دې امکان به نه و، چې یا یوه کورنۍ دې له دې ځایه لاړه شي او یا دې دا بله کورنۍ له دې ځایه لاړه شي، داسې نه وو چې یو نفر د یوې منطقې وي او بل د بلې منطقې وي، یعنې که د دې امکان وای، چې یوه کورنۍ دې له دې ځایه لاړه شي، نو بیا به یې دا نجلۍ په بدو کې نه ورکوله،بلکې هماغه کورنۍ به له دې ځایه تلله هماغه خپلې منطقې ته،نو هغه به کله ښه وو او کله بد، ځینې خلکو به چې تعلیم درلود هغه به ښه وو، هغوی به له نجلۍ سره ښه رویه کوله او ویل به یې دا قتل او بدي په سهوې سره شوې او کومو خلکو به چې تعلیم نه و کړي، هغوی به په نجلۍ باندې ظلم کاوه.

۵ – پوښتنه: په بدو کې د نجونو ورکول څه پايلې لري؟

ځواب: په بدو کې د نجونو ورکول تر بد بدتر وي، ځکه چې دغه د بدۍ پيداکېدل هم له همدې څخه وي، ځکه کله چې په بدو کې يوه نجلۍ ورکړي، نو دغه فاميل چې مړی ورکړه شوی وي، کله چې دې ښځې ته ګوري داسې فکر کوي چې ورور يا زوی يې همدې نجلۍ ور وژلی وي، نو دې ته ډېرې بدې خبرې کوي، پيغورونه ورکوي، ظلم ورباندې کوي، بيا بدې ترې پېښېږي، نو هېڅ ښې پايلې نه لري، ځکه چې کله په بدو کې يوه نجلۍ را واده کړي، بيا نو د هغېد کورنۍ کار دی، چې د انسان استفاده ترې اخلي او که د حيوان، ځکه چې ډېر خلک وايي چې دا خويې مور ته په بدو کې راکړې ده،نو مفته ښځه په لاس ورغلې وي، هرڅه يې چې زړه وغواړي هماغه کار ورباندې کوي.

٦ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې د بدل يا د مخۍ واده شته؟ که وي نو په کوم هدف دغه واده کوي؟

ځواب: هو زموږ په سيمه کې د بدل واده شته او زموږ په سيمه کې يې د بديل يا د مخۍ واده بولي. هغه داسې وي چې يو سړی خپله لور يو چاته ورکړي بيا هغه ته وايي چې خپله لور به دې زما زوی ته راکوې، هغه په دې خاطر که د ده په لور باندې ظلم وشي، نو هغه راشي خپل مور او پلار ته وايي چې په ما باندې داسې ظلم کوي، نو بيا دوی هم د هغوی په لور باندې هماغه قسم ظلم کوي.

۷ – پوښتنه: د بدل واده څه پايلې لري؟

ځواب: د بديل يا د مخۍ واده ډيرې بدې پايلې لري، ځکه چې د يو په لور باندې چې هرڅه کوي د هغه بل په لور هم هماغسې کېږي، ځکه خو ډېر خلک د مخۍ واده ته زړه نه ښه کوي، حتا داسې هم پېښ شوي، چې يو چا د پيسو مقابل کې دوستي سره کړې،دا بل سړی راشي ورته وايي چې له ماسره دوستي وکړه، يعنې ما خپله لور درکړې ستا زوی ته اوس ته خپله لور زما زوی ته راکړه. هغه ورته وايي چې نه زه خپله لور نه درکوم، چې دغه زړه دوستي مو سره خرابه نه شي، ځکه دا خو انسانان دي يوه ښځه به خبره وړي خپل پلار کره او بله به خبره وړي خپل پلار کره، نو دوستي به مو سره خرابه شي، نو ډيرې خرابې پايلې لري ځکه خلک دا قسم واده ته زړه نه ښه کوي.

۸ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې کونډه په خپله خوښه له بل چاسره ( دمېړه له کورنۍ پرته) واده کولای شي؟

ځواب: د موسی کلا، نوزاد او کجکي ولسوالي نه پرته په نورو ولسوالیو کې چې کله کومه ښځه کونډه شي، نو راځي دا خپلې خوابنې او خسر ته او له دوی سره په همدې کور کې اوسېږي، خپله نه غواړي چې له دې کور څخه ووځي، که په همدې کور کې کوم لیور یې بې واده پاتې وي له هغه سره واده کوي او که نه وي نو همدلته پاتې کېږي، ځکه چې په همدې کور کې یې عزت خوندي وي او وايي چې پلار مي هم دغه دی، مور مې هم دغه ده او وروڼه مې هم دغه دي، هرڅه مې همدلته دي او که د مېړهپه کورنۍ کې څوک پاتې نه وي بیا دا کونډه راځي له خپل مور او پلار سره ژوند کوي، خو له بل چا سره واده نه کوي اما که کونډه وغواړي چې بل ځای واده وکړي، نو څوک یې نه شي منع کولای ځکه چې کونډه په خپل اختیار ده. په قانون کې هم دا حق ورکړل شوی او د طالبانو له طرفه هم، مګر زموږ په ځای کې خپله کونډې نه غواړي چې له بل چا سره واده وکړي، ځکه دا کونډه وايي که زه له بل چا سره واده وکړم ممکن د دغه مېړهد کورنۍ او پخواني مېړه د کورنۍ ترمنځ بدي پیښه شي، نو د هغه مسئولیت به بیا زما په غاړه وي. (۱)

## څلورمه فرعه: د کندهار ولایت مرکه

۱ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې یا خویندې واده کوي؟

ځواب: زموږ په سیمه کې خلک په درې ډوله خپلې لور ګانې او خویندې واده کوي. لومړی د ولور په مقابل کې ودول، دویم د بدل یا مخې واده او دریېم د بخشش واده.

۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم ناسم دي؟

ځواب: زما په نظر سم واده هغه دی چې د ولور یا مهر په مقابل کې وي، البته هغه مهر چې د زوم له طرفه په آسانۍ سره اداء شي او نا سم واده د بدو او د مخې واده دی، چې د دغه قسم ودونو پایلې ښې نه وي، ځکه چې په پایله کې د هلک او نجلۍ ژوند خرابیږي او د دواړو کورنیو تر منځ تاوتریخوالی پیدا کېږي.

---

[1]مرکه کوونکی: عادل احمد د هلمند ولایت د سنګین ولسوالي اوسیدونکی یم اوس فعلا په لشکرګاه کې اوسیږي.، د مرکې ځای: هلمند ولایت لشکر ګاه ولسوالی، د مرکې نیټه: ۱۸/ ۱۲/ ۱۳۹۷.

۳ – پوښتنه: کله چې خلک خپلې لورګانې یا خویندې ورکوي نو آیا د هغې د رضایت پوښتنه ورځخه کوي؟

ځواب: په کندهار کې عموما د نجونو رضایت ته نه کتل کېږي، بلکې د دواړو کورنیو ترمنځ چې خبره خلاصه شي، یا د هلک او نجلۍ د والدینو ترمنځ چې رضایت وشي، نو واده کېږي، خو په ځینو کورنیو کې د نجلۍ یا هلک رضایت اخیستل کېږي.

۴– پوښتنه: ستاسو په سیمه کې په بدو کې د نجو ورکولو دود شته؟ که وي نو هدف یې څه دی؟

ځواب: په کندهار کې د بدو په مقابل کې د نجلۍ ورکول بیخي له منځه تللي دي، پخوا به په بدو کې د نجونو ورکولو دود و، خلکو به دا کار ځکه کاوه چې د دوه کورنیو ترمنځ دښمني ختمه او سره دوستان شي اما دا کار د نجونو د زجر، ظلم او حتا د مرګ سبب کیده او اوس داسې واده هیڅ نه تر سره کېږي.

۵ – پوښتنه:  ستاسو په سیمه کې خلک په کوم هدف د بدل واده کوي؟

ځواب: دلته د بدل واده درې ډوله ترسره کېږي، لومړی د خپلوانو تر منځ، دویم د ملګرو او دوستانو تر منځ او دریم د پردیو یا نابلده خلکو تر منځ. دوه ورونه یا ورور او خور یا نور داسې نږدې خپلوان را ولاړیږي په کوچنیوالي یا غټوالي کې خپله لور د ورور، خور، ماما، کاکا یا کوم بل قریب زوی ته ورکوي او د هغه لور خپل زوی ته غواړي او علت یې دا وي، چې دوی غواړي چې د دوی خپلوي نوره هم دوامداره شي.

٦ – پوښتنه: د بدل واده څه پایلې لري؟

ځواب: د بدل یا د مخۍ واده اکثره وخت ښې پایلې لري، خو ځینې وخت بیا د مخۍ واده له ضرر څخه ډک وي او د دوو کورنیو تر منځ د تاوتریخوالي سبب ګرځي.

۷ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې کونډه په خپله خوښه له بل چا سره ( د مېړه له کورنۍ پرته) واده کولای شي؟

ځواب: زموږ په سیمه کې کونډه ښځه په خپل سر (د مېړه د کورنۍ له رضایت پرته) هېڅ واده نه شي کولای باید په همدغه کورنۍ کې د ژوند تر پایه پاتې شي او یا به په هم دغه کورنۍ کې له یو چا سره واده کوي.

۸ – پوښتنه: د کونډې واده کول په زور سره څه پایلې لري؟

ځواب: د کونډې واده کول په زور سره ښې پایلې نه لري ځکه د ډېرو مشکلاتو زیږېدو سبب ګرځي او ژوند به یې تریخ وي. (۱)

## پنځمه فرعه: د بدخشان ولایت مرکه

۱ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې یا خویندې واده کوي؟

ځواب: زموږ په سیمه کې خلک په درې یا څلور قسمه خپلې لور ګانې واده کوي، ځېنې خلک داسې دي چې کله لور یا خور یې بالغه شي او مرکه(خواستګاري) ورشي، نو له هغې نه پوښتنه کوي چې فلاني نفر سره نکاح کوې؟ البته د هغه ټول خصوصیات ورته وايي، نو که خوښه یې وه په نکاح یې ورکوي او که خوښه یې نه وه، نو خلکو ته د نه جواب ورکوي، اما ځېنې خلک بیا داسې دي چې لور یا خور ته اختیار او صلاحیت نه ورکوي او ورته وايي چې ته نه پوهېږې، نو په خپله خوښه یې په نکاح ورکوي او ځېنې خلک بیا خپلې لور ګانې په ماشوم توب کې ورکوي یعنې مخکې له دې چې بالغه شي، زموږ په اصطلاح کې ورته (ګهواره خیشي) وايي یعنې په زانګو کې په خیښې ورکول، چې د دا قسم ودونو پایلې اکثره وخت ډېرې خرابې وي، حتی مخکې له دې چې د واده عمر ته ورسیږي په منځ کې یې اختلافات پیدا کېږي.

[1] مرکه کوونکی:حاجی ملا عبدالله د مدرسې څخه فارغ، د کندهار ښار اوسیدونکی. د مرکې ځای: د کندهار ښار، د مرکې نیټه: ۶ /۱۲/ ۱۳۹۷.

**۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم ناسم دي؟**

**ځواب: هغه صورت چې نجلۍ بالغه وي او د ورکولو وخت کې پلار د هغې د رضایت یا د خوښې پوښتنه کوي هغه سم دی او په شریعت برابر دی او دا بل صورت چې په ماشوم توب کې ورکوي، د احنافو په مذهب دا هم صحیح دی، اما کله چې نجلۍ یا هلک بالغ شي، نو خیار بلوغ هم لري، (۱) یعنې له بلوغ نه وروسته که دا نکاح یې خوښه نه وي، نو نکاح فسخ کولای هم شي، اما دا بل صورت یې چې د نجلۍ ولي بلکل پوښتنه نه کوي او په زوره یې ورکوي، دا سم نه دی.**

**۳ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک خپلو لورګانو یا خویندو ته د هغوی مهر په څه ډول ورکوي؟**

**ځواب: زموږ سیمه کې د مهر ورکول لور یا خور ته بلکل نشته، هغه داسې چې اول کله چې د نجلۍ ولي مهر اخلي نو ډیر زیات مهر اخلي درې نیم لکه افغانۍ نغدې، اته غواګانې چې څلور یې باید غواګانې او څلور یې غوایان وي، اته ایرانۍ اعلی قالینې، تقریبا پنځوس منه غنم، کالي، سره او سپین زر او داسې نور، بیا کله چې دا مهر واخلي دا ټول په خپلو خپلوانو ویشل کېږي، مثلا څلور غواګانې د نجلۍ ماما اخلي د ماما توب په خاطر، یوه قالینه یې عمه اخلي، یو څه شیان یې تره اخلي، خلاصه دا چې هېڅ شی نجلۍ ته نه پاتې کېږي، ټول شیان ویشل کېږي، چې دا کار بلکل نا روا او حرام دی او زه همیشه په مجلسو کې همدا خبره کوم چې دا کار نور مه کوئ، ځکه چې مهر د نجلۍ حق دی او د هغې خوړل حرام دي، زموږ نه لږ لرې سیمه کې بیا له نجلۍ سره یو بل چل کوي، هغه داسې چې کله د نجلۍ مهر واخلي نو هغه مجلس ته راولي او پوښتنه ورڅخه کوي چې خپل مهر دې چاته ورکوې؟ خپله پلار ته او که مېړه ته، نو نجلۍ مجبوره شي له شرمه هم وایي چې پلار ته مې ورکوم، بیا همدا مجلس په نجلۍ باندې ګواهي ورکوي، چې خپل مهر یې پلار ته ور وباښه، نو دا هم هسې چل دی، چې له نجلۍ سره یې کوي.**

**۴ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې په بدو کې د نجو ورکولو دود شته؟ که وي نو هدف یې څه دی؟**

**ځواب: نه، زموږ په سیمه کې دا دود او رواج بلکل نشته، چې یو نفر یو څوک مړ کړي یا کوم بل څه ورباندې وکړي بیا د قاتل کورنۍ دې مقابل لوري ته په بدو کې نجلۍ ورکړي، داسې هېڅ نه دي شوي،**

---

[1] احناف وایي: که ولي پلار یا نیکه وي نو وړه نجلۍ یا وړوکی هلک کله چې بالغان شي نو خیار بلوغ نه لري اما که پرته له پلار او نیکه څخه بل ولي په ماشوتوب کي نجلۍ یا هلک ته واده وکړي بیا خیار بلوغ لري.

حتی بالعکس که یو څوک له چا سره دوستي ولري، نو که د هغوی تر منځ دښمني یا قتل وشي، هغه نجلۍ د هغوی له کور څخه را وځي خپل پلار کره راځي او هغه پخوانۍ دوستي یې هم ختمیږي.

۵ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې د بدل واده شته؟ که وي نو په څه ډول دی؟

ځواب: زموږ په سیمه کې دا مروج د بدل واده نشته، چې یو نفر خپله لور د بل کس زوی ته ورکړي او د هغه لور خپل زوی ته وکړي او تر منځ یې بلکل مهر نه وي داسې نشته، خو داسې شته چې یو نفر خپله لور د بل کس زوی ته ورکړي، له هغه نه مهر اخلي بیا کله چې د هغه لور خپل زوی ته کوي، نو بیا دی هغه ته مهر ورکوي، خو د بدل نوم نه ورباندې ږدي، حتی که یو نفر غواړي چې خپله لور د بل زوی ته ورکړي او له هغه څخه د هغه د لور غوښتنه وکړي او د بدل په نوم یې ترې وغواړي، نو مقابل لوری د ده له لور نه هم منصرف کېږي او دا دوستي نه سره کوي.

٦ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې کونډه په خپله خوښه د بل چا سره ( د مېړه له کورنۍ پرته) واده کولای شي؟

ځواب: هو زموږ په سیمه کې کونډه مکمل د خپل اختیار ده یعنې که وغواړي چې د مېړه له کورنۍ پرته بل کس سره نکاح وکړي، نو څوک یې نه منع کوي او نه ورسره څوک مخالفت کوي، یعنې زموږ په سیمه کې تر اوسه داسې نه دي شوي چې د کونډې په نکاح باندې د مېړه کورنۍ عکس العمل ښودلی وي، بغیر له یو نفر څخه چې یو څه موده مخکې د هغوی د کور کونډه د یوې بلې کورنۍ له یو سړي سره واده وکړ، نو دوی لږ خفه وو چې زموږ کونډه څنګه له بل نفر سره واده کوي، اما داسې نه چې ورشي او علني ورسره دښمني شروع کړي هغه دواړه کورنۍ اوس هم شته او اوس په خپلو کې بیرته سره دوستان شوي دي. (۱)

[1] مرکه کوونکی: فصیح الدین د بدخشان ولایت د نسی درواز ولسوالی اوسیدونکی ابتدائي زده کړې یې په خپله ولسوالۍ کې کړي او په ۱۳۹۳کال کې د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځی څخه فارغ شوی، د مرکې ځای: کابل ولایت د کابل ښار، د مرکې نیټه: ۱۷ /۱۲ /۱۳۹۷.

## شپږمه فرعه: د خوست ولایت مرکه

۱ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې یا خویندې واده کوي؟

ځواب: په ټولیزه توګه پر دوه ډوله:

اول: د مهر یا ولور په نوم، دویم: د بدل په نوم، سره له دې چې مهر او ولور په خپل منځ کې ډېر توپیر سره لري، خو په عامه اصطلاح کې مهر او ولور دواړه یو شان تعبیرېږي.

په پورتنیو دواړو ډولونو کې د ننه نجلۍ د مهر او بدل په ترڅ کې په بن یا بنو هم ودېږي، یعنې په داسې حالت کې چې سړی یو واده ولري دویم، درېیم او یا څلورم واده هم کوي. البته د دا ډول واده تر معمولي واده مهر لوړ وي. خو که په بدل ودېږي، یعنې که په داسې حال کې نجلۍ په بدل ودېږي، چې سړی یوه ښځه ولري، نو بیا دا بدل هم د معمولي بدل په ډول ترسره کېږي، یعنې کوم اضافي شرایط نه لري.

ځینې داسې ودونه هم کېږي، چې سړی دوې یا درې ښځې لري، خو درېیم یا څلورم واده هم کوي، په داسې حالت کې که مهر وي، نو بیا لا لوړ وي یعنې که بن له یوې زیاتې وي نو مهر یې هم زیات وي، د دا ډول یو واده موږ شاهدان یوو، چې په پنځوس(۵۰۰۰۰۰۰) لکه پاکستانۍ کلدارې ترسره شو.

معمولاً د هر ډول واده د هوکړې کول او مهر ټاکلو وکیل پلار وي، البته دا دود تر پخوا یو څه کم شوی دی، یعنې اوس نږدې پنځوس سلنه خلک د واده اصلي جانبینو ته خوښه او واک ورکوي.

یو بل ډول واده هم کېږي، چې خلک خپلې خویندې یا لورګانې په بدو کې ورکوي البته دا دود اوس نږدې ورک شوی دی او دا کار اوس څوک نه کوي. دا کار هم د مهر په ډول ترسره کېږي، یعنې د مړه شوي کس په بدل کې دوې نجونې ورکول کېږي. په نورو ټکو کې به داسې ووایو چې د مړه شوي کس بیه د دوو نجونو د مهر په اندازه ټاکل کېدله.

۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم ناسم دي؟

ځواب: ټول هغه ودونه چې مهر یې تر حد اقل انداز لږ نه وي، ایجاب او قبول د شاهدانو په مخکې ولري سم ودونه دي. خو ډېرښه او د پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) د توصیې مطابق سم ودونه هغه دي، چې

مهر د خاوند له پاره د ده تر وس زيات نه وي او که ممکنه وي تر ليدلو کتلو وروسته ايجاب او قبول هم ولري.

۳ – پوښتنه: کله چې خلک خپلې لورګانې يا خويندې ورکوي نو آيا د هغې د رضايت پوښتنه ورڅخه کوي؟

ځواب: هو، پنځوس سلنه خلک دا کار کوي، دا يو ديني امر دی او تجربو هم ثابته کړې، چې د اجباري ودونو پايلې ډېرې بدي وي. حتی د اجباري ودونو په ترڅ کې داسې هم شوې، چې له واده مخکې يعنې د کوژدن په زمانه کې يو طرف ځان وژنه کړې او يا له واده وروسته يو نه يو طرف ځان وژنه کړې، په دې برخه کې ډېری ځان وژنه د نجونو له خوا ترسره شوې ځکه چې هغه محرومې کړی شوي وي او يا دا چې د دوی رواني حالت ژر او شديد اغېزمن کېږي، ځکه چې دوی ډېری وخت په کور دننه وي او دا د رواني ناروغ له پاره ډېر بد حالت وي.

۴ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې په بدو کې د نجو ورکولو دود شته؟ که وي نو هدف يې څه دی؟

ځواب: دا دود د افغانانو د فرهنګ همزولی دی، يعنې چې پښتون پيدا شوی بيا ډېر شوی نو دا دود هم پکې پيدا شوی او ډېر شوی دی، خو الحمدلله چې دا کار اوس نه کېږي، هسې که چيرته کېږي هم نو استثنائې يې ګڼلی شو.

موخه يې د دوه کورنيو يا قبيلو تر منځ د بدۍ له منځه وړل دي، يعنې دوی چې په خپل منځ کې کومه بدي سره لري، کومه وژنه چې يو لوري ته اوښتې وي، نو هغه بل لوری د وژل شوي سړي يا ښځې په بدل کې ښځه يا ښځې په واده ورکړي، نو په دې ډول د دوی ترمنځ هغه بدي په دوستۍ بدله شي.

البته په ځينو حالتو کې دا کار بريالی وي خو په ځينو حالتو کې بيا د نجلۍ ژوند خراب شي.

۵ – پوښتنه: په بدو کې د نجونو ورکول څه پايلې لري؟

ځواب: د بديدارو (بدۍ لرونکو) کورنيو له پاره يې پايلې ښې وي، يعنې د دوی تر منځ چې د وژنې کومه مسئله يا لړۍ وي هغه پای ومومي خو د نجلۍ له پاره يې پايلې بدې وي، حتی داسې هم شوې په بدو کې ورکړل شوې نجلۍ د خسرخېلو لخوا وهل ټکول خوري، آن تر دې چې نجلۍ ځان وژنه وکړي او يا

وتبنتي. البته په ځينو وختونو کې يې ښې پايلې هم لرلې دي، يعنې د کورنيو تر منځ بدي په دوستي بدله شوې او د نجلۍ ژوند هم ښه وي.

٦ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې خلک په کوم هدف د بدل واده کوي؟

ځواب: اوس دا ډول ودونه نه کېږي، خو پخوا به چې چا کوم سړی وواژه، بيا به يې په ځان کې دا توان نه ليدو چې د مقتول کورنۍ له وژلو يا بدل اخيستلو ځان وساتي او يا به يې نه غوښتل چې مړ شي او غوښتل به يې چې خپله تېروتنه جبران کړي، نو مقابل لوري ته به يې د دې کار وړانديز وکړ، مقابل لوري به پيسې نه بلکې د دوی لورګانې يا خويندې يا هم وربېرې وغوښتې او قاتل به هم ورسره ومنله، نو په دې ډول به يې خپله تېروتنه جبران کړه، البته د يو سړي په بدل کې دوې ښځې يا نجلۍ ورکول کېدلې.

٧ – پوښتنه: د بدل واده څه پايلې لري؟

ځواب: د بدل واده هم ښې پايلې لري او هم بدې. ښې پايلې يې دا دي چې معمولاً د بدل په واده کې د دواړو خواوو نغد لګښت ډېر لږ کېږي، دواړه خواوې نجونو ته په يوه اندازه توکي او معمولاً لږ توکي اخلي. د بدل واده لوی لامل همدا اقتصادي اړخ دی. ځکه په هغو ودونو کې چې بدل نه وي نجلۍ ته توکي هم زيات اخيستل کېږي او مهر يې هم ډېر لوړ ټاکل کېږي.

بدې پايلې يې دا دي، چې ډېری وخت داسې وي، چې يوه نجلۍ د مېړه په کور کې سم کارونه نه ترسره کوي، په عموم کې خسرخېل ترې خوښ نه وي، نو خسرخېل يې هم وهي ټکوي او تاوتريخوالی ورسره کېږي. خو بله نجلۍ چې د همدې ناکاره نجلۍ په بدل کې واده شوې وي، يوه ښه انسانه وي، خپل ورسپارل شوي کارونه په ښه توګه ترسره کوي او د خاوند حقوق هم پوره کوي؛ خو دا چې د خسر خېلو خور يا لور د دې ښې نجلۍ په کور کې د بدو کارونو له امله ځورول کېږي، نو دا ښه نجلۍ هم د خسر خېلو او مېړه له خوا ځورول کېږي او له تاوتريخوالي سره مخامخ کېږي. حتی داسې هم شوې چې ډېرې معصومې نجونې له دا ډول پايلې سره د مخامخ کېدو له سببه په رواني ناروغيو اخته شوې او ځان وژنې يې کړې دي.

**۸ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې کونډه په خپله خوښه له بل چا سره ( د مېړه له کورنۍ پرته) واده کولای شي؟**

**ځواب: نه، معمولا دلته کونډې د مېړه له مرګه وروسته بل واده نه کوي، هغه ښځه چې د لومړي مېړه له کورنۍ او اولادونو سره په کونډتوب کې د مرګ تر پایه سم ژوند تېر کړي ډېره ستایل کېږي او اصیله پېښتنه ګڼل کېږي، خو دا معمول هغه وخت کېږي چې کونډه نسبتاً لوی اولادونه ولري.**

**داسې هم کېږي، چې یوه کونډه لوی اولادونه هم لري، خو بل واده هم وکړي، خو د دویم واده په اړه یې حتمي ده، چې خپل لېور، د خاوند د تره زوی یا هم د خسرخېلو په خپلوانو کې یو څوک وکړي. د رسم او رواج له مخې به له همدې لېور او یا د کورنۍ له کوم بل غړي سره په رضایت واده کوي. په ځینو کورنیو کې کونډه اړه وي چې دا کار وکړي او په ځینو کورنیو کې بیا کونډې ته اختیار ورکول کېږي، چې دا کار کوي او که نه.**

**خو که داسې ښځه کونډه شي چې اولادونه یې هېڅ نه وي، نو بیا حتمي ده چې د همدې کورنۍ له کوم بل غړي سره واده وکړي، که د کونډې خوښه وي او یا نه، دلته داسې کونډې هم شته چې یوازې یو او یا دوه زامنو ته ناسته وي او سر یې سپین شي. یعنې بل واده ونه کړي.**

**۹– د کونډې ودول پرته د هغې له رضایت څخه، څه پایلې لري؟**

**ځواب: بدې پایلې لري، د ښځې او مېړه تر منځ ژوند خراب وي، دوه طرفه تاوتریخوالی وي، چې د دوی دا خراب او له لانجو ډک ژوند د دوی په اولادونو هم بدې اغېزې کوي. حتی داسې هم کېږي، چې د کونډې د لومړني مېړه اولادونه ستر شي یعنې بالغ شي او د ژوند کولو وس پیدا کړي، نو په داسې وخت کې بیا کونډه چې ډېر وخت یې له دویم مېړه سره ژوند په تاوتریخوالي تېر کړی تش په نوم د خاوند ښځه وي او بس. د دوی ترمنځ هغه اړیکه نه وي کومه چې د ښځې او خاوند ترمنځ وي. (۱)**

[1] مرکه کوونکی: ګل ولي شاه، (ساده حیدرخېل) د خوست ولایت د اسمعیل خېلو او مندوزی ولسوالي، د حیدرخېلو او للمی حیدرآباد کلي اوسیدونکی، د اقتصاد پوهنځی څخه فارغ، د اقتصاد ښوونکی، په سیاست، اجتماع او فرهنګ برخه کې د عامه نظریاتو آزاد څېړونکی. د مرکې ځای: خوست ولایت د خوست ښار، د مرکې نیټه: ۸ /۱ /۱۳۹۸.

## اوومه فرعه: د کندز ولایت مرکه

۱ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې یا خویندې واده کوي؟

ځواب: اصلاً نکاح باید د شریعت او د نافذه قوانینو مطابق ترسره شي اما په ټوله کې هر مملکت، هر قوم او هره سیمه خپل خاص رواجونه او عنعنات لري، لامل یې هم د ډیرو خلکو جهالت کیدای شي، یعنې له شریعت او قانون څخه نا خبري. نو افغانستان هم له پخوا راهیسې د قومي او ملوک الطائفي په نظام را روان دی، د هرې سیمې او هر قوم هغه خپلو رواجونو ته په کتنې سره د نکاح په اړه هم خپل خاص رواجونه لري، په عمومي توګه په افغانستان کې د هلک یا نجلۍ د واده په اړه د هغوی پلار او مور یا مشران ورونه یا هم د قوم مشران تصمیم نیسي او د هلک او نجلۍ رضایت او خوښې ته نه کتل کیږي، چې زموږ سیمه هم له دغه رواج څخه خالي نه ده، بل رواج چې زموږ په سیمه کې معمول دی په کوچنیوالي کې هلک او نجلۍ یو د بل په نامه کوي، بل داسې هم معمول دی چې هلک یا نجلۍ په خارج کې وي او یو بل سره نه ویني د دواړو کورنۍ غواړي چې خپله دغه کورنۍ رابطه یې ساتلې وي یو بل ته یې په نکاح کوي، ځینې خلک داسې نظر هم لري د دې په خاطر چې خپله لور یا خور یې پردیو خلکو ته نه وي ورکړې په خپله کورنۍ کې یې یو ځوان ته ورکوي، که د نجلۍ خوښه وي او که نه وي، همدا رنګه ځینې خلک د پیسو په خاطر خپله لور یا خور هغه نفر ته ورکوي چې پیسې ولري او کله خپل زوی ته د داسې نفر لور په نکاح کوي، چې هغه پیسې ولري که د لور او زوی خوښه وي او که نه وي، همدا رنګه کله کله په بدل کې نجلۍ ورکوي او همدا رنګه د کونډې ورکول دي په زور سره، کله چې کومه ښځه کونډه شي نو هغې ته د خپل ژوند د شریک انتخابولو حق نه ورکوي او هغه مجبوروي چې خامخابه د مېړه له کورنۍ څخه له یو نفر سره نکاح کوي اګر که د دوی تر منځ ډیر توپیر هم وي یا په عمر کې یا په نورو شیانو کې.

۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم ناسم دي؟

ځواب: زما په اند درې خبرې مهمې دي یو دا چې په مدني قانون کې د نجلۍ او هلک له پاره کوم اندازه عمر چې ټاکلی هغه باید پوره کړي، بل د شریعت په چوکاټ کې هلک او نجلۍ باید مخکې له کوژدې څخه یو بل وویني او همدا رنګه د کوژدې موده چې د دواړو کورنیو له طرفه ټاکل کیږي که یوه میاشت وي یا یو کال یا هم دې ته ورته موده، هغه د معرفت او پیژندنې وخت وي په دې وخت کې باید نکاح ونه تړل شي، چې اکثره خلک په کوژده کې نکاح تړي، نو که دغه درې خبرې پکې مراعات شي نو

نکاح سمه ده او له دغه درېیو صورتونو څخه پرته زما په نظر نور ټول صورتونه د نکاح په اجباري صورت کې راځي او سم نه دي، چې هغه بیا ډېرې بدې پایلې هم لري، کله کله ښځه له کور څخه وتښتي، کله کله ځان وژنه وکړي، کله کله ښځه مېړه په قتل ورسوي او کله کله هم بیا مېړه خپله ښځه یا په قتل ورسوي یا یې هم عیبي کړي، یعنې کله یې لاس یا پښه یا کوم بل ځای ورمات کړي او کله یې هم پزه یا غوږ ور پرې کړي یا داسې نور ظلمونه ورباندې کوي.

۳ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې په بدو کې د نجونو ورکولو دود شته؟ که وي نو هدف یې څه دی؟

ځواب: د کندز ولایت د افغانستان له شمالي ولایتونو څخه دی او په بدو کې د نجونو ورکول د افغانستان په جنوبي ولایتونو کې زیات دی نسبت شمالي ولایتونو ته، زموږ په سیمه کې هم دا رواج شته؛ خو ډېر کم دی، اما داسې نه شو ویلای چې بلکل نشته، ځکه کله کله داسې واقع شوي چې د یو چا په قتل کې نجلۍ په بدو کې ورکړل شوې ده.

۴– پوښتنه: په بدو کې د نجونو ورکول څه پایلې لري؟

ځواب: اول باید ووایم چې دا کار د شریعت او قانون له نظره ناجائز دی، په شریعت کې داسې نشته چې د یو نفر د جرم جزا بل نفر ته ورکړي او په قانون کې هم جرم یو شخصي عمل بلل شوی، نو د ورور یا پلار په جرم کې بي ګناه او داسې یو شخص ته چې دغه جرم کې بلکل شامل نه دی یعنې خور یا لور ته جزا ورکول کېږي، چې دا کار حرام دی، ځکه چې کله دغه نجلۍ د مقتول کورنۍ ته ورکړي، نو هغوی په ډېره کمه خبره هم دغې نجلۍ ته جزا ورکوي او ظلم ورباندې کوي، دویم د دغې نجلۍ ټول حقوق تر پښنو لاندې کېږي، مثلاً کله چې نجلۍ په بدو کې ورکړي، نو هغه بیا څوک تعلیم ته نه پرېږدي او تعلیم د هغې حق دی، نو د تعلیم حق یې نه ورکول کېږي، همدا رنګه په خپل اختیار د ژوند شریک اتخابولو حق یې نه ور څخه اخیستل کېږي، همدا رنګه د مهر حق، د ښه ژوند حق او داسې نور حقوق یې له منځه ځي او ټول حقوق یې تر پښنو لاندې کېږي. زما په یاد دي زموږ په سیمه کې همداسې یوه واقعه پیښه شوه کله یې چې نجلۍ په بدو کې ورکړه، د همدې جنجالونو په پایله کې چې د دواړو کورنیو تر منځ وو له درېیو اولادونو پیدا کېدو وروسته هغه ښځه له یو بل نفر سره خارج ته وتښتېدله، چې په پایله کې د دواړو کورنیو عزت تر

خاورو لاندې شو، د دې پر ځای چې دا کار د هغه مخکيني جرم جبران شي، د يو بل جرم لامل شو او د دواړو کورنيو تر منځ جنجال او دښمني نوره هم زياته شوه او هغه ماشومان يې هم بې سرپرسته پاتې شول.

**٥ – پوښتنه: ستاسو په سيمه کې خلک په څه ډول او په کوم هدف د بدل وادہ کوي؟**

ځواب: زموږ په سيمه کې د بدل واده په داسې شکل ترسره کېږي، چې کله يو نفر يو جرم وکړي، مثلاً يو هلک يوه نجلۍ و تښتوي او له هغې سره واده وکړي، نو د نجلۍ کورنۍ ورشي د هلک له کورنۍ څخه يوه نجلۍ د خپلې لور په بدل کې ترې غواړي او د دوی هدف له دغه کار څخه د عدالت پلي کول وي، يعنې د دغه جرم په جبران او خساره کې دغه نجلۍ ورکوي په دې خاطر چې دغه کدورت او دښمني په دوستۍ بدل شي، بيا د نجلۍ کورنۍ وايي چې موږ د خپلې لور عوض يا انتقام واخيست.

کله کله داسې هم پيښيږي چې پرته له کوم جرم يا دښمني څخه همداسې يو نفر بل چا ته خپله لور ورکوي او د هغه لور خپل زوی ته په نکاح کوي، په دې خاطر چې که هغه د ده په لور کوم ظلم او زياتی وکړي، نو دی هم د هغه په لور هماغه سې ظلم د انتقام په نيت کوي.

**٦ – پوښتنه: د بدل واده څه پايلې لري؟**

ځواب: د دې پر ځای چې د بدل په واده کې د ښمني ختمه او په دوستۍ سره بدله شي، بالعکس د ښمني نوره هم زياتيږي، که فی الحال کوم جنجال را منځته نه شي، په راتلونکې کې ډېر امکان لري چې له دغه کار څخه زيات جنجالونه را منځته شي، مثلاً ممکن سړی خپلې ښځې ته پيغور ورکړي چې ته خو يې ماته د فلانکي جرم په بدل کې راکړې يې، چې دا خبرې د ښځې په روح او روان باندې حتا د هغې په اولادونو هم ډېرې منفي اغېزې لري او همدا رنګه د دې امکان شته چې دا کار د ښځې د تښتېدلو يا ځان وژنې لامل وګرځي، په هرصورت له ټولو څخه مهمه دا ده چې دا کار په اصل کې ظلم دی او په حقيقت کې د هغه اختيار له منځه وړل دي چې ښځې ته شريعت ورکړی.

۷ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې کونډه په خپله خوښه له بل چا سره ( د مېړه له کورنۍ پرته) واده کولای شي؟

ځواب: نه هیڅکله داسې نه شي کولای، په ډېر تأسف سره باید ووایم چې په ټول افغانستان کې بیا په خاصه توګه زموږ په سیمه کې معمول داسې دی، چې کله کومه ښځه کونډه شي، نو هغې ته دا حق نه ورکول کېږي، چې په خپله خوښه خپل ځان ته بل مېړه یا د ژوند شریک انتخاب کړي ځکه چې خلک دغه کونډه خپل ننګ او ناموس ګڼي، نو بل چاته دا اجازه نه ورکوي چې له دې سره واده وکړي یعنې داسې فکر کوي چې دا ښځه یې لکه د کالیو په شکل چې اخیستې وي، نو ځکه یې خپله ګڼي.

۸ – پوښتنه: د کونډې واده کول په زور سره څه پایلې لري؟

ځواب: دا خو معلومه خبره ده چې کونډه په زور سره واده کول ډېرې بدې پایلې لري، اول خو دا چې کونډه خپل اختیار ته نه پرېښودل د کونډې توهین او سپکاوی دی، ځکه چې دې ته د یو اخیستل شوي څیز په سترګه کتل کېږي، نه د انسان په سترګه. بل دا ده چې د هغې د انتخابولو شرعي حق هم له منځه ځي، په ځینو کورنیو کې داسې معمول دی، چې کونډې ته په هیڅ صورت کې د بل واده اجازه نه ورکول کېږي، په دې خاطر چې هغې خپله جنسي غریزه پوره کړې وي، مجبوره کېږي چې ناروا او غیر مشروع اړیکې له یو چا سره ونیسي او دا کار د دې لامل ګرځي چې دا ښځه او هغه کس چې دا ښځه یې دې کار ته مجبوره کړې د کبیرې ګناه مرتکب شي، آن کله کله داسې هم پېښېږي چې له دغه ناروا اړیکو څخه حرام اولاد پیدا شي؛ نو په دې خاطر چې دا موضوع یې پټه ساتلې وي مجبورېږي چې دا ماشوم مړ کړي، که یې مړ کړي دا یوه بله ګبیره ګناه ده او که مړ یې نه کړي نو هغه بې سرپرسته را لوی شي یو لوچک او بد اخلاقه انسان ورڅخه جوړ شي، چې هغه خپله بیا د فساد منبع وي، همدا رنګه دا ښځه کله کله دې ته مجبوره شي، چې له کور څخه وتښتي او کله هم ځان وژنې ته مجبوره شي، یعنې په هر صورت کې د کونډې واده کول په زور سره ډېرې بدې پایلې لري.

**۹- ستاسو په سیمه کې خلک په کوم هدف خپلې لورګانې په کوچنیوالي کې ورکوي او دا کار څه پایلې لري؟**

**ځواب: دا چې خلک په کوچنیوالي کې خپلې لورګانې ورکوي یا خپلو زامنو ته په کم عمر کې واده کوي څو هدفه لري: یو دا چې مور او پلار غواړي له یوې عاجزې کورنۍ ځخه خپل زوی ته ښځه وکړي، یعنې داسې نجلۍ چې د دوی په طبعیت برابره وي او له دوی سره شریک ژوند وکړی شي، چې د دوی خدمت وکړي ځکه چې نن او سبا ځوانان د پرمختللو هېوادونو په څیر غواړي له واده وروسته په مستقله توګه ژوند وکړي، اما مور او پلار بیا غواړي چې زامن یې له دوی سره یو ځای ژوند وکړي، بل دا چې د نجلۍ مور او پلار کوښښ کوي خپله لور په یوه داسې کورنۍ کې ورکړي، چې مال او دولت ولري او د هلک مور او پلار کوښښ کوي، له داسې کورنۍ ځخه خپل زوی ته ښځه وکړي، چې پیسې کمې واخلي او په واده باندې مصارف کم راشي، نو دواړه کورنۍ په همدې خاطر عجله کوي او په کوچنیوالي کې یا خپلې لور ګانې ورکوي یا هم خپلو زامنو ته واده کوي، نور د دې پروا نه لري چې د هلک او نجلۍ خوښه ده او که نه؟**

**د دا قسم ودونو پایلې اکثره وخت خرابې وي، ډېر کم داسې پیښ شوي چې په کم عمر کې له واده کولو وروسته بیا ښځه او مېړه ښه ژوند ولري، زیات وخت داسې کېږي چې که په اولو وختونو کې کوم مشکل را منځته نه شي، اما په راتلونکې کې بیا حتما مشکلات پیدا کېږي، چې بلآخره خبره یا طلاق ته رسیږي، یا هم هلک مجبور شي چې بل واده وکړي او د دواړو تر منځ عدالت نه کوي یعنې د اولینۍ ښځې حقوق ټول تر پښنو لاندې کوي، د هغې نفقې ته، کالیو ته، صحت ته او حتی د هغې اولادونو ته هم توجه نه کوي. (۱)**

---

[1] مرکه کوونکی: عبدالهادي (عثماني) د کندز ولایت د امام صاحب د ولسوالي د بیش کپه د کلي اوسیدونکی، په قوم ترکمن، اوس په کابل کې اوسیږي، او سلام پوهنتون څخه په فقه او قانون کې ماستري لري. د مرکې ځای: د کابل ولایت د کابل ښار. د مرکې نیټه: ۲۲ / ۱ / ۱۳۹۸.

**اتمه فرعه: د کابل ولایت مرکه**

۱ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې یا خویندې واده کوي؟

جواب: زموږ په سیمه کې خلک په مختلفو ډولونو خپلې لور ګانې واده کوي، لومړی: مور او پلار د اولادونو په اړه تصمیم نیسي چې په څه ډول د هغوی واده ترسره شي. دویم: هلکان خپله تصمیم نیسي چې له چاسره واده وکړي. دریم: هلکان او نجونې موافقې ته سره رسېږي، ورروسته بیا خپلې کورنۍ خبروي چې آیا د دې واده په اړه د هغوی خوښه ده او کنه؟

۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم ناسم دي؟

ځواب: زما په اند هغه ودونه سم دي چې د مور او پلار په خوښه ترسره شي، ځکه چې هغوی د خپل ژوندانه د تجربو په اساس کولای شي د اولادونو د ژوند په اړه سمه پریکړه وکړي.

۳ – پوښتنه: کله چې خلک خپلې لورګانې یا خویندې ورکوي، نو آیا د هغې د رضایت پوښتنه ورڅخه کوي؟

ځواب: زموږ په سیمه کې چې مور او پلار یا ورور خپله لور یا خور واده کوي حتماً له نجلۍ څخه پوښتنه کوي او آن تر دې چې نجلۍ ته حق ورکوي، چې له هغه هلک سره چې غواړي له دې نجلۍ سره واده وکړي وګوري؛ څو خپل نظریات سره شریک کړي چې په راتلونکې کې په مشکلاتو اخته نه شي.

۴ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې په بدو کې د نجو ورکولو دود شته؟ که وي نو هدف یې څه دی؟

ځواب: زموږ په سیمه کې په بدو کې ورکول نشته او ما تر اوسه داسې کوم څه نه دي لیدلي.

۵ – پوښتنه: په بدو کې د نجونو ورکول څه پایلې لري؟

ځواب: ترکومه چې زه له نورو ولایتونو څخه معلومات لرم په بدو کې د نجونو ورکول ډیرې بدې پایلې لري، چې په آخره کې ښځې ته طلاق ورکوي او که طلاق ورنه کړي، نو سړی بل واده کوي او هغه نجلۍ چې په بدو کې یې ورکړې ډیر خراب ژوند لري.

۶ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په بدل خپلې لوڼې ورکوي، که وي نو هدف یې څه دی؟

ځواب: هو د بدل واده خو په ټول افغانستان کې معمول دی، زموږ په سیمه کې هم دوه کورنۍ چې خپل مینځ کې سره خپلوي ولري، کله کله داسې هم وي، چې دواړه کورنۍ خپل مینځ کې سره خپلوي نه لري، یو د بل ځامنو ته خپلې لوڼې ورکوي، د دې کار هدف دادی چې د واده له زیاتو مصارفو څخه خلاص شي او د دواړو کورنیو تر مینځ دوستي نوره هم زیاته شي.

۷ – پوښتنه: د بدل واده څه پایلې لري؟

ځواب: کله کله د بدل واده ډیرې ښې پایلې لرې د دواړو کورنیو ترمینځ دوستي نوره زیاتیږي او د دواړو نجونو ژوند ډیر ښه تیریږي، اما ډیر ځلې داسې وي، چې د دواړو کورنیو دوستي سره خرابه شي، په خاصه توګه د هغو کورنیو تر مینځ چې له ښار څخه لرې سیمو کې ژوند کوي، یا هغه کورنۍ چې د تعلیم کچه یې ټیټه ده.

۸ – پوښتنه: ستاسو سیمه کې کونډه په خپله خوښه د بل چاسره ( دمیړه له کورنې پرته) واده کولای شي؟

ځواب: هو کونډې ته زموږ په سیمه کې آزادي ورکوي، چې په خپله خوښه د میړه په کورنۍ کې له چا سره واده کوي، له بل چا سره واده کوي او بلکل واده نه کوي، اما هغه خلک چې له ولسوالیو راغلي او په ښار کې اوسیږي هغوی د خپلو سیمو د دودونو مطابق کونډې ته دا اجازه نه ورکوي، چې له بل چا سره دې واده وکړي. (۱)

## نهمه فرعه: د تخار ولایت مرکه

۱ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په څو ډوله خپلې لور ګانې یا خویندې واده کوي؟

جواب: په تخار ولایت کې د هرې سیمې او هر قوم خپلو دودونو او رواجونو ته په کتنې سره په مختلفو ډولونو خلک خپلې لور ګانې واده کوي، یو شی چې په ټولو سیمو کې معمول دی، هغه دادی، چې په واده کې ډیر زیات مصارف کوي، او د هغو ټولو مصارفو پوره کول د هلک د کورنۍ په غاړه وي، په ښار

---

[۱] مرکه کوونکي: محفوظه د کابل ولایت اوسیدونکي، د مرکې ځای: د کابل ښار، د مرکې نیټه: ۷ / ۲ / ۱۳۹۸.

کې ودونه لږ څه په تمدن برابر او په عصري توګه ترسره کیږي، یعنې د هلک او نجلۍ په خوښه واده کیږي، اما له ښار څخه لرې پرتو سیمو کې بیا بالعکس په نکاح کې د رضایت او خوښې خبره بالکل مطرح نه وي، هلته په عمومي توګه ودونه د دودونو او رواجونو مطابق او د قوم پرستي په بنا ترسره کیږي، کله کله خلک دې حرص پسې اخیستي وي، چې هلک او نجلۍ یو له بل څخه مال یوسي، پرته د هغوی له رضایت څخه هغوی ته ودونه کوي او کله هم په دواړو کې د یو خوښه نه وي اما په زور وربانديې دغه واده منل کیږي.

۲ – پوښتنه: ستاسو په نظر کوم ډول ودونه سم او کوم یې ناسم دي؟

ځواب: زما په نظر هغه ودونه سم دي، چې د هلک او نجلۍ غوښتنو ته پکې ارزښت ورکړای شي، له بې ځایه مصارفو څخه خالي وي او په کامله توګه د دواړو په خوښه وي، د داقسم ودونو بنیاد پوخ او دوامداره وي، ځکه چې په داقسم ودونو کې هغه شیانو ته ارزښت ورکړای شوی، چې باید هغه ته ارزښت ورکړای شي، چې عبارت دي د دواړو له غوښتنو څخه او همدارنګه دوی دواړه یو بل ته د متقابل احترام په لرلو سره ژوند په ښه توګه ادامه ورکوي.

اما هغه ودونه چې د قوم پرستي او غلطو دودونو مطابق وشي، معلومه خبره ده، چې هغه کې مصارف له حد څخه زیات وي، د هلک او نجلۍ خوښې ته پکې له سره نه کتل کیږي، چې د نکاح له شرطونو څخه یو شرط هم دی، د دواړو غوښتنو ته پکې چې باید ارزښت ورکړای شي ارزښت نه ورکول کیږي، د همدې لاملونو په خاطر د داقسم ودونو پایله خرابه او له مشکلاتو څخه ډکه وي، آن تردې چې دا ویره پکې هم لیدل کیږي، چې ممکن دواړه په آینده کې له یو بل څخه جلا شي.

۳ – پوښتنه: کله چې خلک خپلې لورګانې یا خویندې ورکوي، نو آیا د هغې د رضایت پوښتنه ورڅخه کوي؟

ځواب: دې پوښتنې ته که د فیصدي په توګه ځواب ورکړم، نو زما ځواب لس فیصده مثبت دی او نوي فیصده منفي دی، په دې لس فیصده کې هغه کورنۍ او خلک شامل دي، چې په ښار کې یا هم ښار ته نږدې سیمو کې ژوند کوي، ځکه چې دا خلک د دودونو او رواجونو تابع نه دي، دوی په اصولو برابر او د انسان آزادي ته اهمیت ورکوي، نو په همدې خاطر کله چې دوی نجلۍ ورکوي د هغې د رضایت او خوښې پوښتنه ورڅخه کوي او په هغه نوي فیصده کې بیا هغه خلک او کورنۍ شامل دي، چې له ښار څخه په لرې

پرتو سیمو کې ژوند کوي، هغوی د خپلو سیمو د دودونو او رواجونو تابع خلک دي او د انسان آزادي ورته اهمیت نه لري، نو ځکه د نجلۍ په ورکولو کې د هغې څخه پوښتنه نه کوي.

۴ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې په بدو کې د نجو ورکولو دود شته؟ که وي نو هدف یې څه دی؟

ځواب: داچې په بدو کې د نجونو ورکول له کوم وخت څخه پیل شوي، په دې اړه کره معلومات له چا سره نشته، اما داسې ویلی شو، چې له ډیر پخوا راهیسې دا کار را روان دی، زموږ د ولایت په ښار او هغو سیمو کې چې ښار ته نږدې دي دا دود بلکل نشته، اما په کلیو او اطرافو کې کله کله داسې واقع کیږي، چې نجلۍ دې په بدو کې ورکړي. د دوی هدف له دې کار څخه د غلطو او ناوړه دودونو تابع داري کول، د دوه کورنیو تر مینځ کینه او دښمني اچول دي، خو په خوشحالۍ سره ویلی شم چې دا کار په دې آخرو کې ډیر کم شوی آن تردې چې دې کار ته یې تقریبا د پای ټکی ایښی دی.

۵ – پوښتنه: په بدو کې د نجونو ورکول څه پایلې لري؟

ځواب: په بدو کې د نجونو ورکولو پایلې ډیرې بدې، هلاکوونکې او ویره وونکې دي، دا قسم واده په دواړو کورنیو منفي اغېزې لري، خو د نجلۍ په کورنۍ زیاتې او په خاصه توګه خپله نجلۍ کې بیا ډیرې زیاتې منفي اغېزې لیدل کیږي، منفي اغېزې عبارت دي له: د ښځې او میړه د زړونو له لري والی څخه، یعنې که ښځه او میړه جسما سره یو ځای وي، اما په زړونو کې سره ډیر لري وي، ځکه د دواړو ترمینځ مینه، محبت، یو بل ته احترام او ښه احساس نه وي، همداراز د دواړو کورنیو ترمینځ د دښمني زیاتیدل، ښځې ته ژور خفګان او زړه تنګ والی پیدا کیدل، چې کله کله همدغه د زړه تنګ والی د ځان وژنې لامل هم ګرځي، له وخت نه مخکې د اولادنو پیدا کیدل او د مور او اولادنو د مرګ ویره، زما په نظر د داقسم ودونو هغه اصلي او عمده منفي اغېزې یې همدادي.

٦ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې خلک په څه ډول او په کوم هدف د بدل واده کوي؟

ځواب: د بدل واده معمولا د خپلوانو او اقاربو تر مینځ واقع کیږي او لامل یې هم فقر دی، دوه کورنۍ چې د خپلو ځامنو د ودونو د مصارفو توان نه لري، مجبوریږي چې یو بل خپلې لونې د یو بل ځامنو ته په بدل ورکړي، ترڅو د واده د زیاتو مصارفو څخه خلاص او خپلو ځامنو ته یې ودونه هم کړي وي.

**۷ – پوښتنه: د بدل واده څه پایلې لري؟**

**ځواب: په بدو کې له ورکولو څخه د بدل د واده منفي اغېزې کمې وي، ځکه چې په بدل کې کله کله د ښځې او مېړه د عمر توپیر او د دواړو خوښه په نظر کې نیول کیږي او کله کله هم نه نیول کیږي، اما یوازینی ښه والی چې په بدل کې نشته او په بدو کې شته هغه داده، چې د بدل واده کې د دواړو کورنیو ترمینځ کومه دښمني نه وي، چې د هغې په خاطر دې نجونې قرباني شي.**

**۸ – پوښتنه: ستاسو په سیمه کې کونډه په خپله خوښه له بل چا سره ( د مېړه له کورنې پرته) واده کولای شي؟**

**ځواب: نه، ځکه چې عرف داسې دی، چې هیڅکله له کونډې سره مجرد هلک واده نه کوي، ډېر کم او نادر داسې پیښیږي چې له کونډې سره دې مجرد هلک واده وکړي، نو په همدې خاطر کونډه نه شي کولای، چې په خپله خوښه دې له چا سره واده وکړي او که واده کوي نو باید له سپین ږیري یا واده شوي کس سره واده وکړي.**

**۹ – پوښتنه: د کونډې واده کول په زور سره څه پایلې لري؟**

**ځواب: په عمومي توګه کله چې سړی له کومې کونډې ښځې سره واده کوي، نو په دې خاطر ورسره واده کوي چې د هغه او د هغه د اولادونو خدمت وکړي، نه په دې خاطر چې له هغې سره د ښځې په څېر ژوند وکړي، یعنې له کونډې سره په زیاتو ځایونو کې د مزدورې تعامل کیږي، همدا وجه ده چې د کونډې ژوند له واده وروسته نور هم ترخیږي او همدا واده کونډې ته د هغې د خفګان، روحي نارامي، جسمې ضرر، تحقیر او سپکاوي لامل ګرځي.** [۱]

**د ټولو مرکو خلاصه دا شوه چې: په افغانستان کې د نکاح صورتونه ټول یو شی نه دي، په ځینې صورتونو کې سره شریک دي، لکه په عمومي توګه اولادونو ته واده د مور او پلار په خوښه کیږي، همداراز د بدل واده، یا په کم عمر کې د نجونو ورکول، اما په ډېرو صورتونو کې سره توپیر لري، لکه په بدو کې ورکول چې په ټولو ولایتونو کې معمول نه دي، مثلاً په بدخشان یا هلمند کې بلکل نشته اما په کومو**

---

[۱] مرکه کوونکي: حشمت الله (انیس) له حقوقو او سیاسی علومو څخه فارغ او یو له هغو کسانو څخه چې دري کاله کیږي په (حقوق اطفال ومحو خشونت علیه زنان) په مؤسسو کې کار کوي، د مرکې ځای: د تخار ولایت د تالقان ښار، د مرکې نیټه: ۱۱ / ۲ / ۱۳۹۸.

ولایتونو کې چې شته اوس ډېر کم شوی دی. همدا رنګه د کونډې واده کول په زور سره په بدخشان ولایت کې بلکل نشته، په هلمند کې په ځینو ولسوالیو کې شته اما په نورو ولایتونو کې په ډیره کچه موجود دی. همداراز دغه تقسیم که د قومونو په اړه یې وکړو هم کولای شو، یعنې په یو ولایت کې په ځینو قومونو کې په بدو کې ورکول، یا د بدل واده، یا کونډه په زور سره واده کول شته اما په همغه ولایت کې بیا په ځینو قومو کې داسې ودونه نشته، هدف دادی چې د ودونه د رواج مطابق ترسره کیږي او رواجونه په هر ولایت کې په هره ولسوالي کې او په هر قوم کې توپیر سره لري.

## درېیم مطلب: په ځینو رسمي ادارو کې د اجباري نکاح د ثبت شوو پېښو شمیر

په دې خاطر چې د اجباري نکاح په اړه له رسمي ادارو څخه هم معلومات ولرم، ما له پوهنتون څخه د ښځو چارو وزارت او د بشري حقونو خپلواک کمیسون ته مکتوبونه یوړل، د بشري حقونو خپلواک کمیسون راته خپل ویب سایټ وښود؛ څو له هغه نه معلومات واخلم او د ښځو چارو وزارت بیا هغومره معلومات چې ما غوښتل رایې نه کړل، هغوی ویل چې زموږ معلومات محرم دي، نه شو کولای چې له تا سره یې شریک کړو، که څه هم ما ورته وویل چې د معلوماتو محرم والی مو ساتم، خو بیا هم هغوی خپل عذر وړاندې کړ او یوازې د ۱۳۹۵ کال راپور یې راکړ او بس، نو اوس غواړم چې د همدې دوه ادارو راپوررونه په دوه فرعو کې ذکر کړم.

### لومړۍ فرعه: د ښځو چارو د وزارت راپور

د ۱۳۹۵لمریز کال په اوږدوکې د ښځو چارو وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د لویې څارنوالۍ په دفترونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ثبت شوو پېښو شمېر (۴۲۹۰) ته رسیږي، چې په دې پېښو کې د ښځو چارو وزارت کې ۲۷۹۳ پېښې یعنې ٪۶۵ سلنه او په لویه څارنوالۍ اداره کې ۹۹۹ پېښې یعنې ٪۲۳ سلنه او په کورنیو چارو وزارت کې ۴۹۸ پېښې یعنې ٪۱۲ سلنې په لرلو سره په اول، دویم او دریمه درجه کې دي.

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښې چې له کابل او نورو ولایتونو څخه د ښځو چارو له وزارت سره ثبت شوې په لاندې ډول دي:

| ولایتونه | د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښې | ولایتونه | د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښې |
|---|---|---|---|
| کابل | ۱۰۲۷ | پروان | ۱۲۴ |
| فاریاب | ۴۰۵ | بامیان | ۱۶۲ |
| تخار | ۲۳۸ | دایکندي | ۱۶۵ |
| بلخ | ۱۷۲ | نیمروز | ۱۱۰ |
| بغلان | ۱۵۴ | غزني | ۱۱۵ |
| ننګرهار | ۲۱۲ | کاپیسا | ۹۵ |
| سرپل | ۲۲۶ | بادغیس | ۹۲ |
| فراه | ۷۶ | لوګر | ٦۹ |
| غور | ۸۴ | بدخشان | ۷۱ |
| هرات | ۱۰۸ | لغمان | ۵۵ |
| کندهار | ۷۳ | پکتیکا | ۴۱ |
| سمنګان | ۷۹ | کنړ | ۴۰ |
| جوزجان | ۷۴ | کندز | ۳۷ |
| وردګ | ۷۹ | پنجشیر | ۴۱ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| هلمند | ۲۰ | زابل | ۹ |
| نورستان | ۱۶ | خوست | ۳ |
| پکتیا | ۱۷ | ارزګان | ۱ |

**دا پېښې د مطلق تاوتریخوالي دي، په دې پېښو کې د اجباري ودونو(۹۳)پېښې، په کم عمر کې د ودولو (۵۷)پېښې، د جبري انزوا[۱] (۶۷)پېښې او په مال کې له تصرف څخه د محرومولو(۶۴)پېښې شاملې دي.**[۲]

## دويمه فرعه: په افغانستان کې د بشري حقونو د خپلواک کميسون راپور

**د ۱۳۹۴ش کال راپور: د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی په افغانستان کې له بشری حقونو څخه سرغړونه ده. د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی په بې لاىبلو ډولونو کې لکه فزيکي، جنسي، اقتصادي، شفاهي او رواني تاوتریخوالی، چې د ناسمو دودونو پورې تړاو لري.**

**د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي پېښې، چې د ۱۳۹۴ کال په لمړیو شپږو میاشتو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ثبت شويو شکایت کونکو پېښې پایله ۲۵۷۹ ته رسیږی. دا شمیره د ۲۰۱۴م، په لومړيو شپږو میاشتو کې ۲۴۰۳ وه او په ۱۳۹۴ش، کال کې ۷.۳۲٪ ډیروالی ښودلی.**

**د ۱۳۹۴ش کال په لومړيو شپږو میاشتو کې د ښځو په وړاندې ثبت شوی فزیکي تاوتریخوالی، ۷۳۱ پېښې دي، چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ټولو ثبت شويو پېښو ۲۸.۳۴٪ جوړوي. په همدې ډول ۱۸۳ پېښې د جنسی تاوتریخوالی دي، چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی ټولو پېښو ۷.۱۰٪ جوړوي. همدارنګه ۹۰۰ نورې پېښې د ژبي او رواني تاوتریخوالي دي، چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ټولو پېښو ۳۴.۹۰٪ حسابوي، همدارنګه، ۵۵۰ پېښې د اقتصادي تاوتریخوالی دی، چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ټولو پېښو ۲۱.۳۳٪ جوړوي او ۲۱۵ نور پاتې پېښې، چې د مجموعي ۸.۳۴٪ جوړوي، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي نورو ډولونو ته شامل دي.**

[۱] جبري انزوا دیته وایي چې: سړی خپله ښځه د هغې له شرعي محارمو لیدلو او کتلو څخه منع کړي. **د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع قانون**: د ۳ مادې ۸ فقره.

[۲] د ۱۳۹۶ کال د سلواغې په میاشت کې د ښځو چارو وزارت د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون د تطبیق د ۱۳۹۵ کال خپور شوی پنځم راپور.

**د زون پر بنسټ د ښځو د وژنې فرضي پېښې :**

**د ۲۰۱۳م کال له پیل څخه تر سپتمبر میاشتې پورې په افغانستان کې د وژنې (۱۹۰) پېښې د کمیسیون سره راجستر شوې وې. د دې موسسې لخوا د وژنې ۱۹۰ پېښو څخه، په شمال زون کې ٦۱ پېښې (۳۲.۱۱ سلنه)، ۵۲ پېښې (۲۷.۳۷ سلنه) د شمال ختیځ زون کې، ۳۸ پېښې (۲۰.۰۰ سلنه) په سویل زون کې، په مرکزي حوزه کې ۲۸ پېښې (۱۴.۷۴٪) او په مرکزي زون کې ۱۱ پېښې (۵.۷۹٪) رامنځته شوي. (۱)**

**زما په نظر د ښځو د تاوتریخوالي او د هغوی د وژنو د پېښو شمېر په حقیقت کې له هغه راپوررونو څخه ډیر دي، چې د بشري حقوقو خپلواک کمیسون خپاره کړي، ځکه چې دوی ته هغه خلک راپور ورکوي، چې د دوی دفترونو ته لاس رسی ولري، یا هم له هغه سیمو څخه راپور وکول کیږي چې دولت هلته حاکم وي، اما د هغه خلکو راپور، چې د دوی دفترونو ته لاس رسی نه لري یا هم له هغه سیمو څخه چې دولت هلته حاکمیت نه لري، نه ورکول کیږي، نو ځکه ویلای شو چې په حقیقت کې د ښځو د تاوتریخوالي او وژنې پېښې ډیرې زیاتې دي.**

۱ د خپرېدو نیټه: ۲۰۱۵-۱۱-۲۵، له دې سایټ څخه د اخیستو نیټه: ۲۰۱۹ ــ ۶ -۱۵، ۵۱۵۶ راپور
www.aihrc.org.af/home/research_report/

# دويم مبحث

## اجباري نکاح د شريعت او قانون له نظره

دا مبحث په پنځو مطالبو باندې مشتمل دی، چې په هر مطلب کې مې د اجباري نکاح يو ډول ذکر کړی او لنډيز يې په لاندې ډول ده:

لومړی مطلب: په بدوکې د نجونو ورکول

لومړۍ فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالي د منع په قانون کې، په بدو کې د ښځې ورکولو تعريف

دويمه فرعه: اجباري ولايت چا لره ثابت دی؟

دريمه فرعه: د اجباري ولايت اسباب

څلورمه فرعه: د افغانستان مدني قانون د صغيرې په اړه:

پنځمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالی د منع قانون کې په بدو کې د ورکولو حکم

دويم مطلب: د مخۍ يا د بدل واده

لومړۍ فرعه: په شريعت کې د مخۍ يا د بدل واده

دويمه فرعه: د افغانستان په مدني قانون کې د مخۍ يا د بدل نکاح

دريیم مطلب: په کم عمرکې د نجلۍ واده کول

لومړۍ فرعه: په شريعت کې د وړې نجلۍ د واده حکم

دويمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالی د منع قانون کې د وړې نجلۍ د واده حکم

څلورم مطلب: د کونډې واده کول په زور سره

لومړۍ فرعه: په شریعت کې د کونډې واده کول په زور سره

دویمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع قانون کې د کونډې واده:

پنځم مطلب: د پیسو مقابل کې د نجلۍ ورکول:

لومړۍ فرعه: د نجلۍ له خوښې پرته د هغې نکاح

دویمه فرعه: مهر د ښځې حق ده.

اول جزء: مهر په شریعت کې:

دویم جزء: د افغانستان مدني قانون کې د ښځې مهر:

دریمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې د واده په بهانه د ښځې خرڅول یا اخیستل، نو اوس راځم اول مطلب ته چې په بدو کې د نجونو د ورکولو په اړه دی.

## لومړی مطلب: په بدوکې د نجونو ورکول

د دې صورت دا دی چې دوه نفره په خپل منځ کې جګړه وکړي او یو نفر پکې مقابل لوری مړ کړي یا یې کوم اندام له منځه یوسي، مثلا ړوند یې کړي، یا یې ګوډ کړي، یا یې لاس پرې قطع کړي او داسې نور. یا هم یو څوک د یوې کورنۍ یوه نجلۍ وتښتوي، یا کومه بله بي عزتي ور واړوي؛ نو په دغو صورتونو کې د دواړو کورنیو تر منځ دښمني پیدا شي، بیا د قوم مشران او سپین ږیري په جرګه را ټول شي او غواړي چې د دغو دوو کورنیو تر منځ چې کومه دښمني ده هغه ختمه او په دوستۍ سره بدله کړي، نو د قاتل یا د جاني کورنۍ ته وایي چې تاسو باید د مقتول یا مجني علیه کورنۍ ته په بدو کې یوه یا دوې نجونې ورکړئ، کله چې د قاتل یا د جاني کورنۍ دغه نجلۍ ورکړي، نو هغوی دا نجلۍ د واده په نوم همداسې له لاسه نیولې بیایي، یعنې نه پکې د واده خوشحالۍ وي او نه د واده په څیر ګڼه ګوڼه.

## لومړۍ فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې، په بدو کې د ښځې ورکولو تعریف

په دې قانون کې هم په بدو کې د ښځې ورکول داسې تعریف کړي: د قتل، جنسي تېري، یا له ناوړه دود، دستور او عادتونو په پیروي په نورو احوالو کې د دیت یا سولې په بدل کې مېړه ته د ښځې ورکول دي. (۱)

د دې صورت شرعی څرنګوالی:

په عمومي ډول په بدوکې د نجونو ورکول د هغوی له خوښې پرته، په جبر او زور باندې ورکول کېږي، نو آیا دا قسم نکاح صحیح ده او که نه؟ د دې مسئلې دوه اړخه باید وڅېړل شي، له هغې وروسته نتیجه یا حکم معلومیږي، یو دا چې څوک اجباري ولایت لري؟ چې کولای شي نجلۍ په زور او جبر باندې په نکاح ورکړي او بل دا چې د اجباري ولایت اسباب کوم دي؟ چې هغه اسبابو ته په کتنې سره ولي کولای شي چې په نجلۍ باندې اجبار وکړي، نو په دې دواړو خبرو کې د فقهاوو اختلاف دی. غواړم دغه دوه خبرې په دویمه او دریمه فرعه کې تشریح کړم، راځم د اولې خبرې تشریح ته.

## دویمه فرعه: اجباري ولایت چا لره ثابت دی؟

په دې مسئله کې غواړم اول د اجباري ولایت او اختیاري ولایت تعریفونه ذکر کړم، بیا وروسته د فقهاوو اختلاف ذکر کړم چې څوک اجباري ولایت لري او څوک یې نه لري.

اول: اجباري ولایت او اختیاري ولایت څه ته وایي؟

د اجباري ولایت تعریف: په نکاح کې خپل قول نافذول په غیر باندې، یعنې ولي د هغه کس په باره کې چې په هغه باندې ولایت لري د نکاح عقد ترسره کړي که د هغه خوښه وي او که نه وي.

---

[۱] د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع قانون: ۳ ماده ۴ فقره.

**د اختياري ولايت تعريف: په دې ولايت کې په بل کس باندې د خپل قول نافذول يا اجبار نه وي او د دې تقاضا يا غوښتنه هم دا ده، چې د ولي د نکاح عقد د هغه کس په باره کې چې په هغه باندې ولايت لري د هغه له اجازې وروسته صحيح کېږي. (١)**

**دويم: ټول مذاهب په دې باندې اتفاق لري چې د اجبار حق پلار ته د ماشوم، ماشومې، ليوني او ليونۍ په رابطه ثابت دی اما دا چې په دې امتياز کې نور څوک ورسره شريک دي، په دې مسئله کې اختلاف دی:**

**الف: د احنافو مذهب:**

**احناف اجباري ولايت ته د حتم، ايجاب او استبداد ولايت وايي. دوی وايي دغه ولايت ولي ته ثابت دی او عصبه ولي دی، ځکه حديث شريف کې راغلي: «الإنكاح إلى العصبات» (٢)**

**ژباړه: په نکاح ورکول د عصبه کار دی. اما دغه اجباري ولايت په وړوکي هلک، وړې نجلۍ او ليوني يا ليونۍ باندې ثابت دی، په پېغلې يا واده شوې باندې اجباري ولايت نشته، عبد الله بن عباس (رضی الله عنه) (٣) روايت کړی، چې نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: «الأيم أحق بنفسها من وليها، والبكر تستأذن في نفسها، وإذنها صماتها» (٤)**

**ژباړه: کونډه ښځه د خپل ځان په باره کې له ولي نه زياته حقداره ده او له پېغلې به اجازه غوښتل کېږي د هغې په حق کې او د هغې پټه خوله پاتې کېدل د هغې په اجازه باندې دلالت کوي.**

**همدا رنګه د اولياوو په ترتيب کې د احنافو نظر داسې دی، چې اول په اولياوو کې عصبه دي. لکه زوی، پلار، نيکه، تره او داسې نور او که عصبه نه وو بيا ذوي الأرحام دي. او که دواړه نه وو نو بيا سلطان**

---

١ ابن عابدين، **رد المحتار على الدر المختار**، ج: ٣، ص: ٥٥.

٢ د احنافو د فقه په کتابونو کې دغه حديث باندې استدلال کړی او له حضرت علی(رضی الله عنه) نه يې موقوف او مرفوع روايت کړی اما ما د احاديثو په کتابونو کې پيدا نکړ نو ځکه د دې حديث مرجع د احنافو د فقه کتابونه ذکر کوم : **الاختيار لتعليل المختار**، ج: ٣، ص: ٩٤،/ او **المبسوط**، ج: ۴، ص: ٢١٩،/ او **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق**، ج: ٢، ص: ١٢٢، / او **بدائع الصنائع**، ج: ٢، ص:٢۴٠.

٣ حبر الامة، فقيه العصر، امام التفسير، ابو العباس عبدالله بن عباس، الهاشمي(رضی الله عنه) د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) د تره زوی وو. له هجرت څخه درې کاله مخکې د بني هاشمو په شِعب کې دنياته راغلی دی. مور يې ام الفضل لبابة بنت الحارث ده، ـ د ام المؤمنين ميمونې خور- نبی کريم (صلى الله عليه وسلم) ورته د علم لپاره دعا کړې وه، نو ځکه ډير پوه وو په خاصه توګه په تفسير کې. ټول احاديث چې له ده نه روايت دي شمير يې ١۶۶٠ ته رسيږي. د هجرت په ۶٧ يا ۶٨ کال په طائف کې وفات شو. مرجع: الذهبی: **سيراعلام النبلاء**، ج: ٣، ص: ٣٣١- ٣٣٣، ٣٣۶، ٣۵٨ او ٣۵٩.

٤ النيسابوری، **صحيح مسلم**، د حديث نمبر: ١۴٢١، باب استئذان الثيب في النكاح بالنطق، والبكر بالسكوت، ج:٢، ص: ١٠٣٧ / او الأصبهاني، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران (وفات: ۴٣٠هـ) **مسند الإمام أبي حنيفة رواية أبي نعيم**، طبعه: ١، رياض، مكتبة الكوثر کال: ١۴١۵ هـ ، د حديث نمبر: ٢٣٧، ج: ١، ص: ٢٣۶. امام الباني ويلي، چې دا حديث صحيح دی.

**ولي دی، ځکه چې له بي بي عايشې (رضی الله عنها) څخه روايت دی، چې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: (... السلطان ولي من لا ولي له). (۱)**

**ژباړه: سلطان يا پادشاه د هغه کس ولي دی چې هغه ولي ونه لري.**

**د افغانستان په مدني قانون کې هم قاضي د هغه شخص له پاره ولي ګرځولی چې بل ولي ونه لري او داسې وايي:**

**۷۸ ماده: قاضي د هغه اشخاصو ولي دی چې ولي نه لري. (۲)**

**اما امام محمد (رحمه الله) وايي: چې پلار له ټولو څخه اولی او بهتر دی په ولايت کې، ځکه چې په نکاح کې په نجلۍ باندې ولايت د دې له پاره وي، چې په هغې باندې شفقت او مهرباني وشي (نجلۍ د نکاح په باره کې دومره نه پوهېږي، ځکه نجلۍ له خلکو سره ناسته ولاړه نه لري او مخصوصا د نکاح په باره کې خو خبرې کول ورته شرم هم ښکاري، نو ځکه بې تجربې وي د نکاح په اړه) او له نورو څخه پلار په لور باندې ډېر مهربان او مشفق وي، په همدې خاطر د نجلۍ په مال کې د تصرف کولو په مسئله کې پلار اولی او بهتر دی له نورو کسانو څخه. (۳)**

**ب: د مالکيانو او حنابله ومذهب:**

**دوی وايي: اجباري ولايت بغير د پلار او بغير د وصی د پلار نه (هغه کس چې پلار ورته وصيت کړی وي) بل کس ته نه دی ثابت يعني بل هيڅ څوک نه شي کولای چې په وړکي هلک او وړې نجلۍ باندې اجبار وکړي، که هغه نور عصبه وي يا ذوی الارحام وي او يا هم حاکم وي. (٤)**

---

١ العبسي، أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي، (وفات: ٢٣٥هـ) **الكتاب المصنف في الأحاديث والآثار، (مصنف ابن أبى شيبة)** طبعة: ١، رياض، مكتبة الرشد بدر الدين العينى، كال: ١٤٠٩، د حديث نمبر: ٣٦١١٧ باب: النكاح بغير ولي، ج: ٧، ص: ٢٨٤. / او امام بخاري رحمه الله په دې اړه مستقل باب ايښی (باب: السلطان ولي) ج: ٧، ص: ١٧. أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى (وفات: ٨٥٥هـ) **عمدة القاري شرح صحيح البخاري**، بيروت: دار إحياء التراث العربي، ب ، ت، ج: ٢٠، ص: ١٢٧. امام الباني ويلي، چې دا حديث صحيح دی.

٢ **مدني قانون:** ٧٨ ماده.

٣ الكاسانى، **بدائع الصنائع**، ج: ٢، ص: ٢٤١- ٢٥٠،/ او الحنفي، **الاختيار لتعليل المختار**، ج: ٣، ص: ٩٢- ٩٥، / او ابن عابدين، **رد المحتار على الدر المختار**، ج: ٣، ص: ٦٦- ٦٧.

٤ المدني، مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي (وفات: ١٧٩هـ)، **المدونة**، طبعه: ١، دار الكتب العلمية، كال: ١٤١٥هـ - ١٩٩٤م، ج: ٢، ص: ١٠٩ / او ابن قدامة، **المغني لابن قدامة**، ج: ٧، ص: ٤٧.

ج: د شافعیانو مذهب:

دوی وايي: د اجبار په مسئله کې نیکه هم د پلار په شان دی، البته هغه وخت چې پلار نه وي یعنې نیکه ته د پلار په نه شتون کې اجباري ولایت ثابت دی، په باکرې (پېغلې) باندې که هغه له بلوغ نه مخکې وي او که له بلوغ نه وروسته یعنې نجلۍ به یې پلار یا نیکه په نکاح ورکوي. دا حکم د باکرې یعنې پېغلې نجلۍ په اړه دی، اما د لېونۍ په باره کې د پلار او نیکه په نه شتون کې حاکم هم کولای شي، چې په نکاح یې ورکړي، البته که نکاح ته یې اړتیا درلوده. د مثال په توګه یو تکړه ډاکټر د لېونۍ د روغتیا له پاره د هغې نکاح کول ضروري وګڼي، نو که پلار او نیکه نه وي نو حاکم هم کولای شي چې په نکاح یې ورکړي. (۱)

## دریمه فرعه: د اجباري ولایت اسباب

د اجباري ولایت په اسبابو کې هم د فقهاؤو اختلاف دی.

اول: د احنافو مذهب:

دوی وايي چې د اجباري ولایت سبب په نکاح کې صغر (کوچني والی) دی او هر هغه شی چې د کوچني والي په معنا کې وي لکه لیونتوب او معتوه کېدل، نو بکارت (پېغلتوب) او ثیوبت (د ښځې بکارت له منځه تلل د واده په خاطر) په دې اجبار کې کوم رول نه لري، یعنې په هغه نجلۍ چې پېغله او بالغه وي، وليورباندې اجبار نه شي کولای، ځکه چې دې کې صغر نشته چې هغه د اجباري ولایت سبب دی اما که یوه نجلۍ صغیره وي (بالغه نه وي) او واده شوې وي (بکارت پرده یې له منځه تللې وي) نو ولي په هغې باندې اجباري ولایت لري، ځکه چې د هغې د اجباري ولایت سبب شته چې هغه صغر دی، نو که پلار یا نیکه بالغه نجلۍ په زوره په نکاح ورکړي، دا نکاح موقوفه ده د د غې نجلۍ تر اجازې پورې، که نجلۍ اجازه وکړه دا نکاح به صحیح وي او که اجازه یې ورنه کړه، نو نکاح به باطله وي، ځکه چې په دې نکاح کې د نکاح شرط نه دی موجود چې هغه د نجلۍ رضایت دی. همدا رنګه ولي په لیونۍ او معتوه (چې په عقل کې یې لږ خلل وي) باندې هم اجباري ولایت لري، ځکه چې لیونۍ خو بلکل عقل نه لري او د معتوه

---

۱ النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (وفات: ۶۷۶هـ)، **المجموع شرح المهذب**، ناشر: دار الفكر، ب، ت، ج: ۱۶، ص: ۱۶۶.

**په عقل کې کمزوري وي، ځکه دوی په خپلو مصالحو باندې نه پوهېږي، نو په دې خاطر چې د دوی مصالح له منځه لاړ نه شي، وليورباندې اجباري ولایت لري. (۱)**

**د احنافو دلائل:**

**دوی په دغه حدیثونو باندې دلیل نیسي: عبد الله بن عباس (رضی الله عنه) څخه روایت دی، چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: «الأیم أحق بنفسها من ولیها، والبکر تستأذن في نفسها، وإذنها صماتها» (۲)**

**ژباړه: کونډه ښځه د خپل ځان په باره کې له ولي نه زیاته حقداره ده او له پیغلې به اجازه غوښتل کېږي، د هغې په حق کې او د هغې چُپ پاتې کېدل د هغې په اجازه باندې دلالت کوي.**

**بل حدیث شریف له ابو هریره (رضی الله عنه) څخه روایت دی، چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: «تُسْتَأْمَرُ الْيَتِيمَةُ فِي نَفْسِهَا، وَإِنْ سَكَتَتْ فَقَدْ أَذِنَتْ، وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا» په بل روایت کې راغلي: «وَإِنْ أَنْكَرَتْ، لَمْ تُكْرَهْ».(۳)**

**ژباړه: له یتیمې نجلۍ نه به ( چې بالغه وي) د هغې په حق کې اجازه غوښتل کېږي، که چُپ شوه، دا چپ والی یې اجازه ده او که انکار یې وکړ نو په هغې به زور نه کېږي.**

**له دغو حدیثونو څخه په ښکاره ډول معلومیږي چې باید له بالغې نجلۍ نه اجازه واخیستل شي او اجازه اخیستل له پیغلې نه خپله د دې خبرې دلیل دی، چې ولي هغې باندې اجباري ولایت نه لري، چې پرته د هغې له اجازې هغه په نکاح ورکړي، دا حکم د پیغلې د نکاح دی، ځکه چې حدیث شریف د پیغلې په اړه راغلی او د صغیرې ذکر په حدیث شریف نشته، نو ځکه احناف د اجباري ولایت سبب صغر بولي، نو که کومه نجلۍ له بلوغ نه مخکې واده شوې وي ولي په هغې باندې هم د اجبار ولایت لري.**

---

۱ الکاسانی، **بدائع الصنائع**، ج: ۲، ص: ۲۴۲/ او المرغینانی، **الهدایة شرح بدایة المبتدی**، ج: ۱، ص: ۱۹۱/ او الزیلعی، **تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق**، ج: ۲، ص: ۱۱۸.

۲ تخریج یې ۹۴ صفحه کې ذکر شو.

۳ السِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي (وفات : ۲۷۵هـ) ، **سنن أبي داود**، طبعه: ۱، دار الرسالة العالمية کال:۱۴۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م، د حدیث نمبر: ۲۰۹۳، باب: في الاستئمار،ج: ۳، ص: ۴۳۴. / او الطحاوي أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري (وفات: ۳۲۱ هـ) **شرح معاني الآثار**، طبعه: ۱ ناشر: عالم الكتب، کال: ۱۴۱۴ هـ، ۱۹۹۴ م، حدیث ننمبر: ۷۳۲۹، باب تزويج الأب ابنته البكر, هل يحتاج في ذلك إلى استئمارها؟ ج: ۱۴، ص: ۴۲۱. امام الباني ویلي، چې دا حدیث صحیح دی.

**عقلي دليل: په صغیره (وړه نجلۍ) باندې د ولي د اجبار ولایت ځکه ثابت دی چې هغه د نکاح په باره کې نه پوهیږي، نو که هغې ته اختیار ورکړل شي، ممکن داسي یو کار وکړي چې هغې ته پکې ضرر وي اما په بالغه نجلۍ کې دا جهالت او نه پوهیدل د نکاح په اړه له منځه تللي وي او ډیرې کمې نجونې داسې وي چې له بلوغ وروسته دې د نکاح په اړه پوهه نه شي. په همدې خاطر بالغه نجلۍ په خپل مال کې تصرف هم کولای شي. (۱)**

**دویم: د مالکیانو او حنابله وو مذهب:**

**دوی وایي: د اجبار د ولایت اسباب بکارت، صغارت او جنون دي، که نجلۍ زړه هم شي، خو چې واده یې نه وي کړی په هغې باندې ولي اجبار کولای شي او هغه واده شوې وړه نجلۍ چې تر څو بالغه شوې نه وي او همدا رنګه لیونۍ اګر که بالغه هم وي په دوی باندې ولي د اجبار ولایت لري، ځکه چې دوی په خپلو ښو او بدو نه پوهیږي.**

**د دوی دلیل: دوی هم همدغه حدیث شریف په دلیل کې وړاندې کوي: «الأيم أحق بنفسها من وليها، والبكر تستأذن في نفسها، وإذنها صماتها» (۲)**

**دوی له حدیث شریف څخه داسې استدلال کوي چې له حدیث نه معلومیږي چې ولي د نکاح په باره کې په واده شوې باندې اجباري ولایت نه لري او له باکرې (پیغلې) نه به پوښتنه کیږي، که هغې سکوت وکړ او چُپ شوه نو دا د هغې د رضایت او خوښې دلیل دی، نو دا اجازه غوښتل له پیغلې نه د هغې د احترام او عزت دلیل دی، نه دا چې د باکرې (پیغلې) نه دې اجازه غوښتل شرط او لازم شي. (۳)**

---

۱ داماد افندی، **مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر**، ج: ۱، ص: ۳۳۳، / او الزیلعی، **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق**، ج: ۲، ص: ۱۱۸، / او ابن نجیم، **البحر الرائق شرح كنز الدقائق**، ج: ۳، ص: ۱۲۷.

۲ تخریج یې ۹۴ صفحه کې ذکر شو.

۳ المدني، **المدونة**، ج: ۲، ص: ۱۰۶. / او الحنبلي، **حاشية الروض المربع شرح زاد المستقنع**، ج: ۶، ص: ۲۵۶،/ او البهوتي، منصور بن یونس بن إدریس، وفات: ۱۰۵۱، **شرح منتهى الإرادات**، بیروت: عالم الكتب، کال: ۱۹۹۶م، ج: ۲، ص: ۶۳۵.

**د دوی بل دلیل دا دی، چې ځینو صحابه کرامو به د پیغلې په باره کې داسې ویل: (الرجل أحق بإنکاح ابنته البکر بغیر إذنها، وان کانت ثیباً فلا یجوز لأبیها إنکاحها إلا بإذنها). (۱)**

**ژباړه: سړی خپله پیغله لور پرته د هغې له اجازې څخه ورکولای شي او که واده شوې وي نو پلار ته روا نه ده چې د هغې له اجازې پرته هغه په نکاح ورکړي.**

**د صحابه کرامو له دغه قول څخه هم په ښکاره ډول معلومیږي چې د اجباري ولایت سبب هم دغه بکارت (پیغلتوب) دی، ځکه چې لکه څرنګه چې سړي ته دا روا شي چې پرته د لور له اجازې نه هغه ورکړي، نو دا ورسره خپله معلومیږي چې اجبار هم ورباندې کولای شي.**

**دریيم: د شافعیانو مذهب:**

**دوی وایي: د اجبار د ولایت سبب بکارت دی او دوی صغارت (وړوکوالی) ته یې اعتبار نه دی ورکړی یعنې د شوافعو په نزد صرف بکارت د اجباري ولایت سبب دی. (۲) له شوافعو او حنابله وو سره یې توپیر دادی، چې هغوی صغارت او جنون هم د اجبار د ولایت اسباب ګڼي.**

**د شافعیانو دلیل: د دوی دلیل هم دغه حدیث شریف دی: «الأیم أحق بنفسها من ولیها، والبکر تستأذن في نفسها، وإذنها صماتها» (۳)**

**دوی له حدیث شریف څخه داسې استدلال کوي چې له حدیث نه معلومیږي چې ولي د نکاح په باره کې په واده شوې باندې اجباري ولایت نه لري، نو که هغې په خپله خوښه له چا سره نکاح نه کوله، نو ولي ورباندې اجبار نه شي کولای، اما په پیغله سبب د اجبار چې هغه پیغلتوب دی شته، نو ځکه ولي ورباندې اجبار کولای شي.**

**د دوی بل دلیل: د بخاري شریف په دغه حدیث باندې استدلال کوي: «عن خنساء بنت خذام الأنصاریة أن أباها زوجها وهي ثیب فکرهت ذلک فأتت النبي صلی الله علیه وسلم فرد نکاحها» (٤)**

---

۱ المدني، **المدونة**، ج: ۲، ص: ۱۰۳.
۲ الرملی، **نهایة المحتاج**، ج: ۶، ص: ۲۲۹.
۳ تخریج یې ۹۴ صفحه کې ذکر شو.
٤ البخاری، **صحیح البخاری**، د حدیث نمبر: ۵۱۳۸، باب إذا زوج ابنته وهي کارهة فنکاحه مردود، ج: ۷، ص: ۱۸،/ همدارنګه حدیث نمبر: ۶۹۴۵، باب لا یجوز نکاح المکره، ج: ۹، ص: ۲۰،/ او همدارنګه حدیث نمبر: ۶۹۶۹، باب في النکاح، ج: ۹، ص: ۲۵.

ژباړه: له خنساء د خذام لور (۱) څخه روایت دی: چې پلار یې هغه په زوره یو کس ته په نکاح ورکړې وه، په داسې حالی کې چې هغه یو ځل واده شوې وه، نو نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ته راغله او هغه مبارک د دې نکاح رد کړه. دا حدیث د دې خبرې ښکاره دلیل دی چې ولي په واده شوې باندې اجباري ولایت نه لري او په پېغلې باندې یې لري. ځکه چې خنساء (رضی الله عنها) واده شوې وه او نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د هغې نکاح رد کړه.

**راجح قول:** زما په نظر په دې مسئله کې د احنافو قول قوي دی، هغوی د اجباري ولایت سبب صغارت او کوچني والی بولي او د ولایت د ثبوت لوی حکمت شفقت او مهرباني ده او له پېغلې څخه وړه نجلۍ ډېره بې تجربې او ناپوهه وي، خصوصا د نکاح په موضوع کې، نو له بکارت (پېغلتوب) څخه صغارت (کوچني والي) کې ډېر لایق ښکاري، د اجباري ولایت په اسبابو کې.

نو د ټولو مذاهبو د خبرو نتیجه داشوه، چې: د احنافو په نزد ولي کولای شي، چې وړه نجلۍ په جبر او زور سره په نکاح ورکړي اما که نجلۍ پیغله او عاقله وي نو بیا دا حق نه لري چې په جبر او زور سره یې په نکاح ورکړي، مالکیان او حنبلیان وایي: چې پلار یا هغه کس چې پلار ورته وصیت کړی وي کولای شي، چې هغه لور یا هغه نجلۍ چې باکره وي، په جبر په نکاح ورکړي، که نجلۍ واده شوې وي، یعنې د بکارت پرده یې له مینځه تللې وي، اګر که بالغه هم نه وي، په جبر په نکاح نه شي ورکولای او د شافعیانو قول هم د مالکیانو او حنبلیانو غوندې دی، صرف دومره فرق لري چې شافعیان نیکه ته هم د پلار مرتبه ورکړې.

## څلورمه فرعه: د افغانستان مدني قانون د صغیرې په اړه

۷۰ ماده: د ازدواج اهلیت هغه وخت پوره کیږي چه نارینه وو د (۱۸) کلنۍ عمر او ښځو د (۱۶) کلنۍ عمر پوره کړی وي.

---

۱ خنساء د خذام بن ودیعة بن خالد الانصاری لور، د اوس د قبیلې وه، دا کونډه وه پلار یې د بنی عوف د قبیلي یو نفرته په زور په نکاح کړې وه په داسې حال کې چې ابی لبابة بن عبدالمنذر د دې مرکه یا خواستګاري هم کړې وه دا خبره نبی کریم( صلی الله علیه وسلم) ته ورسېدله نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د هغې پلار ته امر وکړ چې د هغې په خوښه کار وکړه او هغې هم له ابو لبابة بن عبد المنذر سره واده وکړ. د نومړې د پیدایښت او مړینې په اړه څه نه دي لیکل شوي. مرجع:القرطبي، أبو عمر یوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر بن عاصم النمري (وفات: ۴۶۳ هـ)، **الاستیعاب في معرفة الأصحاب**، طبعه: ۱، دار الجیل، بیروت، کال: ۱۴۱۲ هـ - ۱۹۹۲ م، ج: ۴، ص: ۱۸۲۶.

۷۱ ماده: (۱)که نجلۍ د دې قانون د (۷۰) مادې درج شوی د رشد عمر نه وي پوره کړی د هغې د ازدواج عقد يواځې د پلار په وسيله چه د صحيح تصرف لرونکی وي يا د صلاحيت لرونکې محکمې په وسيلې صورت موندلی شي.

(۲) د صغيرې نجلۍ د نکاح عقد چه عمر يې د (۱۵) کلونو څخه کم وي په هيڅ صورت جواز نلري. (۱)

**يادونه:** داچې مدني قانون د صغيرې نکاح په هيڅ صورت جواز نه ورکوي او شريعت د صغيرې ولي ته مطلق اختيار ورکړی دی، يعنې ولي کولای شي چې له (۱۵) کلنۍ څخه مخکې يې هم په نکاح ورکړي دا دواړه خبرې سره ضد نه دي، ځکه چې په دې مسئله کې تقييد د مباح شوی دی هغه داسې چې شريعت د صغيرې په نکاح ورکول مباح ګڼلي او اولو الأمر د مباح د تقييد واک لري، چې دا کار ډېرې بېلګې لري خو زه غواړم په مدني قانون کې يې يوه بېلګه رانقل کړم.

**په مدني قانون کې د مباح د تقييد بېلګه**: ( دغه قانون په اسلامي شريعت باندې ولاړ دی، چې په ټوله کې له حنفي مذهب څخه په استفادې سره فقهي مسايل د مادو په بڼه بيان کړي دي.

د مدني قانون په لومړي ټوک کې د واده د اهليت په اړه راغلي دي: د ازدواج اهليت هغه وخت پوره کيږي، چې نارينه وو د (۱۸) کلنۍ عمر او ښځو د شپاړس کلنۍ عمر پوره کړی وي. د صغيرې نجلۍ د نکاح عقد چې عمر يې له (۱۵) کلونو څخه کم وي په هيڅ صورت جواز نه لري. (۲) په دې مادو کې د مباح تقييد راغلی دی، لومړی داچې په (۷۰) ماده کې د نارينه وو او ښځو لپاره د ازدواج عمر تعين او قيد کړی دی، چې نارينه به د واده پر مهال اتلس کلن او د ښځې عمر به د واده پر مهال شپاړس کاله وي، دا د مباح تقييد دی، ځکه چې کيدای شي يو هلک يا يوه نجلۍ په ۱۳، ۱۴ او ۱۵ کالو کې بالغ شي نو هغوی خو ازدواج کولای شي خو مدني قانون دغه تقييد کړی چې هلک له (۱۸) کلنۍ او نجلۍ له (۱٦) کلنۍ څخه مخکې واده نه شي کولی، مګر په هغه صورت کې چې پلار يې په نکاح ورکړې وي. په دې ځای کې مدني قانون د مباح د تقييد تطبيق کړی دی. د مدني قانون (۷۱) ماده په دې دلالت کوي، چې د قانوني عمر له پوره کولو مخکې واده جواز نه لري، دلته چې د صغيرې نجلۍ نکاح په عمر پورې مقيده شوې ځينې

---

۱ **مدني قانون:** ۷۰ او ۷۱ مادې.
۲ **مدني قانون** ۷۰ ، ۷۱ ماده او دويم بند.

علماء یې نه مني هغوی وايي: چې دا پرته له مصلحت څخه تقييد راغلی، خو حال داچې دا تقييد سم دی د شريعت خلاف عمل نه دی، په دې تقييد سره د صغيرې د حقوقو ساتنه کيږي.) (۱)

## پنځمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوترخوالی د منع قانون کې په بدو کې د ورکولو حکم

**۲۵ ماده**: (۱) هغه شخص چې په بدو کې د ورکولو په نوم ښځه په نکاح ورکړي يا يې وکړي، پــه اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې ذيدخل اشخاص (شاهد، وکيل، مصلح او عاقد) هر يو له احوالو سره سم په متوسط حبس محکوم او د نکاح عقد په بدو کې د ورکړل شوې ښځې د غوښتنې په صورت کې د قانون د حکمونو مطابق فسخ کيږي. (۲)

زما په نظر په بدو کې د نجونو ورکول څو صورته لري، اول: که نجلۍ عاقله او بالغه وي او د ميړه د انتخابولو حق هم ورکړای شي، نو هغه په خپله خوښه داومني، چې زه دې په بدو کې ورکړای شم، په دې خاطر چې دغه دښمني په دوستي سره بدله شي، نو د دغې نکاح په صحت کې کومه ستونزه نشته، ځکه چې په دغه صورت کې اجبار بلکل نه ليدل کيږي، البته دا کار په هغه صورت کې امکان لري، چې نجلۍ ته معلومه وي، چې د مقتول کورنۍ يوه تعليم يافته او ښه کورنۍ ده زما سره ظلم او زياتی نه کوي، ځکه که چيرې دا خبرې پکې نه وي فکر نه کوم چې کومه نجلۍ دې په خپله خوښه د ټول عمر له پاره ځان په اور کې واچوي. دويم: که نجلۍ عاقله او بالغه وي اما په دې نکاح راضي او خوښه نه وي، يعنې په جبر او زور سره په نکاح ورکړل شي، نو په دې صورت کې نکاح د ټولو مذاهبو په اتفاق نه صحيح کيږي. د احنافو په نزد ځکه نه ده صحيح، چې دلته نجلۍ عاقله او بالغه ده او په عاقلې بالغې نجلۍ باندې ولي اجباري ولايت نه لري، د نورو دريو مذاهبو د قول مطابق اګر که پلار په باکرې يا پيغلې باندې اجباري ولايت لري، اما اجباري ولايت چې د کومې موخې له پاره روا شوی، چې عبارت دی: له شفقت او مهرباني څخه هغه دلته نه ليدل کيږي. دريېم: که نجلۍ وړه وي، بيا هم د ټولو مذاهبو په اتفاق نکاح نه صحيح کيږي. په دې صورت کې اګر که د ټولو مذاهبو په اتفاق پلار ته اجباري ولايت ثابت دی، اما د اجباري ولايت موخه شفقت او مهرباني ده، نو کله چې هغه نه وي، نو اجباري ولايت هم نشته او په بدو کې د نجلۍ ورکول معلومه خبره

---

[1] فضلي، عبدالکريم، **د مباح په تقييد کې د اولو الأمر واک او د افغانستان په قوانينو کې يې تطبيقات**، د سلام پوهنتون د ماسترۍ رساله ، کال: ۱۳۹۵ لمريز، ص: ۱۱۸ او ۱۱۹.

[2] **د ښځې پر ضد د تاوتريخوالی د منع قانون**: ۲۵ ماده.

ده چې خوشحالي او آرامي پکې له سره نشته. بلکې وهل، ټکول، درانه کارونه، هر قسم ظلم او آن د انتقام په نیت د مرګ خطر هم پکې لیدل کیږي، نو هر کله چې د اجباري ولایت موخه پکې نشته، د اجباري ولایت ثبوت هم نشته، نو ځکه نکاح هم نه ده صحیح.

په همدې خاطر په مدني قانون کې د نجلۍ د واده له پاره د عمر اندازه ټاکلې چې عمر یې باید له شپاړس کلونو څخه کم نه وي، او د ښځې پر ضد د تاوترخوالی د منع قانون کې نکاح کوونکي او نکاح ورکوونکي ته د حبس جزاء ټاکلې. او د ښځې د غوښتنې په صورت کې د نکاح د فسخې حکم کړی؛ ترڅو ټولنه له داسې غلطو او اجباري نکاح ګانو او د هغې له بدو پایلو څخه خلاصه شي، ځکه چې په کم عمر کې د نجلۍ واده کول ډیرې بدې پایلې لري، غواړم په همدې اړه د افغانستان د تعلیمي مؤسسې (۱) د ریسرچ راپور هغه دوې مرکې ذکر کړم چې د کابل په ولسوالیو کې یې کړې دي.

په دې راپور کې د کم عمره نجونو د واده په اړه لیکل شوي دي:

(د کم عمره نجونو د ودونو په اړه ګڼون کوونکو ځینې لاملونه یاد کړل لکه د خلکو نا پـــوهي، د کم عمره ودونو بدو پایلو ته نه متوجه کېدل، په قرض کی د نجلۍ ورکول، همدا شان ځینې کسان لـــه دې وېرې په کم عمر کې نجونې واده کوي، چې هسې نه له کوم چا سره یارانه ټینګه کړي او ورسره وتښـــتي، چې د ټولې کورنۍ او قوم نوم به بد کړي، بل د اقتصاد کمزوري؛ ترڅو په لور باندې پیسې واخلي او خپلـــې اقتصادي ستونزې ورباندې هوارې کړي، خو ځینې هغه کسان چې اقتصادي وضعیت یې ښه وي او یا هم په کور کې داسې ښځینه ونه لري، چې کورنی کار او یا خدمت وکړي، هغوی په کم عمر کې خپلو زامنو تـــه ودونه کوي، اما دغه دود اوس د پخوا په پرتله ډېر تغیر خوړلی دی، په ځانګړې توګه هغه سیمې چې ښارونو ته نږدې دي، هلته په کم عمر کې د نجونو ودونه ډیرکم تر سترګو کېږي، که کوم څوک په کم عمر کـــې خپله لور هم نامزده کړي، تر هغه پورې یې واده نه کوي؛ څو چې د واده قانوني عمر یې نه وي پوره کـــړی، نجونې معمولاً له ۱۸ کلنۍ نه په لوړ عمر کې ودېږي، خو په هغو سیمو کې چې له ښارونو څخه لرې پرتـــې

---

[۱] په ۱۹۹۴ میلادي کال کې د BBC world service لخوا په پېښور کې افغان مهاجرینو ته د راډیو خپرونو له لارې، په بېلا بېلو برخو کې د معلوماتو ورکولو په خاطر د BBC AEP په نوم یو دفتر جوړ شو، چې نومړي دفتر په ۲۰۰۲ میلادي کال کې له پېښور څخه کابل ته انتقال شو، او د ۲۰۱۲ میلادي کال د اپریل په میاشت کې یې له بي بي سي، څخه استقلالیت ترلاسه کړ، او د AEPO په نوم یې خپل فعالیت ته دوام ورکړ، نوموړی دفتر د نوي کور نوي ژوند ډرامه او نورې تعلیمي خپرونی لکه: د آبادۍ غږ، روغتیا او ژوند، په خاورو کې زر او د ماشومانو لپاره درې خبرونې لري، چې په هره ونۍ کې ټولې ۱۶ خپرونې، چې (۸) یې په پښتو او (۸) یې په درې ژبه د بي بي سي له راډیو او تکراري بڼه یې د یو شمیر اف ام راډیو ګانو څخه په ولایتونو کې هم خپرېږي.

دي او د اوسېدونکو دعامه پوهاې کچه ټیټه ده، هلته دا دود تر اوسه هم لږ لږ پاتې دی. هلته داسې هم کېږي، چې يوه نجلۍ په ۱۱ کلنۍ يا هم په ۱۲ کلنۍ کې واده شي.

ځینی کورنۍ خپلې لوڼې د پیدایښت په مهال د یو چا په نامه کوي ورته وايي چې ما خپله لور ستا زوی ته درکړه، يا دوه ملګري یو بل ته وايي چې که ستا په کورکې نجلۍ پیدا شوه او زما په کور کې هلک، ته به دې خپله لور زما زوی ته راکوې او که زما لور پیدا شوه او ستا زوی، نو زه خپله لور ستا زوی ته درکوم).

۱: زما د خاله زوی ۲ کلنه لور نامزده کړه، دوه تنه نورهم پیژنم چې لوڼې يې د ولادت پر مهال نامزدې کړې، چې کله لږ لوی شول، يو هلک پښیمانه وه، چې زه دا نجلۍ نه کوم، خو پلار يې په دې قناعت ورکړ، چې دا خو اوس موږ ته نام بدي جوړېږي، چې موږ خپله ښځه پرېږدو، ته اوس له همدې سره واده وکړه، څه وخت وروسته به بیا بل واده هم درته وکړو، چې بیا همغسې وشول، هغه هلک ته يې بل واده هم وکړ، چې اوس يې هره ورځ په کور کې جنجال وي. (۱)

۲: دلته مختلف رواجونه دي، زما زوی د ۵ میاشتو و، چې يوه نجلۍ مو ورته په نامه کړه، خو زما زوی هوښیار و، کله چې لوی شو، نه ده کوم مخالفت وکړ، چې له دې نجلۍ سره واده نه کوم او نه هغې نجلۍ مخالفت وکړ، همدا وو چې اوس يې ژوند ښه روان دی، خو ځینې وخت داسې کېږي، چې په کم عمر کې واده وشي، وروسته د ناخوښۍ له امله د دواړو ژوند خراب شي. (۲)

## دويم مطلب: د مخۍ يا د بدل واده

د مخۍ واده يا د بدل واده چې په شريعت کې ورته (شغار) وايي صورت يې دادی چې: يو نفر خپله لور د بل نفر ځوی ته ورکړي او د هغه لور خپل ځوی ته وکړي او هريو د خپل ځوی له پاره مصرف کوي يعنې مقابل لوري ته د واده د مصارفو له پاره څه پيسې نه ورکوي، دا قسم واده ته په پښتنو سيمو کې د مخۍ واده وايي او په عمومي ډول په افغانستان کې دا قسم واده ته د بدل واده وايي او ځينې خلک ورته بيا د بديل واده هم وايي، آيا دا قسم واده په اجباري ودونو کې راځي؟

---

۱:- نارينه انفرادي مرکه، پغمان ولسوالي، د مرکې نيټه: ۱۰ – ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
۲:- ښځينه انفرادي مرکه، سروبي ولسوالي، د مرکې نيټه: ۱۰ – ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.

دا واده دوه صورته لري، يو دا چې د دواړو له طرفه نجونې راضي وي په دغه واده باندې خصوصا هغه وخت چې دواړه كورنۍ پوهې كورنۍ وي د ښځې له حقوقو څخه خبرې وي، نو د داقسم كورنيو تر منځ بيا جنجال هم نه پيښبږي، بلكې ژوند يې ډير ښه روان وي، بل صورت يې دادی، چې كله يو نفر له يو چا نه د خپل ځوی له پاره د هغه لور وغواړي، كه د هغه لور راضي وي، نو هغه بيا ورته وايي، چې په دې شرط مې خپله لور دركوم، چې ته به هم خپله لور ځما ځوی ته راكوي. په دې صورت كې اكثره داسې پيښيږي، چې د دغه اول نفر لور خوښه نه وي، په جبر او زور سره يې د مقابل لوري ځوی ته وركوي، چې همدا صورت يې د جبر دی او په همدې صورت كې بيا د دواړو كورنيو تر منځ جنجال او دښمني رامنځته كېږي او هغه خوشحالي يې هم په خفگان سره بدله شي، په يوې نجلۍ باندې چې څه تېرېږي مقابل لوری هم د هغوی په لور د انتقام په نيت هماغسې كوي او د دواړو نجونو عمر تريخ وي. اوس راځم د همدې واده څرنگوالي ته چې په شريعت او قانون كې دا قسم واده څنگه دی؟

## لومړۍ فرعه: په شريعت كې د مخې يا د بدل واده

لكه څرنگه چې مې وويل په شريعت كې د مخې واده ته د شغار واده وايي، دلته دوه خبرې مهمې دي چې بايد ذكر يې كړم، يو د شغار لغوي او اصطلاحي معنا، بل د فقهاوو نظريات او اختلاف د شغار په اړه.

اول: د شغار لغوي او اصطلاحي معنا: شغار په لغت كې په دوه معنا گانو سره راغلی:

۱: الرفع: پورته كيدل، داسې ويل كيږي: (شغرالكلب رجله) يعنې سپي خپله پښه پورته كړه چې متيازې وكړي.

۲: الخلو: خالي كيدل، داسې ويل كيږي: (شغرالبلد) يعنې ښار خالي شو. (۱)

او په اصطلاح كې: شغار(بدل) عبارت دی له دې چې يوڅوک خپل لور، خور يا هغه نجلۍ چې دی يې سرپرستي كوي بل نفر ته په دې شرط په نكاح وركړي چې د هغه لور، خور يا هغه نجلۍ چې هغه يې

---

۱ ابن منظور، **لسان العرب**: ج: ۴، ص: ۴۱۷. / او الرازی، **مختار الصحاح**، ج:۱، ص: ۳۵۴. / او الحسينی، **تاج العروس من جواهر القاموس**، ج: ۱۲، ص: ۲۰۳.

**سرپرستي کوي ده ته په نکاح ورکړي او د دوی ترمينځ به هيڅ مهر نه وي يعنې هره يوه نجلۍ د بلې نجلۍ له پاره مهر وګرځي. (۱)**

**دويم: د فقهاؤو نظريات: د شغار يا د بدل د صحت په اړه فقهاؤو اختلاف کړی جمهور فقهاء يې جائز نه بولي او د احنافو په نزد جائز ده.**

**الف: د جمهورو فقهاؤو نظر:**

**دوی وايي: چې د شغار نکاح جائز نه ده، ځکه په حديث شريف کې له دا قسم نکاح څخه نهې او منع راغلې ده، له انس بن مالک (رضی الله عنه) (۲) روايت دی، چې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: «لا شغار في الإسلام» (۳)**

**ژباړه: شغار (د بدل نکاح) په اسلام کې نشته.**

**استدلال: د شغار (بدل) نکاح کې يوه آزاده ښځه دبلې ښځې له پاره مهرګرځول کيږي او دا هغه شرط دی چې پدې سره نکاح فاسديږي، ځکه چې آزاده ښځه په مهر کې ټاکل صحيح نه دي، بل داچې په حديث شريف کې له يو کار څخه منع د هغه کار د عدم جواز دليل دی، نو ځکه د بدل نکاح جائز نه ده.(٤)**

**ب: د احنافو نظر:**

**احناف وايي چې د شغار(بدل) نکاح صحيح ده او دواړو ښځو ته مهر مثل لازميږي، ځکه دغه د شغار(بدل) نکاح په شرط فاسد باندې ترسره شوې هغه داسې چې دلته يوه آزاده ښځه د بلې ښځې له پاره مهر ګرځول شوې او آزاد انسان د مهر کېدلو وړتيا نه لري، ځکه چې مهر بايد مال وي او هغه مال نه ده، نو ځکه دا شرط فاسد دی او قاعده دا ده چې: نکاح په شرط فاسد باندې نه باطليږي، بلکې شرط به باطل وي او نکاح به صحيح وي او مهر مثل د دواړو له پاره لازميږي، لکه نکاح په شرابو يا په خنزير باندې.**

---

١ السرخسی، **المبسوط**، ج: ۵، ص: ۱۰۵ / او الکاساني، **بدائع الصنائع**، ج: ۲، ص: ۲۷۸ / او زيلعی، **تبيين الحقائق شرح کنز الدقائق**، ج: ۲، ص: ۱۴۵.

٢ انس بن مالک بن نضر بن ضمضم الانصاري، خادم الرسول، لس کاله يې د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) خدمت کړی دی. ډېر احاديث يې روايت کړی دي، چې شمير يې ۲۲۸۶ ته رسيږي. لس کاله له هجرت څخه مخکې پيدا او د هجرت په ۹۳ کال وفات شوی دی، عمر يې ۱۰۳ کاله وو.
مرجع: الذهبی: **سيراعلام النبلاء**، ج: ۳، ص: ۳۹۵، ۳۹۶، ۴۰۵ او ۴۰۶.

٣ القزويني،ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد ،(وفات: ۲۷۳هـ)، **سنن ابن ماجه**، ناشر: دار إحياء الکتب العربية، ب، ت، د حديث نمبر: ۱۸۸۵، باب النهي عن الشغار، ج:۱، ص: ۶۰۶/ او السِّجِسْتاني **سنن أبي داود**، د حديث نمبر: ۲۰۷٤، باب في الشغار، ج: ۳، ص: ۴۱۸/ او البيهقی، **سنن الکبری**، د حديث نمبر: ١٤١٣٩، باب الشغار، ج: ۷، ص: ۳۲۵. امام الباني ويلي، چې دا حديث صحيح دی.

٤ المالکي، **التاج والإکليل لمختصر خليل**، ج: ۵، ص: ۱۹۳ / او الخرشي، **شرح مختصر خليل للخرشي**، ج: ۳، ص: ۲۶۷ / او الشافعي، **الأم**، ج: ۵، ص: ۸۳ / او ابن قدامة، **المغني لابن قدامة**، ج:۷، ص:۱۷۶ .

**نو دا نکاح مشابه شوه له هغې بيعې سره چې د جمعې آذان په وخت کې ترسره کېږي، پاتې شو حديث شريف چې هغه کې د شغار له نکاح څخه په واضحه توګه منع راغلې، هغه حمل ده د جاهليت د دورې د شغار(بدل) په نکاح باندې، چې په جاهليت کې به هم دغه د شغار(بدل) نکاح کېدله او يوې ښځې ته به هم مهر نه ورکول کيده نه په نکاح کې او نه وروسته له نکاح څخه، چې د همدې خبرې تاييد د لغاتو له کتابو څخه هم کېږي، کله چې موږ د شغار معنا ته ورشو نو د شغار لغوي معنا ده: (الرفع و الإخلاء) يعنې پورته کول او خالی کول لکه څرنګه چې ويل کېږي: شغرالکلب رجله. يعني سپي خپله پښه پورته کړه او همدا رنګه ويل کېږي: شغرالبلد يعنی خالی شو ښار (۱) نو تطبيق يې د شغار په نکاح کې داسې کېږي چې د شغار نکاح يعنې: هغه نکاح چې په هغه کې مهر پورته شوی وي او په نکاح کې مهر لازم نه وي، يا هم هغه نکاح چې له مهر څخه بلکل خالي وي او موږ د شغار په نکاح کې مهرمثل لازموو، نو د حديث تر نهی لاندې نه راځي. (۲)**

## دويمه فرعه: د افغانستان په مدني قانون کې د مخی يا د بدل نکاح

**۶۹ ماده: د بدل ازدواج په عقد کې يوه ښځه د بلې ښځې په بدل کې نه واقع کيږي او هرې يوې ښځې ته مهر مثل لازميږي. (۳)**

**دا چې د افغانستان مدني قانون له فقهې څخه جوړ شوی، نو ځکه د فقهې او قانون خبره په ډيرو ځايونو کې يو قسم وي چې ښکاره مثال يې همدا د مخی يا د بدل واده دی.**

**اما زما په نظر بايد خلک خپلې لوڼې په مخی يا په بدل ور نه کړي، ځکه چې يو خو د شريعت له لحاظه دا واده روا نه دی، اګر که احنافو جائز ګڼلی دی، په دې شرط چې دواړو ښځو ته مهر مثل ورکړي، اما په افغانستان کې په ډيره زياته پيمانه خلک خپلو ښځو ته د هغوی معين شوی مهر نه ورکوي، مهر مثل په خو لا په ځای پريږده، بل داچې د افغانستان واقعيتونو ته په کتنې سره په افغانستان کې د تعليم کچه ډيره ټيټه ده، خلک د ښځو له حقوقو څخه خبر نه دي او د انتقام لمبه د ټولو افغانانو په زړه کې بله ده، نو د مخی د واده په پايله کې که د يو په لور د خسر په کور کې هر څه تيريږي – اګر که ملامته هم وي – د بل په لور د**

---

۱ مرجع يې په ۱۰۵ صفحه کې ذکر شوه.

۲ السرخسی، **المبسوط**، ج: ۵، ص: ۱۰۵. / او زيلعی، **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق**، ج: ۲، ص: ۱۴۵. / او ابن الهمام، **شرح فتح القدير**، ج: ۳، ص: ۳۳۸.

۳ مدني قانون: ۶۹ ماده.

انتقام په خاطر هماغه سې کيږي او د واده چې کومې موخې دي، يعنې دوستي، مينه، محبت او خپلوي هغه پکې ټولې له مينځه ځي او په دښمني، حسد، کينه او خفګان سره بدليږي.

## دريم مطلب: په کم عمر کې د نجلۍ واده کول

په کم عمر کې د نجونو ورکول دا دي، چې يو نفر خپله لور مخکې له دې چې د واده قانوني عمر ته ورسيږي په نکاح ورکړي او يا يې هم له پيدايښت څخه مخکي چاته په نامه کړي، چې اوس د لوښو دا قسم ورکول که څه هم کم شوي دي، خو بيا هم په ځينو ولايتونو کې دا رواج شته، د دې کار لوی لامل زما په نظر فقر او جهالت دی. سړی فقير وي د اولادونو نفقه په سمه توګه نه شي پوره کولای او وايي، چې لور خو د پردي کور ده او پردی امانت دی، نو په دې خاطر چې له پردي امانت او د هغه له جنجال څخه يې ځان خلاص کړی وي، په ماشوم توب کې خپله لور ورکړي، ممکن نورې وجهې هم وي، چې خلک دې کار ته مجبوروي اما لوی لامل يې فقر دی. کله چې ولي دغه وړه نجلۍ چا ته په نکاح ورکړي، نو آيا دا نکاح صحيح کېږي او که نه؟ غواړم همدا موضوع په دوه فرعو کې ذکر کړم په لومړۍ فرعه کې د شريعت نظر او په دويمه فرعه کې د قانون نظر ذکر کړم.

### لومړۍ فرعه: په شريعت کې د وړې نجلۍ د واده حکم

ولي دا حق لري، چې وړه نجلۍ په نکاح ورکړي، که دهغې خوښه وي او که نه وي، يعنې نکاح يې صحيح کيږي، د احنافو او شوافعو په نزد پلار او نيکه دواړه دا کار کولای شي او د مالکيانو او حنبليانو په نزد پلار يا هغه کس چې پلار ورته وصيت کړی وي، احناف دا هم وايي: که له پلار او نيکه څخه پرته نورو اولياوو وړه نجلۍ ورکړې وه، له بلوغ نه وروسته خيار بلوغ لري، يعنې که نجلۍ په دې نکاح راضي نه وي، نو له بلوغ نه وروسته کولای شي چې دا نکاح فسخ کړي، خو که پلار او نيکه ورکړې وي نو بيا خيار بلوغ نه لري، ځکه چې د پلار او نيکه شفقت او مهرباني له نورو ټولو او لياوو څخه زياته وي، نو هغه خپله لور په داسې کورنۍ کې نه ورکوي، چې د هغه ژوند پکې خراب وي. داچې په اولياوو کې څوک اجباري ولايت لري؟ او د اجباري ولايت اسباب کوم دي؟ د دې خبرې تشريح او تفصيل مې د همدې فصل په لومړي مطلب دويمه او دريمه فرعه کې ذکر کړی، دويم ځل يې ذکر کولو ته ضرورت نه وينم.

## دویمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع قانون کې د ورې نجلۍ د واده حکم

۲۸ ماده: که چیرې یو شخص هغه ښځه چې د واده قانوني سن یې نه وي بشپړ کړی او د مدني قانون په (۷۱) ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو پرته یې د نکاح په عقد کې راولي، له احوالو سره سم په متوسط حبس چې له دوو کلونو څخه لږ نه وي، محکومیږي او نکاح د ښځې د غوښتنې په صورت کې د قانون د حکمونو مطابق فسخ کیږي. (۱)

د دې قانون مطلب دا دی، چې که چا یوه وړه نجلۍ چې عمر یې له پنځلسو کلونو څخه کم وي په نکاح کړي، نو نکاح یې نه صحیح کیږي، ځکه چې د مدني قانون په ۷۱ ماده کې همداسې راغلي او باید لږ تر لږه تر دوه کاله پورې بندي هم شي، زما په نظر دا حکم یې ځکه په قانون کې راوړی، چې تجربو دا ثابته کړې چې که وړه نجلۍ واده شي، نو په هغې کې دا وړتیا نه وي چې د واده مسؤولیتونه په غاړه واخلي او که صرف کوژده یې وشي، نو بیا یې له بلوغ او د واده له قانوني عمر پوره کولو څخه وروسته حالت یې نه وي معلوم چې له همدغه هلک سره ژوند کولای شي او که نه، ډیر داسې پیښ شوي چې ژوند یې سره خراب وي او له ډیرو مشکلاتو او ستونزو سره مخ وي، نو له دغه خطر څخه د خلاصېدو په خاطر قانون دا جزا ټاکلې؛ تر څو ټولنه له مشکلاتو څخه په امن کې وي.

## څلورم مطلب: د کونډې واده کول په زور سره

د افغانستان په ډیرو ولایتونو کې خصوصا په پښتنو ولایتونو کې معمول داسې دی، چې کله کومه ښځه کونډه شي نو که ښځه مشره وي یعنې د اولاد راوړلو وړتیا پکې نه وي، نو هماغسې کونډه کیني او بیا واده نه کوي، اما که ځوانه وي او وغواړي چې نکاح وکړي نو باید د همدې مېړه په کورنۍ کې واده وکړي. که د مړ شوي مېړه ورور وي یا کوم بل نږدې خپلوان. یعنې کونډه دا اجازه نه لري چې په خپله خوښه د مېړه له کورنۍ پرته له بل چا سره واده وکړي. دا قسم خلک په دې نظر دي چې کونډه زموږ ناموس او زموږ د کور ښځه ده، نو موږ څنګه اجازه ورکړو چې زموږ د کور ښځه دې له بل چا سره واده وکړي؟ له بل چاسره د کونډې واده ورته ناموسي او بې غیرتي ښکاري، نو ځکه یې هغه مجبوره کړې وي،

---

۱ د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع قانون : ۲۸ ماده.

چې خامخا به د همدې د کورنۍ له يو غړي سره واده کوي، که هغه د دې خوښه وي او که نه. همدا رنګه که هغه له دې ښځې سره په عمر، اخلاقو او هر څه کې توپير ولري او که يې ونه لري دوی ته مهمه نه وي، نو د دا قسم واده پايله ډېره خرابه وي او ژوند ډېر تريخ وي، اما په ځينو ولايتونو کې خصوصا په دري ژبو ولايتونو کې بيا دا خبره نشته، يعنې کله چې کومه ښځه کونډه شي، هغه په خپله خوښه له هر چاسره واده کولای شي، که هغه د مېړه له کورنۍ څخه وي او که بل څوک وي.

اوس راځم د همدغه صورت څرنګوالي ته چې په شريعت او قانون کې دا قسم نکاح څنګه ده؟

## لومړۍ فرعه: په شريعت کې د کونډې واده کول په زور سره

په شريعت کې د کونډې واده کول په زور سره حرام او ناجائز دی، ځکه چې د کونډې باره کې الله تعالی آيت کريمه نازل کړی، الله تعالی فرمايي: «يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا» (۱)

ژباړه: اې مؤمنانو تاسو ته حلال نه دي، چې ښځې په زور په ميراث يوسئ او تاسو دا ښځې د دې له پاره مه منع کوئ چې له دوی څخه ځينې هغه مال واخلئ چې په مهر کې مو ورکړئ، مګر دا چې هغوی کوم ښکاره بد کار وکړي (لکه زنا يا نشوز) او له دوی سره په نيکه طريقه ژوند وکړئ، که ستاسو دا ښځې نه خوښېږي، نو صبر وکړئ، ښايي الله تعالی په هغه شي کې چې ستاسو نه خوښېږي ډېر خير ايښی وي. (۲)

مفسرين د دې آيت په شان نزول کې وايي چې د جاهليت په زمانه کې داسې رواج و، چې کوم سړی به مړ شو، نو د مړ شوي کس اولياء به د دغې ښځې مستحق وو، يعنې که په دوی کې به د چا خوښه وه له دغې ښځې سره به يې نکاح کوله او که به يې خوښه وه بل چاته به يې په نکاح ورکوله او که به يې خوښه وه، چې بلکل يې په نکاح ور نه کړي، نو همداسې به يې پرېښودله او نکاح به يې نه شوی کولای، نو د ښځې له کورنۍ څخه د مېړه کورنۍ د ښځې لايق ګڼل کېدل. نو الله تعالی دغه آيت نازل کړ (۳) او خلک

---

۱ سورة النساء ايت: ۱۹.
۲ **کابلی تفسير**، ج: ۱، ص: ۴۴۷ او ۴۴۸.
۳ القرشي، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير(وفات: ۷۷۴هـ)، **تفسير القرآن العظيم**، طبعه: ۲، مدار طيبة للنشر والتوزيع، کال: ۱۴۲۰هـ - ۱۹۹۹م، ج: ۲، ص: ۲۳۹/ او القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين (وفات: ۶۷۱هـ)، **الجامع لأحكام القرآن**، طبعه: ۲،دار الكتب المصرية - القاهرة کال: ۱۳۸۴هـ - ۱۹۶۴ م، ج: ۵، ص: ۹۴.

يې له دې کار څخه منع کړل يعنې کله چې ښځه کونډه شي له عدت نه وروسته کولای شي چې له هر چا سره يې خوښه وي نکاح وکړي، څوک دا حق نه لري چې هغه له نکاح څخه منع کړي يا يې د يو چا نکاح ته مجبوره کړي.

همداراز له دغه حديث شريف څخه هم «الأيم أحق بنفسها من وليها، والبكر تستأذن في نفسها، وإذنها صماتها» (۱) د کونډې د اجباري نکاح منع معلومېږي.

## دويمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالی د منع په قانون کې د کونډې واده

**۲٦ ماده:** که چيرې يو شخص هغه ښځه چې د واده قانوني سن يې بشپړ کړی وي، د هغې له رضايت پرته کوژده يا يې واده کړي، له احوالو سره سم په متوسط حبس چې له دوو کلونو څخه لږ نه وي، محکوم او کوژده او نکاح د قانون د حکمونو مطابق فسخ کيږي.

**۲۷ ماده:** که چېرې شخص د ښځې د واده خنډ وګرځي يا د ميړه (زوج) د غوره کولو حق له هغې څخه سلب کړي، له احوالو سره سم په قصير حبس محکومېږي. (۲)

يادونه: په پورتنيو دوو مادو کې که څه هم کونډه صراحتا نه ده ذکر شوې اما په عمومي توګه د کونډې عمر قانوني عمر ته رسيدلی وي، نو ځکه کونډه هم د دې مادو په حکم کې شامله ده.

اوس نتيجه دا شوه چې: د کونډې واده کول پرته د هغې له رضايت او خوښې نه حرام او نا جائز دی، نو که چا کومه کونډه ښځه په جبر واده کړه نکاح يې نه صحيح کيږي، دا نکاح بيرته فسخ کيږي او په قانون کې دغه شخص ته لږ تر لږه دوه کاله د بند جزا هم ټاکلې ده.

---

۱ تخريج يې ۹۴ صفحه کې ذکر شو.
۲ **د ښځې پر ضد د تاوتريخوالی د منع قانون:** ۲۵ او ۲٦ مادې.

## پنځم مطلب: د پیسو مقابل کې د نجلۍ ورکول

په افغانستان کې معمول داسې دی، چې کله یو نفر خپله لور ورکوي، نو د هلک له کورنۍ څخه د ولور په نامه یوه اندازه پیسې اخلي، ځينې خلک دا پیسې د خپلې لور له پاره مهر ګرځوي او هغې ته وربانديې د کور سامان اخلي او زیاتره خلک بیا دا پیسې په خپل جیب کې ږدي، خپل ځان ته يې مصرفوي او خپلې لور ته يې نه ورکوي، که هغې ته د مېړه په کور کې پېغور ورکوي او که هرڅه ورته وايي، پلار يې د دې خبرو هيڅ پروا هم نه لري، آن تردې چې ځېنې خلک دا سې هم شته چې خپله لور ځان ته غنیمت ګڼي او خپل ډېر مالي حسابونه او قرضونه يې د خپلې لور ورکولو ته معطل کړي وي، چې کله خپله لور ورکړي، نو د هغې په پیسو باندې خپلې معاملې مخ ته بيايي. هغه خلک چې د ولور پیسې په مهر کې حسابوي، د نکاح د تړلو په وخت کې هم همدغه پیسې په مهر کې يادوي، چې په ولور کې يې اخیستې او هغه خلک چې د ولور پیسې په مهر کې نه حسابوي، هغوی د نکاح تړلو په وخت کې هم دغه پیسې نه ذکر کوي، چې په ولور کې يې اخيستي، بلکې نورې پیسې په مهر کې لازموي.

په دې مسئله کې د اجبار صورت دا دی، چې کله پلار خپله لور د پیسو په خاطر داسې نفر ته ورکړي، چې د لور يې خوښ نه وي، یعنې دا نجلۍ په دې نکاح باندې راضي نه وي، نو دا صورت يې د اجبار دی، چې پلار خپله لور مجبوره کړي چې له همدغه سړي سره به واده کوي. اوس دلته درې خبرې دي اول: کله چې د نجلۍ رضا او خوښه نه وي نو آیا دا نکاح صحیح کېږي او که نه؟. دويم: کله چې پلار دا پیسې واخلي نو آیا دا پیسې پلار ته حلالې دي او که نه؟ ځکه چې دا پیسې خو په حقیقت کې مهر دی، اګر که نوم وربانديې د ولور ايښودل شوی دلیل يې دا دی، چې په کوم ځای کې چې د نجلۍ پلار ولور زيات اخلي د هغه ځای په باره کې خلک وايي، چې د دې سیمې ښځې قیمته دي او دا خبره په هغه ځای کې ويل کيږي، چې د هغه ځای د ښځو مهرونه زیات وي او مهر د ښځې حق دی، بل هېڅوک پکې حق نه لري او دریيم: د ښځې پر ضد د تاوتريخوالي د منع په قانون کې د ښځې خرڅولو له پاره يې څه جزا ټاکلې؟ غواړم چې همدا درې خبرې په دريو فرعو کې ذکر کړم.

### لومړۍ فرعه: د نجلۍ له خوښې پرته د هغې نکاح

کله چې پلار خپله لور د هغې له خوښې پرته په نکاح ورکړي، نو دا نکاح نه صحیح کيږي، نه د جمهورو فقهاءو په نزد او نه د احنافو په نزد، د جمهورو په نزد ځکه نه صحيح کيږي چې هغوی وايي: پرته

**له رضایت څخه په هیڅ صورت نکاح نه صحیح کېږي، ځکه چې د عاقدینو رضایت د نکاح د صحت له شرطونو څخه یو شرط دی، نو کله چې د نکاح شرط نه وي موجود شوی، نکاح هم نه صحیح کېږي. د احنافو په نزد دا نکاح ځکه نه صحیح کیږي، چې هغوی وایي: په عاقله او بالغه نجلۍ باندې ولي اجباري ولایت نه لري، نو کله چې ولي دا حق نه لري، چې نجلۍ په جبر او پرته د هغې له خوښې هغه په نکاح ورکړي، نو نکاح یې هم نه ده صحیح، اګر که احناف په اکراه باندې نکاح صحیحه بولي خو هغه خبره یې دومره قوي نه ده، د اجباري نکاح په اړه د جمهورو فقهاءو خبره قوي ده، په دې اړه مې تفصیل په اول فصل دویم مبحث او شپږم مطلب کې (د اجبار تأثیرات په قولي تصرفاتو کې) تر عنوان لاندې ذکر کړی.**

## دویمه فرعه: مهر د ښځې حق دی

### اول جزء: مهر په شریعت کې:

**الف: د مهر تعریف: مهر هغه مال دی چه سړی یې د نکاح په وخت کې فوراً ادا کوي، یا د ادا کولو ژمنه ورکوي، (۱)مهر په دوه ډوله دی یو مهر معجّل (نغد) او بل مهر مؤجل (په نیټه). مهر معجّل هغه مهر دی چه فوراً دنکاح په وخت کې ادا کیږي اومهر مؤجل هغه دی چه د نکاح په وخت کې فوراً نه اداکیږی، بلکه د ورکولو دپاره ژمنه ورکول کیږي.**

**ب: د مهر اندازه: د مهر کمه اندازه لس درهمه ده، چې ۲۹.۷۵ ګرامه سپین زر کېږي، د مهر د زیاتې اندازې له پاره څه ټاکلې اندازه نشته، خو د مهر دومره اندازه ټاکل په کار دي، چې مېړه یې په آسانۍ سره ادا کړی شي، له عقبه بن عامر (رضی الله عنه) (۲) څخه روایت دی، چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: «خیر الصداق أیسره». (۳)**

**ژباړه: بهترین مهر هغه دی چې ادا کول یې آسانه وي، یعنې کم وي.**

---

۱ إبراهیم مصطفى ـ أحمد الزیات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار، **المعجم الوسیط**، باب المیم، ج: ۲، ص: ۸۸۹.

۲ عقبه بن عامر الجهني المصري، دی هم عالم، هم قاری، هم فصیح، هم فقیه، هم په فرضو باندې ډیر پوه، هم شاعر او هم د لوړې مرتبې خاوند وو، همداراز ډیر ښایسته غږ یې درلود. د هجرت په ۵۸ کال په مصر کې وفات شو. مرجع: الذهبی: **سیراعلام النبلاء**، ج: ۲، ص: ۴۶۷ ــ ۴۶۹.

۳ ابن البیع، **المستدرک على الصحیحین**، حدیث نمبر: ۲۷۴۲، ج: ۲، ص: ۱۹۸،/ او البیهقي أبو بکر أحمد بن الحسین بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، (وفات: ۴۵۸ هـ)، **السنن الکبرى**، طبعه:۳، لبنان، بیروت دار الکتب العلمیة، کال: ۱۴۲۴ هـ ـ ۲۰۰۳ م، حدیث نمبر: ۱۴۳۳۲، باب النکاح ینعقد بغیر مهر، ج: ۷، ص: ۳۷۹. امام حاکم ویلي، چې دا حدیث د شیخینو په شرط صحیح دی او امام الباني بیا ویلي، چې یواځې د مسلم په شرط صحیح دی.

**ج: د مهر تصرف کوونکی: مهر صرف د ښځې حق دی، که نجلۍ صغیره وي پلار، یا نیکه، یا قاضي به د هغې مهر اخلي بیا به یې هغې ته ورکوي، اما که نجلۍ بالغه وي او وغواړي چې خپله یې مهر قبض کړي هیڅوک هغه نه شي منع کولای. همدا رنګه ښځه کولای شي چې خپل ټول مهر یا څه حصه یې خپل مېړه ته ور وبښي. خلاصه دا چې هر قسم تصرف په مهر کې کولای شي. الله تعالی فرمایي: «وَآتُواْ النَّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً ». (۱)**

**ژباړه: تاسو خپلو ښځوته د هغوی مهرونه په خوشحالۍ سره ورکړئ.(۲)**

**د: د مهر د لزوم او اداء کولو وخت: کله چې د نکاح عقد تر سره شي، نو مهر لازمېږي. مهر که په نکاح کې ذکر نه شي، یا بلکل نفې شي، بیا هم مهر لازمېږي، ځکه چې مهر د نکاح له لوازمو څخه دی، لکه نفقه چې هغه هم پرته له ذکر کولو نه په مېړه باندې لازمېږي. که په نکاح کې معینه اندازه مهر وټاکي، هماغه مهر لازمېږي، چې هغه ته مهر مسمی وایي او که مهر ذکر نه کړي، یا یې بلکل نفې کړي، نو مهر مثل لازمېږي او کله چې مېړه له ښځې سره دخول وکړي یا خلوت صحیحه (۳) وکړي او یا هم یو له ښځې او مېړه څخه مړ شي، نو بیا د ټول مهر اداء کول لازمیږي او که مېړه له دخول یا خلوت صحیحه څخه مخکې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي؛ نو بیا نیم مهر لازمېږي. الله تعالی فرمایي: «وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ» (٤)**

**ژباړه: که تاسو طلاقې کړې دغه ښځې مخکې له دې چې جماع ورسره وکړئ، او تاسو هغوی ته مهر ټاکلی وي، نو په تاسو لازم دی، نیم د هغه مهر چې ټاکلی مو دی. (۵)**

**د مهر د اداء کولو له پاره کوم معین وخت نه دی ټاکل شوی، یعنې له واده نه مخکې هم ورکولای شي او له واده نه وروسته هم. (٦)خو نن سبا بیا وینو، چې د افغانستان په ډېرو ځایونو کې دغه حق خپل حقدار ته نه سپارل کیږي، ښځه لا د خپل مهر په اندازه هم خبره نه وي، خو پلار یې مخکې له مخکې هغه په**

---

۱ سورة النساء: ۴ آیت .
۲ **کابلی تفسیر**، ج: ۱، ص: ۴۲۸.
۳ خلوت صحیحه دیته وایي چې : ښځه او میړه دواړه سره دومره وخت تنها وي چې هغه وخت کې جماع کیدای شي او د جماع کوم مانع هم نه وي، لکه: حیض، مریضي، فرضي روژه، احرام او داسې نور دیته خلوت صحیحه وایي که په دې وخت کې جماع هم ونه شي نو بیا هم د جماع حکم لري.
٤ سورة البقرة، آیت: ۲۳۷.
۵ **کابلی تفسیر**، ج: ۱، ص: ۱۹۵.
٦ الکاساني، **بدائع الصنائع**، ج: ۲، ص: ۲۷۴- ۲۹۶، / او السرخسي، **المبسوط**، ج: ۵، ص: ۶۲- ۶۵، / او الزیلعي، **تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق**، ج: ۲، ص: ۱۳۵- ۱۴۲.

خپلو اقتصادي چارو کې مصرف او یاکوم تجارتي دوران ته اچولی وي، که ظاهراً له خپلې خور یا لور څخه ښځه وغواړي، نو لور غریبه به څه ووایي، لور یا خور خو په حقیقت ښه پوهېږي، خو ځکه څه نه شي ویلای چې نه غواړي د ډېر تاوان سره سره پر خپل ځان د پلار یا ورور دروازه بنده کړي، ځکه د دې غریبې په مخکې له خپلې کورنۍ څخه فراق دی، نو ورسته به همدا یوه دروازه د دې له پاره د تسل، سکون او د څو ورځو تیرولو ځای وي او بس.

**دویم جزء: د افغانستان مدني قانون کې د ښځې مهر:**

**۹۸ ماده:** په دخول، صحیح خلوت یا د زوجینو څخه د یوه په مرګ که څه هم دا مرګ د دخول یا صحیح خلوت ترمخه صورت موندلی وي، ټول مهر لازمیږي.

**۹۹ ماده:** ښځه د مسمی مهر مستحقه ګڼل کیږي، که مهر د عقد په وخت کې نه وي ټاکل شوی او یا نفی شوی وي، نو مهر مثل لازمیږي.

**۱۰۰ ماده:** مال چه د تملک قابلیت ولري، مهر ټاکل کیدای شي.

**۱۰۳ ماده:** ۱- بالغه ښځه چې د قانوني ازدواج عمر یې پوره کړی وي د صحت په حالت کې او په خپله رضا کولای شي، هغه مهر چې ورته نقد ټاکل شوی، ټول او یا یوه حصه یې د مېړه له ذمې څخه ساقط کړي.

۲- هغه ښځه چې د دې قانون د (۷۰) مادې درج شوی عمر یې نه وي پوره کړی، د هغې پلار په هېڅ صورت نه شي کولی چې مهر د مېړه له ذمې څخه ساقط کړي.

**۱۰۵ ماده:** د دې مادې تعدیل: که جدایي له دخول یا صحیح خلوت څخه مخکې واقع شي، د تسمیې په صورت کې ښځه د نیمایي مسمی مهر مستحقه ګڼل کیږي.

**۱۱۰ ماده:** مهر د ښځې ملکیت دی، ښځه کولی شي په خپل مهر کې هر نوع مالکانه تصرف وکړي. (۱)

---

۱ **مدني قانون** ۹۸، ۹۹ ، ۱۰۰، ۱۰۳، ۱۰۵ او ۱۱۰ مادې.

د مهر په اړه د افغانستان مدني قانون د حنفي فقه سره برابر ده ځکه چې مدني قانون هم له حنفي فقهې څخه اخیستل شوی.

همداراز د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې ښځه په مالونو کې د تصرف کولو څخه د منعې په اړه راغلي:

**۳۴ ماده:** هغه شخص چې د ښځې شخصي مالونه تصرف یا هغه له تصرف څخه په هغو کې منع کړي، له احوالو سره سم په قصیر حبس چې له دریو میاشتو څخه زیات نه وي، محکوم او مال د ښځې په تصرف کې ورکول کیږي. (۱)

یادونه: مهر د ښځې شخصي مال دی او هغه یې د تصرف حق لري او پورتنۍ **۳۴** ماده د ښځې د شخصي مالونو د تصرف په اړه ده نو د همدې مناسبت په خاطر مې دا ماده دلته ذکر کړه.

## دریمه فرعه: د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې د واده په بهانه د ښځې خرڅول یا اخیستل

**۲۴ ماده:** هغه شخص چې ښځه د واده په منظور یا بهانه و پلوري، یا یې وپېري، یا په هغو کې وساطت وکړي، له احوالو سره سم په اوږده حبس، چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي محکومېږي. (۲)

د ټول مطلب خلاصه دا شوه، چې که پلار یا ورور خپله لور یا خور د پیسو په مقابل کې ورکړي، نو نکاح یې نه صحیح کیږي، نه د احنافو په نزد او نه د جمهورو فقهاوو په نزد، ځکه چې دلته هیڅ کوم داسې دلیل نشته، چې پلار یا ورور دې پیسې واخلي او خپله لور یا خور دې خرڅه کړي، بلکه د دغو پیسو خوړل پلار یا ورور ته حرام دي، ځکه چې دا د نجلۍ مهر دی او مهر یوازې د ښځې حق دی، اما که دغه پیسې په مهر کې حساب نه شي، د ولور په نامه یې پلار په خپل جیب کې کیږدي او ځان ته یې مصرف کړي، نو بیا دا داسې مثال لري، لکه چې پلار خپله لور خرڅه کړې وي او آزاد انسان خرڅول حرام دی، نو بیا هم دغه پیسې پلار ته حرامې شوې او د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې بیا دا قسم نفر ته چې نجلۍ

۱ **د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع قانون:** ۳۴ ماده .
۲ **د ښځې پر ضد د تاوتریخوالی د منع قانون:** ۲۴ ماده .

د پیسو په مقابل کې ورکوي، یا یې خپل ځان ته په نکاح کوي، یا د دوی په منځ کې رابطه جوړوي، تر لسو کلونو پورې یې د بند جزا ورکړې. زه وایم له دا قسم خلکو سره، چې خپلې لورګانې یا خویندې د پیسو په مقابل کې خرڅوي، همداسې جزا ورته مناسبه ده؛ تر څو له دا قسم ناوړه کارونو څخه منع شي.

زما په نظر دا قسم د لور یا د خور ورکول سم نه دي، یو خو د شریعت له اړخه جائز نه دی، ځکه چې له احنافو څخه پرته نور مذاهب په نکاح کې د عاقدینو رضایت شرط بولي، یعنې که یو له عاقدینو څخه په نکاح راضي نه وي، نو نکاح نه صحیح کېږي. بل له اجتماعي اړخه هم دا قسم ودونه سم نه دي، ځکه چې کله یو پلار د پیسو په مقابل کې خپله لور ورکړي او پیسې خپل ځان ته مصرف کړي، نو داسې معنا ورکوي لکه چې خپله لور یې خرڅه کړې وي دا کار د نجلۍ شخصیت، ازادي او آرمانونه له منځه وړي. همدا رنګه د هغې ټول عمر په زور او غم کې تېرېږي او همدا رنګه مقابل لوری هم داسې فکر کوي چې دا نجلۍ مو اخیستې، نو که هر قسم کار او ظلم یې زړه وغواړي هماغسې ورسره کوي او ځان ملامت هم نه بولي؛ آن تر دې چې که مېړه یې مړ هم شي، نو بیا هم د مېړه کورنۍ داسې فکر کوي چې دا زموږ ده او بل څوک حق نه لري چې له دې سره واده وکړي، یا خو به په همدې کور کې له بل چا سره واده کوي، که څه هم یو له بل سره ډېر تفاوت هم ولري، یا به په همدې کور کې د عمر تر آخره پورې خدمت کوي، چې د غلطو رواجونو او دودونو بنسټ هم له دغه ناروا کارونو څخه پیلېږي.

# دریيم مبحث

# د اجباري نکاح پايلې

دا مبحث په پنځو مطالبو باندې مشتمل دی، په دې مبحث کې مې د افغانستان د تعليمي مؤسسې هغه مرکې چې د اجباري نکاح د پايلو په اړه يې په کابل او ځينو نورو ولايتونو کې له خلکو سره کړې، رانقل کړې دي. اول مې د هغوی راپور بيا مې مرکه ذکر کړې او همدا رنګه ځينې هغه ثبت شوې پيښې مې هم ذکر کړې، چې د افغانستان په ځينو نورو ادارو کې ثبت دي او په آخر کې مې د اجباري نکاح رواني اغيزې هم ذکر کړي، چې لنډيز يې په لاندې ډول دی:

اول مطلب: په بدو کې د نجونو د ورکړې پايله

دويم مطلب: د اجباري نکاح پايله

دریيم مطلب: په کم عمر کې د نجونو ورکولو پايله

څلورم مطلب: د بدل د نکاح پايلې

پنځم مطلب: د اجباري نکاح رواني اغېزې، نو اوس راځم اول مطلب ته.

## اول مطلب: په بدو کې د نجونو د ورکړې پايله

په بدو کې د نجونو ورکولو دود اوس په ډېرو سيمو کې کم شوی دی، د نجلۍ پر ځای يا ځمکـــه ورکول کېږي او يا هم پيسې، خو په ځينو لرې پرتو سيمو کې اوس هم دا دود ژوندی دی. يـــوه خبـــره د يادونې وړ ده، هغه دا چې پخوا به چې له يوې کورنۍ څخه کوم څوک چا وواژه، د روغې جوړې او دښمنۍ د له منځه وړلو په خاطر به د قاتل کورنۍ د مقتول کورنۍ ته نجلۍ په بدو کې ورکوله، خو اوس د دې تـــر څنګ په بدو کې ورکول، هغه وخت هم را منځته کېږي، چې کومه نجلۍ د کوم هلک لخوا وتښتول شي او

**یا هم نا مشروع اړیکې ور سره ونیسي او یا جنسي تېری ورباندې وشي، په دې وخت کې د تېري کوونکي لخوا د نجلۍ کورنۍ ته په بدو کې نجلۍ ورکول کېږي، چې دا کار ځینو ښارونو ته په نږدې سیمو کې هم شته دی، اما کومه نجلۍ چې په بدو کې ورکړي، د ژوند تر آخري ورځې داسې وي لکه په اور کې چې پرته وي، هغې ته د دښمن په سترګه کتل کېږي، ان دا چې یا له کوره تښتي، یا د مرګ تر پولو رسېږي، یا د خسر د کورنۍ لخوا وژل کېږي او یا هم په خپله ځان وژنه کوي.**

**۱: څه وخت مخکې یوه ځوان بل ځوان وویشت، وروسته پرېکړه وشوه، چې باید په بدو کې نجلۍ ورکړي، حال دا چې دغه هلک خپله خور نه درلوده، نو د کاکا لور یې د وژل شوي ځوان ورور ته په بدو کې ورکړه، وروسته د دې نجلي ژوند زیات خراب شو، کله به چې د دې هلک خپل ورور ور په یاد شو، نجلۍ به یې له ویښتو را ونیوه، او سر به یې په ځمکه ځمکه ورته واهه او ورته ویل به یې چې ستا د کاکا زوی زما ورور وواژه، ته هم د مرګ لایقه یې، همغه وو چې د ژوند د خرابوالي له امله ډېره ژر مړه شوه. (۱)**

**۲: څه وخت مخکې یې یوه نجلۍ په بدو کې ورکړې وه، په داسې حال کې چې عمر یې هم کم و، خو ژوند یې ډېر تریخ شو، له هرې خبرې سره به یې طعنې ورکولې، چې یوه ورځ دې اندازې ته ورسېده چې له بامه یې ځان را غورځولی و او مړه شوه.(۲)**

**۳: سیماګل د کابل ولایت اوسېدونکې وه، خپلې کورنۍ یې د دیارلسو کالو په عمر یو څلوېښت کلن سړي ته د دوه لکه افغانیو په بدل کې په نکاح ورکړه، مېړه یې ډېر ظلم ورباندې کاوه چې بالآخره یې سیماګل په قتل ورسوله. مېړه یې اوس بندي دی او دوسیه یې د تاوتریخوالي په څارنوالۍ کې د څېړنې په حالت کې ده. (۳)**

**یادونه: دا پېښه که څه هم د بدو پېښه نه ده، خو په پایله کې یې قتل دی، نو ځکه مې په همدې مطلب کې ذکر کړه.**

**۴: د دوو کورنیو تر منځ د ځمکې پر سر شخړه را منځته شوه، چې د یوې کورنۍ یې څو تنه زخمیان کړل، وروسته دوی سره کیناستل دې پرېکړې ته ورسېدل چې یوه نجلۍ په بدو کې ورکړي، په**

---

۱:- نارینه انفرادي مرکه، قرباغ ولسوالي، د مرکې نېټه: ۱۰ ــ ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
۲:- نارینه انفرادي مرکه، پغمان ولسوالي. ، د مرکې نېټه: ۱۰ ــ ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
۳ د خشونت محکمه، د دوسیې نمبر: ۱۰۰۳، تاریخ: ۱۹ / ۶ / ۱۳۹۶.

**داسې حال کې چې نجلۍ په مکتب کې زده کوونکې وه، همغه وو چې مور يې راغله او د مکتب اداره يې له دې پرېکړې خبره کړه، د مکتب سرمعلم او ځو ښوونکي ورغلل له دواړو لوريو سره يې خبرې وکړې او له دې کار څخه يې منع کړل. (۱)**

**۵: تېره ورځ زه په يوه پرېکړه کې ناست وم، چې د دوو کورنيو تر منځ دښمني وه، خــو پرېکــړه کوونکو په بدو کې د نجلۍ ورکولو پر ځای درې نيم لکه روپۍ ورکړې. (۲)**

**۶: مورږ ډېرې داسې پرېکړې کړې، چې په بدو کې د نجونو ورکولو مخه مو نيولې او پر ځای مو يې يا پيسې اېښې دي او يا هم ځمکه، څه وخت مخکې د يوه ښکاري لخوا د يوه بل تن سترګه ړنده شوه، هغه ته مو په بدو کې ۱۲ لکه روپۍ کېښودې، خو دا چې هغه نفر پيسې نه درلودې، نو په بــدل کــې مــو ۱۷ بيسوې ځمکه ورته ترې واخيسته. (۳)**

**۷: څه وخت مخکې زمورږ په کلي کې د دوو کورنيو تر منځ په ځمکه شخړه را منځته شوه، يو تــن پکې ووژل شو، وروسته يې يوه نجلۍ په بدو کې ورکړه، خو د نجلۍ ژوند دومره تريخ شو، چې له هغه کور څخه وتښتېده، وروسته هغه خلک را پاڅېدل او د دې نجلۍ ورور يې وويشت، يو ځل بيا يې دښمني تــازه شوه، وروسته د سيمې مشران او دولت د دوی تر منځ پرېکړه وکړه او د پيسو په واسطه يې دښمني له منځه يوړه. (٤)**

## دويم مطلب: د اجباري نکاح پايله

**۱: عاليه د عبدالجليل لور، په خوست ولايت کې خپلې کورنۍ د هغې له خوښې پرته او په زور باندې يو نفر ته په نکاح ورکړه، د هغې مېړه يو عياش سړی وو او په عاليې باندې به يې ډېر ظلم کاوه بلاخره عاليه په دې وتوانيده چې له خپل مېړه څخه طلاق واخلي.(۵)**

۱:- بنځينه دوه نفري مرکه، سروبي ولسوالي، د مرکې نېټه: ۱۰ ــ ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
۲:- نارينه انفرادي مرکه، پغمان ولسوالي ، د مرکې نېټه: ۱۰ ــ ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
۳:- نارينه ګروپ، بګرامي ولسوالي ، د مرکې نېټه: ۱۰ ــ ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
٤:- بنځينه انفرادي مرکه، بګرامي ولسوالي، د مرکې نېټه: ۱۰ ــ ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
۵ د اولې حوزې محکمه ، د دوسيې نمبر: ۵۹۶، تاريخ: ۱۳۹۶/ ۵/ ۳۰.

۲: نسرین د زلمي لور، په کابل ولایت کې خپل پلار په هغه بدو کې ورکړه چې ورور یې کړي وو، چې له لسو کالو ظلم زغملو ورسته وتوانیده چې طلاق واخلي. (۱)

۳: زموږ په سیمه کې یوه ښځه وه، چې په بدو کې یې ورکړې وه، څو اولادونه یې هم پیدا شـــوي وو، هغه سړي بله ښځه هم درلوده، خو په دې باندې یې زیات ظلم کاوه، ټوله ورځ به یې پیرکي وربانـــدې پخول او ده به په بازار کې پلورل، آن تر دې چې د دې اولادونو ته به یې هم د اولاد په سترګه نه کتل، دې ته او اولادونو ته به یې جامې هم نه راوړلې، یوه ورځ دغې ښځې ته یې خپل ورور جـــامې راوړې وې، کلـــه چې دی خبر شوی و، ښځه یې زیاته وهلې وه، خو کله چې زموږ ټولنه ترې خبره شوه، ما د خپلې مېرمنې او خور په مرسته هغه روغتون ته راوستله او خبره مو له حکومت سره شریکه کړه، تر څو طلاق ورتـــه تـــرې واخلو، خو اوس یې خاوند نه حاضرېږي.(۲)

۴: یوه نجلۍ یې له خوښې پرته ورکړې وه، وروسته دوی پوه شول چې خاوند یې معتاد دی، دا چې د نجلۍ مور با سواده وه، د بشري حقونو دفتر او محکمې په مرسته په دې وتوانېده، چې خپله لـــور تـــرې خلاصه کړي. (۳)

## درېیم مطلب: په کم عمر کې د نجونو ورکولو پایله

په کم عمر کې د نجونو او هلکانو د ودونو د بدو پایلو په اړه خلک ډېرو ټکو ته اشاره کړې، چـــې په هغې کې هر ډول فزیکي، رواني، روحي او نور تاوتریخوالی رامنځته کېږي، ځینې وخت ژوند یې دومـــره خراب شي، چې خبره طلاق ته ورسېږي، همدا شان د کم عمره ودونو د بدو پایلو په برخه کې ډېرې د ځان وژنې، له کور څخه تېښته او نورې بدې پېښې هم تر سترګو شوې دي.

۱: درې کاله کېږي، چې زه په دغه کلي کې ملک یم، خو د درېیو داسې کم عمره ودونو شاهد یم، چې ژوند یې د خرابوالي داسې حد ته ورسېده چې یو له بله مو سره جدا کړل اوهم مې د یوه کم عمره واده مخه نیولې ده، چې د هغې کیسه نه شم درته کولی، ځکه هغه ډېره له شرم څخه ډکه او ځورونکې ده.(٤)

---

۱ د کابل ابتدایي محکمه ، د دوسیې نمبر: ۹۵۳۹، تاریخ: ۱۳۹۶/ ۶/ ۲۱.
۲:- نارنه انفرادي مرکه، قرباغ ولسوالي، د مرکې نیټه: ۲۶ / ۹ / ۲۰۱۷.
۳:- ښځینه دوه نفري مرکه، سروبي ولسوالي. ، د مرکې نیټه: ۱۰ – ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
٤:- نارینه ګروپ، بګرامي ولسوالي، د مرکې نیټه: ۱۰ – ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.

۲: څه وخت مخکې یوه سړي خپله لور، چې قانوني عمر یې هم نه و پوره کړی، د ۱۵ لکه پیسو په بدل کې یوه ۵۰ کلن سړي ته واده کړه، په داسې حال کې چې دغه سړي له دې مخکې هم د زیاتو پیسو په بدل کې خپلې لوڼې واده کړې وې، ځینې نجونې چې واده شي، د خسر په کور کې که هر څومره ژوند ورباندې تریخ شي حال نه وایي، ځکه خلک یې شرم بولي او په ځینو خلکو کې خو طلاق لوی عیب ګڼل کیږي، یو بل سړی هم و، یوه مېرمن یې درلوده، خو په هغه برسېره یې له یوې بلې کونډې سره واده وکړ، دا له دې امله چې هغې کونډې ښځې څو لوڼې درلودې، کله چې لوڼې یې لږ لویې شوې، ټولې یې د زیاتو پیسو په بدل کې داسې خلکو ته ورکړې، چې هغوی یا معیوب و، یا په غرو کې اوسېدل.(۱)

۳: څه وخت مخکې سهار وختي د ملا اذان مهال یوه کم عمره نجلۍ د واده په جامو کې را تښتېدلې وه، په ژړا ژړا کې یې ویل، چې پلار مې ډېر مشر سړي ته واده کړې یم او زما نه دی خوښ، هغه مې د کلي ملا ته وسپارله، وروسته مې یې کورنۍ پیدا کړه، خاوند مې یې راوغوښت او تعهد مې ترې واخیست، چې تر څلورو کلونو پورې به د پلار په کور کې وي، و روسته به یې خپل کور ته بیایي او بده رویه به نه ورسره کوې، اما ډېرې کمې نجونې دي، چې کله واده شي بیا تعلیم ته دوام ورکوي، هغه هم چې پلار یې شرط ورباندې ایښی وي چې له تعلیم څخه به یې نه راګرځوې، ځکه دلته رواج دی، چې ناوې باید د خسر او خواښې خدمت وکړي. (۲)

۴: اوس معمولا کله چې قانوني عمر پوره کړي نجونې او هلکان واده کوي، خو ځینې نور خلک شته چې د ځینو دلایلو په اساس خپله لور په کم عمر کې واده کوي، چې یو خو پیسې ورباندې اخلي او بل دا چې دوی ډاریږي، چې له کوم چا سره اړیکې ټینګې نه کړي، چې بیا به ټولې کورنۍ ته بې عزتي ور واړوي، د بېلګې په توګه، څه وخت مخکې یو هلک له یوې داسې نجلۍ سره جوړ و، چې نجلۍ رسمي دنده هم درلوده، غوښتل یې چې واده ور سره وکړي، څو ځله یې د نجلۍ له کورنۍ څخه هم غوښتنه وکړه، خو هغوی مخالفت کاوه، بله ورځ نجلۍ له همدې هلک سره وتښتېده او د نکاح تړلو په خاطر یې د بشر حقونو دفتر ته مراجعه وکړه، وروسته د نجلۍ پلار په خپله لور عارض شو او هغه یې له دندې و ایسته، چې دې کار د نجلۍ په روان او فکر باندې زیات بد تاثیر وکړ. (۳)

---

۱:- نارینه فوکس ګروپ، سروبي ولسوالي، د مرکې نیټه: ۱۰ – ۱۴ / ۹ / ۲۰۱۷.
۲:- نارینه انفرادي مرکه، د کلي مشر، بلخ ولایت، بلخ ولسوالي، پلاس پوش کلی، د مرکې نیټه: ۱ – ۱۵ / ۱۱ / ۲۰۱۷.
۳:- ښځینه انفرادي مرکه، د ښځو د ټولنې غړې او مدني فعاله، بامیان ولایت مرکز، د مرکې نیټه: ۱ – ۱۵ / ۱۰ / ۲۰۱۷.

## څلورم مطلب: د بدل د نکاح پایلې

د بدل ودونه تر اوسه پورې په زیاتره سیمو کې رواج دي، چې ځینې یې ډېرې بدې پایلې لري، ځکه که چېرته د یوې ښځې ژوند یو څه تریخ شو، بل لوری د خپلې لور د بدل اخیستو او انتقام په خاطر له خپلې نږور سره بده رویه کوي، چې له امله یې د دوو کورنیو تر منځ ستونزې او کورني جنجالونه را منځته کېږي او ځینې وخت خبره تر طلاق پورې هم رسېږي.

۱: کله چې یو څوک د خبل زوی له پاره واده کوي، مقابل لوری زیاتې پیسې غواړي نو هغوی مجبور شي چې خپله لور ورته بدل کړي. (۱)

۲: د جلال آباد په ښار کې یوه هلک نجلۍ تښتولې وه، پلار یې له روغې جوړې وروسته خپله آتلس کلنه لور نوریه د تښتول شوې نجلۍ ورور ته په بدل ورکړه، خو د نجلۍ ژوند تریخ شو، آن تر دې چې مېړه یې د ډیر ظلم له امله یوه ورځ په ګرمو شویو غوړیو باندې وسوځوله چې اوس یې یو لاس په پوره توګه له کاره غورځېدلی. (۲)

۳: د بدل ودونه هغه رواج دی چې په ټول هېواد کې شته، خو ډېرې بدې پایلې لري، کله چې د یوې ښځې ژوند تریخ شي، له بدلیزې څخه یې هم انتقام اخیستل کېږي، د بېلګې په توګه څه وخت مخکې په یوه کلي کې دوو تنو په بدل وادونه کړي وو، یوه تن خپلې ښځې ته په کومه خبره غوسه شوی و، لرګی یې ور ګوزار کړی و، کوم غاښ یې مات شوی و، کله چې مقابل لوری خبر شوی و، د دې سړي خور یعنې خپله ښځه یې را نیولې وه، ټول غاښونه یې په انبور ورباندې ایستلي وو. (۳)

۴: د بدل ودونه زیات رواج دي، داسې سیمه نشته، چې د بدل ودونه به نه پکې کېږي، چې علت یې فقر او د زیات ولور اخیستل دي، ځکه یو څوک نه توانېږي، چې د ٦ یا ۷ لکه افغانیو په بدل کې واده وکړي، خو هغه مجبور دی چې خپله خور په بدل ورکړي، چې ډېرې بدې پایلې هم لري. (٤)

۱:- ښځینه انفرادی مرکه، د ښځو د شورا غړې، بادغیس ولایت، د مرکې نیټه: ۱ ــ ۱۵ / ۱۰ / ۲۰۱۷.
۲ د خشونت محکمه ، د دوسیې نمبر: ۴۷۶، نیټه: ۱۰ / ۲ / ۱۳۹۷.
۳:- نارینه انفرادي مرکه، مدني فعال، بادغیس ولایت، مرکز، د مرکې نیټه: ۱ ــ ۱۵ / ۱۰ / ۲۰۱۷.
٤:- ښځینه انفرادي مرکه، تعلیمي او مدني فعاله، بادغیس ولایت، د مرکې نیټه: ۱ ــ ۱۵ / ۱۰ / ۲۰۱۷.

**۵: ما نه غوښتل چې په بدل واده وکړم، ځکه د بدل واده سره کېدای شوای چې هم زما ژوند خراب شوی وای او هم زما د خور ژوند، نو ښه مې وبلله چې خپله خور هم د پیسو په بدل کې ورکړم او وروسته په همغو پیسو خپل ځان ته واده وکړم، همغسې مې وکړل، خور مې هم په ۸ لکه افغانۍ ورکړه او د ځان له پاره مې هم په ۸ لکه افغانۍ واده وکړ. (۱)**

## پنځم مطلب: د اجباري نکاح رواني اغېزې

**په افغانستان کې د ښځو یوه جدي ستونزه د اجباري ودنو مسئله ده، چې همدا اجباري ودونه د انسان په جسم او روح باندې منفي اغېزې لري، داچې اجباري واده د انسان په روح څه منفي اغېزې لري؟ په دې اړه مې د اروا پوهنې د څانګې له استاد (استاد شرف الدین عظیمي) (۲) سره مرکه کړې، چې ستاسو پام ورته را اړه وم.**

**۱ – پوښتنه: ستاسو د مراجعینو یا مریضانو په هرو لسو کسانو کې څو یې د جبري ودونو څخه اغېزمن شوي دي؟**

**ځواب: دا پوښتنه ډېره دقیقه نشم ځوابولی خو په تقریبي ډول درته ویلی شم چې په ۱۰ کې ٦ تر ۷ پورې کورنۍ په خپله خوښه نه دي واده شوي.**

**۲ – پوښتنه: په تقریبي ډول له جبري ودونو نه د اغېزمنو کسانو له ډلې څومره یې په بدو کې د ورکړې، څومره یې د بدل، څومره یې د کم عمره نجونو او څومره یې د هغو کونډو ودونه دي چې دویم ځل په زور نکاح کیږي؟**

**ځواب : په بدو کې د واده د مراجع شاهد نه یوو، په ۱۰۰ مراجعینو کې مو ۱۱ د بدل ودونه دي، ۳۰ په ۱۰۰ کې یې په کم عمر کې واده شوې ښځې او نارینه دي، په ۱۰۰ کې یې هم ۱۰ کونډې ښځې وې چې واده ته مجبوره شوي. خو یو څو مورده نور هم شته چې په قمار کې، په وعده کې په کوچني والي کې، د پیسو په بدل کې، د څارویو په بدل کې، د جګړو، کډوالۍ، د لوړ عمر درلودلو په دلیل د سپرست نه لرلو په دلیل هم واده ته مجبوره شوي.**

**۳ – پوښتنه: جبري واده، په مېرمنه او خاوند باندې څه منفي اغېزې لري؟**

---

۱:- نارینه انفرادي مرکه، دیني عالم، بادغیس ولایت، د مرکې نیټه: ۱ – ۱۵ / ۱۰ / ۲۰۱۷.
۲ پوهنمل شرف الدین عظیمی د ښوونې او روزنې پوهنتون د اروا پوهنې د څانګې استاد او د APC چې د اروا پوهنې یو مرکز دی، مشر دی.

ځواب: جبري واده نه یوازې په مېرمنو بلکې په خاوند باندې هم ناوړه اغېزې کوي، په لنډو کې ویلی شم، چې لاندې ستونزې پیدا کولی شي:

- جسمي ستونزې او دردونه.
- له وخته وړاندې د ماشوم زېږون.
- د زېږون پر مهال د ماشوم او مور مړینه.
- د زده کړو پرېښودل.
- په ژورخپګان اخته کېدل او آن په ځان وژنه لاس پورې کول.
- یو بل نه درک کول او فکري او د ګډ ژوند ستونزې.
- دویم واده، خیانت او تاوتریخوالی.
- د نورو عاطفي او بشري حقونو ته نه پاملرنه.
- د ناروغې ټولنې را مینځته کیدل.
- غیر اخلاقي او ناسمې کړنې سرته رسول.
- د کورنۍ او خپل مینځي هوساینې له منځه تل..
- جرم او جنایت ته لاس اچول.

۴ – پوښتنه: جبري ودونه په اولاد باندې څه منفي اغېزې لري؟

ځواب: له وخته وړاندې واده کول د ناروغه میندو، ناروغه ګډ ژوند او ناروغه ماشومانو لرلو لامل ګرځي. د بېلګې په ډول:

- له وخته وړاندې ماشوم زېږېدل.
- ذهني ستونزې لرونکي ماشومان.
- په اوتیزم اخته ماشومان.
- په ADHD اخته ماشومان.
- معلولیت لرونکي ماشومان.
- په ۷ میاشتو کې د ماشوم پیدا کېدل.

۵ – پوښتنه: جبري ودونه په ټولنه څه منفي اغېزې لري؟

ځواب: د یوې ټولنې بنسټ کورنۍ ډدي، نو په کوم کور کې چې مېرمنه او خاوند په خپل مینځ کې همغږي نه وي، باوري یم، چې د ماشوم په روزنه منفي اغېزې کوي او که چېرې د یوې ټولنې ماشومان په سم ډول و نه روزل شي، ټولنه به هم مخ په ویجاړۍ روانه وي.

۶ – پوښتنه: هغه لاملونه چې د ټولنې وګړي په زور د خپلو لوڼو یا خویندو واده کولو ته اړباسي کوم دي؟

ځواب: ګڼ لاملونه شته خو په لیدو کې غواړم لاندې لاملونه تاسو سره شریک کړم:

- د اولاد د اړتیاوو په پوره کولو کې پاتې راتلل.
- بېکاري او بې وزلي ورځ تر بلې ډېرېدل.
- ارواپي او عاطفي خلاوې او ستونزې پیدا کېدل.
- وابستګي، عادت، خوی اخیستل او روږدتیا.
- د زورواکو او شتمنو خلکو تر لاس لاندې راتلل.
- نالوستي او د عامه پوهاوي کموالی یا کمزوري.
- د امنیت نشتوالی او د هوساینې نه شتون.
- ټولنیزې ناخوالې او تاوتریخوالی.

۷ – پوښتنه: هغه کسان چې له جبري ودونو اغېزمن شوي، څه باید وکړي.؟

ځواب:

- د خپل ګډ ژوند له ملګري سره د مینې کولو له پاره لاره هواره کړي.
- د خپل ګډ ژوند له ملګري سره باید دوه په دوه وخت ډېر تیر کړي.
- د یو بل ښې او بدې ځانګړنې وپېژني.
- د ژوند ملګری باید خپل ملکیت و نه ګڼي.
- پر یو بل باور ولري، یو بل ته ژمن اوسي او نرم چلند وکړي.
- د ژوند د ملګري خپلواکۍ ته باید ژمن اوسي تر څو د قید او بند احساس ونه کړي.

۸ – پوښتنه: د دې له پاره چې ټولنه له جبرې دودنو څخه وژغورل شي، ستاسو وړاندیزونه څه دي؟

جواب:

- په دې لاره کې له ډېر صبر او زغم نه کار اخیستل.
- د ارواپي مشورو له تکړه متخصصینو سره مشوره کول.
- د خبرو اترو او پلان په برخه کې له مشاورینو سره خبرې کول.
- د سوکالۍ، هوساینې او متقابل درناوي په اړوند له مور او پلار سره خبري کول.

- د مور او پلار د سترګو د خلاصولو په موخه هغوی ته د خپلو ملګرو د ګډ ژوند د ترخو خاطرو او سختو تجروبو یادول چې لامل یې د هغوی د کورنیو همدا تېروتنه وه.
- د مور او پلار پوهولو او قانع کولو له پاره کولای شو د مشاورینو او مسلکي کسانو له خبرو څخه ګټه واخلو.
- د داسې قضیو حلولو په موخه قانون هم شتون لري.
- له ناوړه دودونو سره جګړه کول، تر څو په ټولنه کې د جبري ودونو دود له مینځه ولاړ شي.
- د دیني علماوو له لوري د اسلامي دود او ارزښتونو بیانول.
- د کورنیو د لوست کچه لوړول.
- په ماشومتوب کې د واده د مخنیوي په موخه د ټولنیزو رسنۍ په لاره اچول.

## د دویم فصل لنډیز

د ټول فصل لنډیز داشو، چې د نکاح هغه ټول صورتونه چې په افغانستان کې معمول دي عبارت دي له:

۱ – رسمي ودونه.

۲ – د ماشومانو ودول.

۳ – د ولور واده.

۴ – په بدو کې ورکول.

۵ – د بدل واده.

۶ – د کونډې واده کول.

۷ – په قمار کې د بایللو واده.

۸ – د خرڅولو اواخیستلو واده.

۹ – مؤقتي یا د صیغې واده.

۱۰ – په زور واده.

۱۱ – د تبنتونې واده.

۱۲ – د بخشش یا مفته واده.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د څرګندونو له مخې اټکل شوی، چې په افغانستان کې له ۶۰ څخه تر ۸۰ سلنې پورې د زور او جبر ودونه دي.

ما چې څومره مرکې له خلکو سره د اجباري نکاح په اړه وکړي په هغو کې دغه پنځه قسمه اجباري نکاح بیان شوې: په بدوکې د نجونو ورکول، د مخی یا د بدل واده البته په هغه صورت کې چې یو طرف د نجلۍ خوښه نه وي، د ماشومانو ودول، د کونډې واده کول په زور باندې، د پیسو په مقابل کې خپله لور یا خور ورکول.

اول: په بدو کې د نجونو ورکول: که پلار خپله وړه لور په بدو کې ورکړي، نو دا نکاح نه صحیح کیږي، د احنافو په نزد اګر که ولي په وړه نجلۍ باندې اجباري ولایت لري اما اجباري ولایت د نجلۍ د ښیګڼې او آرامي په خاطر ولي ته ثابت دی، نو په کوم ځای کې چې د نجلۍ ښیګڼه او آرامي نه وي، نو اجباري ولایت هم نشته او په بدو کې د نجلۍ ورکول له نوم څخه یې معلوم دی، چې ښېګڼه او آرام پکې له سره نه لیدل کیږي، که نجلۍ عاقله او بالغه وي هغې باندې خو پلار بلکل اجباري ولایت نه لري، اګر که احناف وایي: چې په جبر او زور باندې نکاح صحیح کیږي، خو د جمهورو فقهاو په نزد بیا په جبر سره نکاح نه صحیح کیږي او جمهورو قول قوي دی، نو ځکه د عاقلې او بالغې په بدو کې د ورکړې نکاح هم نه صحیح کیږي. همدارنګه د ښځې پر ضد د تاوترخوالي د منع په قانون کې نه تنها دا چې دا نکاح د فسخې حکم شوی، بلکې په بدو کې د نجلۍ ورکوونکي او کوونکي ته تر لسو کلونو او په دې کې ذیدخل اشخاصو (شاهد، وکیل، مصلح او عاقد) ته د متوسط حبس جزاء ټاکل شوې ده.

دویم: د مخی یا د بدل واده: د جمهورو فقهاوو په نزد د بدل واده صحیح نه دی او جواز نه لري، خو د احنافو په نزد صحیح دی او دواړه ښځو ته مهر مثل لازمیږي او د افغانستان د مدني قانون مطابق هم د بدل نکاح صحیح دی او دواړه ښځو ته مهر مثل لازمیږي.

دریېم: په کم عمر کې د نجلۍ واده کول: که نجلۍ وړه وي یعنې مخکې له بلوغ څخه که پلار یا نیکه یې په نکاح ورکړي، د احنافو په نزد یې نکاح صحیح کېږي او که له پلار یا نیکه څخه پرته کوم بل ولي یې په نکاح ورکړي، نو له بلوغ نه وروسته اختیار لري، چې په همدې نکاح باقي پاتې کېږي او که دغه نکاح فسخ کوي. همدارنګه د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې د ښځې د غوښتنې په صورت کې د نکاح د فسخ کېدو حکم کړی او همدا رنګه نکاح کوونکي ته یې د متوسط حبس جزاء چې له دوو کلونو څخه کم نه وي ټاکلې ده.

څلورم: د کونډې ودول په زور سره: کله چې کومه ښځه کونډه شي، نو څوک دا حق نه لري چې هغه د یو چا سره نکاح ته مجبوره کړي، یا خپله په جبر او زور ورسره نکاح وکړي، یا په بل تعبیر سره چې کونډه په میراث یوسي، ځکه چې کونډه یوه آزاده ښځه ده او د خپل اختیار ده، د اول میړه له عدت څخه وروسته چې له هر چا سره وغواړي نکاح کولای شي. همداراز د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې هغه شخص ته چې له هغې ښځې سره چې د واده قانوني عمر یې پوره کړی وي، د هغې له خوښې پرته هغې سره کوژده یا واده وکړي د متوسط حبس جزاء ټاکل شوې، چې له دوو کلونو څخه کم نه وي، او نکاح یې هم فسخ بلل شوې ده.

پنځم: د پیسو په مقابل کې د نجلۍ ورکول: دا مسئله دوه اړخه لري، یو داچې نجلۍ پیغله او عاقله وي، بل داچې نجلۍ وړه او ماشومه وي، که نجلۍ پیغله وي لکه څرنګه چې مخکې مو وویل ولي هغې باندې اجباري ولایت نه لري، که دهغې خوښه نه وي، نو نکاح یې نه صحیح کیږي او که نجلۍ وړه وه بیا ولي هغې باندې اجباري ولایت لري، که پلار د دې په خاطر د پیسو مقابل کې ورکوله چې پیسې هغې ته وساتي او په آینده کې یې هغې ته ورکړي ترڅو ښه ژوند ولري، نو بیا کوم مشکل نشته، ځکه چې دا پیسې د ښځې مهر حسابیږي او مهر د ښځې حق دی، همدغه ښځه پکې د تصرف اختیار لري او که په دې خاطر یې ورکوي، چې پیسې خپل جیب کې کیږدي او ځان ته یې مصرفې کړې، یا په بل تعبیر سره خپله لور خرڅه کړي، نو بیا دا قسم د پیسو مقابل کې ورکول جائز نه دي او نکاح یې هم صحیحه نه ده. همداراز د ښځې پر ضد د تاوتریخوالي د منع په قانون کې هغه شخص ته چې د واده په بهانه ښځه خرڅوي، یا یې اخلي، یا هم د دوی تر منځ واسطه جوړیږي، ترلسو کلونو پورې د بند جزاء ټاکلې.

د هر قسم اجباري واده پايلې ډېرې خرابې وي، که هغه په بدو کې ورکول وي، که په بدل کې ورکول وي، که په کم عمر کې ورکول وي، که د کونډې واده کول وي په زور سره او که د پيسو مقابل کې ورکول وي، نو د داقسم ودونو په پايله کې يا قتل وي، يا ځان وژنه وي، يا له کور ځخه تښتيدل وي، يا طلاق اخيستل وي، يا بل واده کول وي، چې بيا د دواړو ښځو ترمينځ عدل نه وي يا هم داسې نور.

اجباري ودونه په ښځه، ميړه، اولادونو او ټولنې باندې رواني منفي اغېزې هم لري، چې عبارت دي له:

۱ – جسمي ستونزې او دردونه.

۲ – د زېږون پر مهال د ماشوم او مور مړينه.

۳ – د زده کړو پرېښودل.

۴ – په ژورخپګان اخته کېدل او آن په ځان وژنه لاس پورې کول.

۵ – يو بل نه درک کول او فکري او د ګډ ژوند ستونزې.

٦ – دويم واده، خيانت او تاوتريخوالی.

۷ – د نورو عاطفي او بشري حقونو ته نه پاملرنه.

۸ – د ناروغې ټولنې را مينځته کيدل.

۹ – غير اخلاقي او ناسمې کړنې سرته رسول.

۱۰ – د کورنۍ او خپل مينځي هوساينې له منځه تل.

۱۱ – جرم او جنايت ته لاس اچول.

۱۲ – له وخته وړاندې ماشوم زېږېدل.

۱۳ – ذهني ستونزې لرونکي ماشومان.

۱۴ – معلوليت لرونکي ماشومان.

۱۵ – په ۷ مياشتو کې د ماشوم پيدا کېدل.

او په ټولنه يې منفي اغېزې دادي، چې کله ټولنه له داسې کسانو جوړه وي، چې داقسم مشکلات ولري، نو هغه به څه قسم ټولنه وي؟ .

# پایلې

۱- نکاح په لغت کې یو ځای کولو ته وایي او په اصطلاح کې له هغه عقد څخه عبارت دی، چې د همدغه عقد په واسطه ښځې او میړه ته روا کیږي، چې له یو بل څخه جنسي ګټه واخلي، له سر نه تر پښو پورې یو بل ته وګوري او یو بل لمس کړي، او د دواړو خوا وو حقوق یو په بل باندې لازمیږي، البته د حیض، نفاس، احرام او په ظهار کې مخکې له دینه چې کفاره ورکړي د جماع حرام والی په نورو نصوصو باندې ثابت دی.

۲- اجبار په لغت کې غلبې او اکراه ته وایي او په اصطلاح کې هر هغه انساني ضد عمل دی چې د انسان کرامت، شرافت، عزت، آزادي، حیثیت او انساني شخصیت ته زیان رسوي.

۳- اجبار څلور ارکان لري: اول اجبار کوونکی شخص، دویم اجبار کړای شوی شخص، دریيم هغه قول یا عمل چې اجبار په هغه کې واقع کیږي او څلورم د تهدید هغه اقسام چې اجبار کړای شوي شخص ته متوجه کیږي، لکه: وژل، د کوم اندام قطع کول، د مال له مینځه وړل، وهل او داسې نور.

۴- اجبار پنځه شرطونه لري: اول: اجبار کوونکی باید په هغه کار قدرت ولري چې هغه باندې بل شخص تهدید وي، دویم: هغه شخص چې اجبارورباندې کیږي، باید د هغه کار له واقع کیدو څخه ویره ولري، چې دی ورباندې تهدید شوی دی، دریيم: هغه کار چې اجبار ورباندې کیږي مخکې له اجبار څخه منع شوی وي، لکه: وهل، ټکول، مړه کول یا داسې نور، څلورم: هغه تهدید چې انسان ته متوجه دی، هغه به یا د انسان له مینځه وړل وي، یا د کوم اندام قطع کول وي او یا به داسې کار وي، چې انسان مجبور کوي او رضایت یې له مینځه وړي او پنځم: اجبار باید په ناحقه او ظلم سره وي.

۵- اجبار په دوه اعتبارونو ویشل شوی دی، یو په اعتبار د هغه کار سره چې اجبار په هغه کې واقع کیږي هغه په دوه ډوله دی، اول: اجبار په حقه باندې، دویم: اجبار په ناحقه باندې.

بل په اعتبار د اقسامو د تهدید سره هم په دوه ډوله دی، اول: اجبار تام دویم: اجبار ناقص.

٦- د اجبار کوونکي له پاره جبر حرام دی، او د اجبار کړای شوي په حق کې، د هغه خوښه له مينځه ځي، خو په تام اجبار کې له خوښې سره اختيار هم له مينځه ځي او په ناقص اجبار کې بيا اختيار لا پاتې وي، نو ځکه اجبار د ده په تصرفاتو باندې تأثير هم لري، چې په لاندې ډول دی.

٧- د اجبار کړای شوي شخص تصرفات به يا قول وي يا عمل، که قول وي، هغه به يا اقرار وي يا انشاء، که اقرار وي، مثلاً: يو څوک په جبر اقرار وکړي، چې فلاني سړي ماته دومره پيسې راکړې وې، نو اقرار يې باطل دی او کوم شی په ده باندې نه لازميږي او که انشاء وي، نو هغه به يا د فسخ کيدو احتمال لري، يا به يې نه لري، که د فسخې احتمال يې درلود، لکه: بيع، اجاره او داسې نور عقدونه، نو دا به موقوف وي د اجبار کړای شوي شخص تر اجازې پورې، يعنې که له اجبار څخه وروسته يې د دغه عقد اجازه وکړه، نو عقد صحيح کيږي او که اجازه يې ونه کړه، نو عقد هم نه صحيح کيږي او که د فسخې احتمال يې نه درلود، لکه: نکاح، طلاق، رجعت، ظهار ، قسم او ايلاء نو داقسم قولي تصرفات لکه څرنګه چې عادي حالت کې صحيح کيږي، د ټوکو او اجبار په حالت کې هم صحيح کيږي، البته دا خبره د احنافو نزد ده، اما د جمهور فقهاؤو په نزد هر قسم خبره چې په جبر په چا وويل شي، هغه خبره يې باطله ده او کوم حکم ورباندې نه مرتب کيږي.

او که د نوموړي شخص تصرف عمل وي هغه بيا څلورو حالته لري ، يا به داسې کار وي چې بغير له اجبار څخه هم جائز وي، لکه: خوړل او څښکل، يا به داسې کار وي چې شارع د ضرورت په وخت کې مباح کړی وي، لکه: د شرابو څښکل يا له مردارې څخه خوړل، يا به داسې کار وي چې شارع د ضرورت په وخت کې هغه ته رخصت ورکړی وي، لکه: د دين سپکاوی يا په ظاهره باندې کافريدل، البته دا ظاهري کفر ته په هغه صورت کې رخصت ورکړای شوی چې د زړه په ايمان کې يې هيڅ کوم خلل رانه شي او يا به داسې کار وي، چې په هيڅ صورت کې مسلمان ته روا نه وي، لکه: په ناحقه باندې د انسان وژل، نو په اولو دوه وو صورتونو کې په مجبَر لازم دی چې له اجبار څخه ځان وژغوري او هغه کار دې وکړي چې ورته مجبور کړای شوی، په دريم صورت کې که اجبار قبول او تکليف يې تحمل کړي او د دين سپکاوی ونه کړي يا په ظاهره هم کافر نه شي، نو مستحق د اجر او ثواب ګرځي او که دا کار وکړي او ځان له اجبار څخه خلاص کړي، بيا هم کومه ګناه ورباندې نشته، اما په څلورم صورت کې بلکل ورته جائز نه دی، چې بل انسان دې په ناحقه قتل کړي.

۸- اجباري ولایت دیته وایي: چې ولي د هغه کس په باره کې د نکاح عقد ترسره کړي، چې په هغه باندې ولایت لري او دا نکاح صحیحه هم شي، که د هغه خوښه وي او که نه وي.

اختیاري ولایت دیته وایي: چې ولي د هغه کس په باره کې د نکاح عقد ترسره کړي، چې په هغه باندې ولایت لري، اما دا نکاح هغه وخت صحیح شي، چې هغه اجازه وکړي.

که د اجباري ولایت تعریف ته وګورو، نو زما په نظر په افغانستان کې تقریباً پنځه نوي فیصده نکاح ګانې د اجباري نکاح لاندې راځي، ځکه چې په افغانستان کې په ډیره زیاته پیمانه ودونه د مور او پلار په خوښه کیږي، هغه داسې چې کله مور او پلار اولادونو ته کوم ځای د واوده له پاره وټاکي، نو په هغه کورنیو کې چې له تمدن څخه لرې پاتې دي، په زور په هلک او نجلۍ باندې دا واده منل کیږي او په متمدنو کورنیو کې بیا اولادونه دا واده په دې خاطر مني، چې مور او پلار یې خفه نه شي.

۹- خلک خپلې لورګانې یا خویندې په دوه صورتونو کې په بدو کې ورکوي، یو داچې کله یو سړی یو څوک مړ کړي، نو قومي مشران پریکړه وکړي، چې د قاتل کورنۍ باید د مقتول کورنۍ ته په بدو کې یوه یا دوې نجونې ورکړي، بل داچې کله یو هلک د یوې کورنۍ څخه یوه نجلۍ وتښتوي، نو قومي مشران پریکړه وکړي، چې د هلک کورنۍ باید د نجلۍ کورنۍ ته په بدو کې نجلۍ ورکړي، دا کار په پښتنو سیمو کې پخوا زیات وو او اوس ډیر کم شوی دی، اما لا تراوسه بلکل له مینځه نه دی تللی، ځکه چې د ډېرو ولایتونو په اطرافي سیمو کې اوس هم په کمه کچه موجود دی، دوی دا کار په دې خاطر کوي، چې د دوه کورنیو تر مینځ دښمني په دوستي سره بدله شي، اما بالعکس هغه دښمني نوره هم زیاتیږي، خو په دري ژبو سیمو کې په خاصه توګه د ولایتونو په مرکزي سیمو کې بلکل نشته.

۱۰- دوه کورنۍ خپل مینځ کې یو د بل ځامنو ته خپلې لونې ورکړي او یو له بل څخه د واده مصارف نه اخلي هر یو د خپلو د ځامنو د واده مصارف په خپله کوي، پښتانه دا ډول واده ته د مخې واده وایي او دري ژبي ورته د بدل واده وایي، دا ډول واده په ټول افغانستان کې معمول دی، اګرکه په ځینو ولایتونو کې طریقه یې لږ څه توپیر لري، لکه په بدخشان ولایت کې د مخې په واده کې دواړه خواوې یو له بل څخه د واده مصارف هم اخلي. خلک داقسم واده د دوه اهدافو په خاطر کوي، یو داچې د ځوی په واده کې مصارف ورباندې کم راشي، بل داچې که کومه کورنۍ د یو په لور باندې څه ظلم او زیاتی وکړي نو مقابل لوری د انتقام په نیت د هغوی په لور هم هماغه سې کوي.

۱۱– ځینې خلک خپلې لوڼې مخکې له دینه چې د واده قانوني عمر ته ورسیږي، واده کوي، د خلکو دا کار دوه لامله لري، یو د فقر له امله، ځکه چې په افغانستان کې فقر زیات دی او په عمومي توګه خلک دا نظر هم لري، چې لور د پردي کور ده، نو په دې خاطر چې له پردي مسؤولیت څخه یې ځان خلاص کړی وي، مخکې له دینه چې لور یې د واده قانوني عمر پوره کړي، ورکوي یې، بل په دې خاطر چې ځینې کورنۍ غواړي خپلو اولادونو ته په خپلوانو کې واده وکړي، نو همدغه فکر یې دېته هڅه وي، چې په کم عمر کې یا خپله لور ورکړي، یا خپل ځوی ته واده وکړي.

۱۲– له خلکو سره د کونډې په اړه مختلف ذهنیتونه دي، په ډېرو خلکو کې داسې معمول دی، چې په کور کې یې کله کومه ښځه کونډه شي، که چیرې هغه بل واده نه کوي، نو باید په همدې کور کې د عمر تر آخره ووسي او که واده کوي، نو هم باید په همدې کورنۍ کې یې وکړي، هغې ته دا اجازه نه ورکول کیږي، چې پخپله خوښه د میړه له کورنۍ پرته له بل چا سره واده وکړي، ځکه چې دغه کونډه هغوی خپل حق ګڼي او دا ورته بېغرتي ښکاري چې سنګه دې له داسې ښځې سره بل څوک واده وکړي، چې د هغه د دوی حق دی، اما په ځینو سیمو کې داسې معمول دی چې د خپل کور کونډې ته مکمل اختیار ورکوي چې له هر چاسره یې خوښه وي واده وکړي دا کار د بدخشان او هلمند په ځینو ولسوالیو کې معمول دی، او په ځینو خلکو کې بیا داسې معمول دی چې په کور کې یې کله کومه ښځه کونډه شي نو که د هغې په واده باندې د میړه د ورونو پیسې مصرف شوي وي نو بیا اختیار نه لري چې پخپله خوښه له بل چا سره واده وکړي او که د ورونو پیسې ورباندې نه وي مصرف شوي نو بیا اختیار ورکول کیږي چې دا کار د غزني ولایت په ځینو ولسوالیو کې معمول دی.

۱۳– داسې ډېر کم او نادر پیښیږي، چې د اجباري نکاح پایله دې ښه وي، د مثال په توګه: یوه نجلۍ کله چې په بدو کې ورکړل شي، بیا هغه کورنۍ چې په بدو کې نجلۍ ورکړای شوې له هغې سره دې ښه ژوند وکړي، یعنې ظلم ورباندې ونه کړي، حقوق یې مراعات کړي او د خپل مړ شوي شخص انتقام ترې وانخلي، یا د مخې په واده کې مثلاً د یو نفر لور لنډه وي، یا ژبه وره وي، یا کوم بل مشکل ولري، نو د خسر په کور کې که په هغې کومه سختي راشي مقابل لوری د خپلې نړور څخه د خپلې لور انتقام وانخلي او د خپلې لور ملامتي ومني، اما اکثره وخت داسې پیښیږي، چې د اجباري ودونو په پایله کې یا قتل وي، یا ځان وژنه، یا له کور څخه تښتېدل او یا هم ټول عمر په ظلم کې تیرول وي. همدارنګه اجباري ودونه رواني منفي

اغېزې هم لري، مثلاً: عصبي دردونه پیدا کیدل، په ژورخپګان اخته کېدل، بشري حقونو ته پاملرنه نه کول، ښځه او میړه یو بل نه درک کول او فکري ستونزې رامینځ ته کیدل، د زده کړو پرېښودل، جرم او جنایت کول، د ماشوم د پیدایښت پر مهال د ماشوم او مور د مړینې احتمال زیاتیدل، له وخته وړاندې د ماشوم زېږېدل، ماشومانو ته ذهني ستونزې پیداکیدل او د ناروغې ټولنې را مینځته کیدل.

# وړاندیزونه:

که وغواړو چې زموږ ټولنه له اجباري ودونو او ناوړه دودونو څخه خلاصه شي، نو موږ باید ټول د دغه کار له مینځه وړلو کې په ګډه ونډه واخلو، که هغه حکومت دی، که علماء دي، که د کورنیو مشران دي، که ځوانان دي او که رسنې، په دې اړه زه ځینې وړاندیزونه لرم.

۱- زما وړاندیز مقننې قوې ته دادی چې: د اجباري نکاح د مخنیوي له پاره باید داسې قانون جوړ کړي، چې اجبار کوونکي ته پکې سخته جزاء ټاکل شوې وي، اګر که د ښځې پر ضد د تاتریخوالي د منع په قانون کې ځینې جزاء ګانې ورته ټاکلې دي، اما زما په نظر هغه بسنه نه کوي، داسې جزاء ګانې ټاکل پکار دي، چې خلک هغې ته په کتو سره خپله له دغه نا وړه کار څخه لاس واخلي.

۲- زما وړاندیز اجرائیې قوې ته دادی چې: د اجباري نکاح د مخنیوي له پاره باید جدې ګامونه پورته کړي، یعنې د اجباري نکاح لاملین په عاجله توګه بندیان کړي او سخت تعامل دې ورسره وکړي، ترڅو هر نفر له خپل شرعي حق څخه – چې په خپله خوښه خپل ځان ته د ژوند شریک ټاکل دي- ګټه واخلي. همداراز د عامه پوهاوي له پاره باید یو شمېر پروګرامونه جوړ کړي؛ ترڅو خلک د اجباري نکاح له ناوړه پایلو څخه خبر او ځان ترېنه وژغوري.

۳- زما وړاندیز قضائې قوې ته دادی چې: هغو کسانو ته چې د اجباري نکاح په ګناه بندیان دي سخته ترینه جزاء وټاکي، یا د تعذیري جزاء ګانو په لړ کې داسې جزاء ورکړي، چې د نورو خلکو له پاره عبرت شي.

۴- زموږ په ټولنه کې چې هر څېړونکی په هره برخه کې څېړنه کوي، د همغې برخې اړوندو اداروته زما وړاندیز دادی، چې خپل معلومات له څېړونکو څخه ونه سپموي، ترڅو څېړونکو سره کومک شوی او د هغوی څېړنه په آسانه توګه ترسره شي.

۵- علماء کرامو ته زما وړاندیز دادی چې هغوی هم باید د منبرونو له لارې خلکو ته د هغوی هغه حقوق بیان کړي، چې شریعت ورکړي او په ځانګړې توګه د ښځو حقوق، ځکه چې ډېرې ښځې له خپلو حقوقو څخه خبرې نه دي، په خاصه توګه له دې حق څخه چې هغوی په خپله خوښه د خپل ځان له پاره د ژوند شریک ټاکلی شي، که هغه پیغله وي او که کونډه؛ ترڅو د خلکو له ذهنونو څخه هغه جاهلانه مفکوره

ووځي، چې د ښځو په اړه یې لري، یعنې ښځې ته د یو انسان په نظر نه بلکه د یو متاع یا سامان په سترګه ګوري، چې کوم ډول یې خوښه وي هماغه سې یې استعماله وي، نو علماوو به په دې کار سره خپل مسؤولیت اداء، د اجباري ودونو لمن له ټولنې څخه ټوله او له هغه بدبختیو څخه به هم زموږ ټولنه پاکه شي، چې د اجباري ودونو څخه رامینځ ته شوي. که هغه قتل دی، که ځان وژنه، که له کور څخه تښتیدل دي او که داسې نور.

٦- د کورنیو مشران دې باید د اولادونو د واده په اړه له هغوی سره مشوره وکړي او د هغوی نظر او خوښې ته دې احترام وکړي، یعنې که کوم ځای د هغوی په خوښه نه وو، نو باید په هغوی جبر او زور ونه کړي، البته له دې کار سره سره دې داسې کورنۍ ورته انتخاب کړي، چې له هغې سره یې ژوند آرامه او خوشحاله تیر شي، او د خپل ژوند تجربې دې هم ورسره شریکې کړي؛ ترڅو دوی په خپل دغه کار سره د اجباري ودونو په له مینځه وړلو کې یو مهم ګام اخیستی وي او د ټولنې د ستونزو له پاره یوه د حل لاره پیدا شوې وي.

٧- ځوانان هغه ټولی دی چې د همدغه اجباري ودونو قرباني کیږي، نو هم دوی باید ډیر زیار وباسي چې د اجباري ودونو مخه ونیسي او د هغو غلطو دودونو پر وړاندې مبارزه وکړي چې د اجباري ودونو لامل ګرځي او خپل د کورنۍ یا قومي مشران پرې نږدي چې د دوی له خپل حق څخه محروم او د دوی خوشحالۍ او آرمانونه له خاورو سره خاورې کړي؛ ترڅو دوی په دغه کار سره له خپل حق څخه دفاع کړې وي او د یو خوشحاله او کامیاله ژوند له پاره یو لامل وګرځي.

٨ – رسنۍ هغه وسیله ده چې د افغانستان هرې سیمې او هرې کورنۍ ته پیغام رسولی شي، نو باید همدا رسنۍ د اجباري ودونو او د هغې ناوړو پایلو په اړه معلومات خپاره کړي ترڅو خلک له اجباري ودونو څخه لاس واخلي او دا لویه ستونزه حل شي.

٩ – زه په دې وتوانیدم چې د ټولو زونونو په استازیتوب له ځینو ولایتونو څخه د اجباري نکاح صورتونه راټول او د هغو څیړنه وکړم، اما که زما څخه وروسته نور څیړونکي غواړي، چې په دې اړه څیړنه وکړي، نو هغوی ته زما وړاندیز دادی، چې په لاندني موضوعاتو کې کولای شي څیړنه وکړي.

د اجباري نکاح صورتونو ترمینځ په ولایتونو او قومونو کې کوم توپیرونه موجود دی؟

کوم لاملونه د اجباري نکاح د رامینځه کیدو لامل ګرځېدلي دي؟

کوم لاملونه د اجباري نکاح د له مینځه وړلو لامل ګرځي؟

په افغانستان کې دود او اسلام، د دواړو پرتله کول.

د اجباري نکاح له قربانیانو سره خبرې اترې او دېته ورته نور موضوعات.

همداراز هغوی ته دا وړاندیز هم کوم، چې د نکاح په برخه کې د څېړنې له پاره باید یو څو نفره سره یو ځای شي او په دې اړه دې څېړنه وکړي، ځکه دا کار یو نفر ته ستونزمند دی، بل داچې که د یو قوم یا د یو ولایت په اړه څېړنه وکړي دابه ډېره ښه وي، ترڅو د هرقوم او هر ولایت اجباري نکاح صورتونه په ګوته او د له مینځه وړلو له پاره یې د حل لاره پیدا شي.

# د آیاتونو لړلیک

| شمیره | آیت شریف | سورة | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ | د البقرة سورت | ۴۳ ۴۶ |
| ۲ | وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ | د البقرة سورت | ۱۱۴ |
| ۳ | وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ | د النساء سورت | ۱۱ ۱۸ |
| ۴ | يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا | د النساء سورت | ۱۱۰ |
| ۵ | إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا | د النساء سورت | ۴۹ |
| ۶ | وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ | د الأنعام سورت | ۴۷ |
| ۷ | وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ | د الأنعام سورت | ۴۳ ۴۹ |
| ۸ | قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ | د هود سورت | ۱۵ |
| ۹ | وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا | د هود سورت | ۱۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ | د النحل سورت | ۴۰<br>۴۷ |
| ۱۱ | وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً | د الأسراء سورت | ۱۴ |
| ۱۲ | وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَيُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ | د النور سورت | ۱۲ |
| ۱۳ | وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً | د الروم سورت | ۱<br>۱۲<br>۱۴ |
| ۱۴ | فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا | د الأحزاب سورت | ۱۸ |
| ۱۵ | وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ | د الأحزاب سورت | ۱۹<br>۲۰<br>۲۱<br>۲۲ |
| ۱۶ | فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا | د محمد سورت | ۲۳ |

# د احادیثو لړلیک


| شمیره | حدیث شریف | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ | ۱۳ ۱۸ |
| ۲ | اذْهَبْ فَقَدْ مَلَّكْتُكَهَا بِمَا مَعَکَ مِنْ الْقُرْآنِ | ۱۹ |
| ۳ | فاتقوا الله في النساء، فإنكم أخذتموهن بأمان الله، واستحللتم فروجهن بكلمة الله | ۲۱ |
| ۴ | أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ أَوْ أَهْلِهِ فَهُوَ عَاهِرٌ | ۲۶ |
| ۵ | لا نكاح إلا بولي وشاهدي عدل | ۲۷ |
| ۶ | يَا عِبادِي إني قَد حَرمتُ الظُلمَ عَلى نَفسِي وجَعلتهُ مُحرماً بَينكُم فَلا تَظالَمُوا | ۴۲ |
| ۷ | ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ، وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ، الطَّلَاقُ، وَالنِّكَاحُ، وَالرَّجْعَةُ | ۴۵ |
| ۸ | فَإِنْ عَادُوا فَعُد | ۴۸ |
| ۹ | لاطاعة لمخلوق في معصية الله | ۴۹ |
| ۱۰ | إن الله تجاوز عن أمتي ثلاثة: الخطأ، والنسيان، وما أكرهوا عليه | ۵۰ |
| ۱۱ | الأيم أحق بنفسها من وليها، والبكر تستأذن في نفسها، وإذنها صماتها | ۹۴/ ۹۷/ ۹۸/ ۹۹/ ۱۱۱ |
| ۱۲ | السلطان ولي من لا ولي له | ۹۵ |
| ۱۳ | تُسْتَأْمَرُ الْيَتِيمَةُ فِي نَفْسِهَا، وَإِنْ سَكَتَتْ فَقَدْ أَذِنَتْ، وَإِنْ أَنْكَرَتْ، لَمْ تُكْرَهْ | ۹۷ |
| ۱۴ | عن خنساء بنت خذام الأنصارية أن أباها زوجها وهي ثيب فكرهت ذلك فأتت النبي | ۹۹ |

| | | |
|---|---|---|
| | صلى الله عليه وسلم فرد نكاحها | |
| ١٥ | لا شغار في الإسلام | ١٠٤ |
| ١٦ | خير الصداق أيسره | ١١٣ |

# د اعلامو لړلیک

| مخ | اعلام | شمیره |
|---|---|---|
| ۱۱ | **بي بي عائشه (رضی الله عنها)** د ابوبکر صدیق او ام رومان لور، کله چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) له دې سره کوژده وکړه دا دشپږو کلونو په عمر وه او بیا په مدینه منوره کې د هجرت په دویم کال کله چې د بدر له غزا نه راستون شو د شوال په میاشت کې یې واده وکړ او په دې وخت کې بي بي عائشه (رضی الله عنها) د اتو کلونو په عمروه، بي بی عائشه (رضی الله عنها) له هغو کسانو څخه ده چې ډېر احادیث یې روایت کړي. ټول احادیث چې له دې نه روایت شوي (۲۲۱۰) احادیثه دي، د هجرت په **۵۷** کال د رمضان د میاشت په ۱۸ نیټه د سې شنبې په شپه وفات شوې، ځېنې وایي چې **۵٦** کال او بیا ځینو ویلي چې **۵۸** کال باندې وفات شوې، ابوهریره (رضی الله عنه) هغې باندې د جنازې لمونځ وکړ او د بقیع په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه. | ۱ |
| ۱۸ | **ام المؤمنین زینب بنت جحش (رضی الله عنها)** د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) بي بي او د ترور لور وه، مور یې امیمه بنت عبدالمطلب وه، د زید بن ثابت په نکاح کې وه کله چې هغه طلاقه کړه، د هجرت په پنځم کال د ذوالقعدې په میاشت کې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ورسره نکاح وکړه. دغه آیت شریف د دې په حق کې نازل شوی دی، (...فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَراً زَوَّجْنَاكَهَا) الآية، بي بي زینب ډیره پرهیزګاره ښځه وه. د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) له وفات څخه وروسته اولنۍ بي بي وه چې له هغه وروسته وفات شوېده. د هجرت په شلم کال د عمر (رضی الله عنه) په خلافت کې وفات شوه او عمر (رضی الله عنه) ورباندې د جنازې لمونځ وکړ. | ۲ |
| ۹۴ | **عبدالله بن عباس (رضی الله عنه)** د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د تره زوی وو. له هجرت څخه درې کاله مخکې د بني هاشمو په شِعب کې دنیاته راغلی دی. مور یې ام الفضل لبابة بنت الحارث ده، نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ورته د علم لپاره دعا کړې | ۳ |

| | | |
|---|---|---|
| | وه، نو ځکه ډیر پوه وو په خاصه توګه په تفسیر کې. ټول احادیث چې له ده نه روایت دي شمیر یې ۱٦٦۰ ته رسیږي. د هجرت په ٦۷ یا ٦۸ کال په طائف کې وفات شو. | |
| ۴ | **زید بن ثابت (رضی الله عنه)** حافظ د قرآن، کاتب د وحی او د مدینې منورې مفتي وو. د مور نوم یې ام جمیل وو، د بني نجار د قبیلې وو، کله چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) هجرت وکړ هغه وخت کې دی یولس کلن وو، چې اسلام یې قبول کړ، نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ورته امر وکړ چې د یهودو ژبه زده کړه. د ۵٦ کلونو په عمر د هجرت په ۴۵ کال وفات شو. | ۱۸ |
| ۵ | **انس بن مالک (رضی الله عنه)** خادم الرسول، لس کاله یې د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) خدمت کړی دی. ډیر احادیث یې روایت کړی دي، چې شمیر یې ۲۲۸٦ ته رسیږي. لس کاله له هجرت څخه مخکې پیدا او د هجرت په ۹۳ کال وفات شوی دی، عمر یې ۱۰۳ کاله وو. | ۱۰٦ |
| ٦ | **ابو ذر الغفاري (رضی الله عنه)** په صحابه وو کې د سابقون الاولونو له جملې څخه وو، پنځم نفر و چې اسلام یې قبول کړ. له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) سره په هجرت او جهاد کې ملګری وو. د ابوبکر الصدیق، عمر او عثمان (رضی الله عنهم) په خلافت کې یې فتوا هم ورکوله، ډیرو صحابه وو ورڅخه احادیث روایت کړی دي. په تقوا، صدق، علم، عمل او حقه خبره کې اول و. د هجرت په ۳۲ کال د ذي الحجې په میاشت کې وفات شو. | ۴۲ |
| ۷ | **ابو هریره (رضی الله عنه)** امام، فقیه، مجتهد او حافظ، اصلی نوم یې عبدالرحمن بن صخر دی. مور یې میمونه بنت صبیح نومیده. له نبي کریم( صلی الله علیه وسلم) څخه یې ډیر علم زده کړی او روایت کړی دی، ډیرو صحابه وو او تابعینو له ده څخه احادیث روایت کړي دي چې شمیر یې اته سوه ووته رسیږي. د هجرت د اووم کال په اولو کې یې ایمان راووړ او له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) سره یې څلور کاله تیر کړل، د روایاتو د اختلاف په بناء د هجرت په ۵۷ یا ۵۸ یا ۵۹ کال وفات او د بقیع په هدیره کې دفن شو. | ۴۵ |
| ۸ | **ابن مسعود (رضی الله عنه)** عبدالله بن مسعود بن غافل کنیه یې أبو عبدالرحمن وه، په اسلام کې د اولینو له جملې څخه وو، په بدر کې هم شرکت کړی وو او دوه کرته یې هجرت کړی وو، په قضاء او روایة الحدیث کې مشهور وو، د هجرت په (۳۲) کال کې | ۱۳ |

| | | |
|---|---|---|
| | په مدینه منوره کې وفات شوی. | |
| ۹ | **جابر بن عبدالله السلمي (رضی الله عنه)** امام، مجتهد، حافظاو فقیه، په بیعة الرضوان کې هم موجود وو. له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) څخه يې زيات علم روايت کړی. له عمر، ابو بکر، علی، ابو عبیده، معاذ بن جبل زبیر او داسې نور صحابه و څخه يې احاديث روايت کړي دي. همداراز ابن المسیب ، عطاء بن ابی رباح، سالم بن ابی الجعد، حسن بصري، حسن بن محمد بن الحنفیة ، ابو جعفر الباقر، محمد بن المنکدر، سعید بن میناء او داسې نورو راويانو له ده څخه احاديث روايت کړی دي. په خپل وخت کې د مدينې منورې مفتي و. د ۹۴ کلونو په عمر د هجرت په ۷۸ کال وفات شو. | ۲۱ |
| ۱۰ | **عمار بن یاسر (رضی الله عنه)** ابو اليقظان يې هم کنيه وه د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) ملګری وو، د یاسر ځوی عمار په مکه کې پيدا شو بیا ابوحذيفه آزاد کړ. عمار، مور يې سمیه او پلار يې ياسر په اولو وختونو کي اسلام راووړ او دوی هغه کسان وو چې د اسلام پخاطر ډير په عذاب کیدل کله به چې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) دوی په عذاب کې لیدل نو هغه مبارک به ورته ويل: صبر وکړی، ای د یاسر اولادې ستاسو ځای جنت دی. عمار په بدر او په ټولو غزاګانو کې له نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) سره شرکت کړی او په دواړه هجرتونو کي هجرت کړی. پیدايښت يې ۵۷ کاله مخکې له هجرت څخه يعنې په ۵٦۷ م کال کې او وفات يې ۳۷هـــ ٦۵۷ م کال کې شوی دی. | ۴۸ |
| ۱۱ | **ثوبان (رضی الله عنه)** د نبی کریم ( صلی الله علیه وسلم) آزاد شوی غلام وو، اسم کنيه يې ابو عبدالله يا ابو عبدالرحمن وه، پلار يې جحدر يا بجدد نوميده ، دی يماني وو. د مصر په فتح کې يې هم شرکت کړی وو. په حمص، رمله او مصر کې يې کورونه درلودل، د هجرت په ۵۴ کال په حمص کې وفات شو. | ۵۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | **خنساء بنت خذام (رضی الله عنها)** نومړې د خذام بن وديعة بن خالد الانصارى لور وه، د اوس د قبيلې وه، دا کونډه وه پلار يې د بنى عوف د قبيلي يو نفرته په زور په نکاح کړه، په داسې حال کې چې ابى لبابة بن عبدالمنذر د دې مرکه يا خواستگاري کړې وه، دا خبره نبى کريم (صلى الله عليه وسلم) ته ورسېده نبى کريم (صلى الله عليه وسلم) د هغې پلار ته امر وکړ، چې د هغې په خوښه کار وکړه او هغې هم له ابو لبابة بن عبد المنذر سره واده وکړ. | ۱۰۰ |
| ۱۳ | **عمران بن حصين (رضى الله عنه)** د هجرت په اووم کال له ابو هريره (رضى الله عنه) سره يو ځاى ايمان راوړ. عمر (رضى الله عنه) د بصرې قاضي مقرر کړى وو. ګڼ شمير راوايانو ورڅخه احاديث يې روايت کړى دي، ټول هغه احاديث چې له ده څخه روايت شوى دى شمير يې ۱۸۰ ته رسيږي. د هجرت په ۵۲ کال وفات شوى دى. | ۴۹ |
| ۱۴ | **سهل بن سعد الساعدي (رضى الله عنه)** پلار يې هم صحابي و، د نبي کريم(صلى الله عليه وسلم) په ژوند وفات شو. دى د نبي کريم ( صلى الله عليه وسلم) د وفات په وخت کې پنځلس کلن و. ګڼ شمير احاديث يې روايت کړي، آخري صحابي و چې په مدينه منوره کې وفات شو. د هجرت په ۹۱ کال او ابو نعيم – د امام بخاري استاد دى– ويلي چې په ۸۸ کال کې وفات شوى. | ۱۹ |
| ۱۵ | **عقبه بن عامر الجهني (رضى الله عنه)** دى هم عالم، هم قارى، هم فصيح، هم فقيه، هم په فرضو باندې ډير پوه، هم شاعر او هم د لوړې مرتبې خاوند وو، همداراز ډير ښايسته غږ يې درلود. د هجرت په ۵۸ کال په مصر کې وفات شو. | ۱۱۳ |
| ۱۶ | **سعيد بن مسيب،** حزن بن مخزوم القرشى المخزومي، د مشهورو تابعينو او اوو فقهاوو له جملې څخه وو، د عمر(رضى الله عنه) د خلافت څخه دوه کاله وروسته پيدا شوى، د زياتو صحابه وو څخه يې احاديث اوريدلي، ابن عمر(رضى الله عنه) د ده په حق کې وايي: سعيد بن مسيب يو له مفتيانو څخه وو، په ۹۴هــ ۷۱۲ م کال کي وفات شوى دى. | ۲۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | **عطاء ابن أبی رباح،** اسم کنیه يې أبو محمد وه، د تابعینو له جملې څخه وو، د مکې مکرمې د فقهاوو له جملې څخه وو ، امام اوزاعی د ده په حق کې وايي: په داسې ورځ مړ شو چې د زمکې خلک ترینه ډیر راضی ول، له ډیرو صحابه وو څخه يې احادیث روایت کړي لکه ابن عباس، ابوهریره، ابو سعید الخدری او داسې نور، له ده څخه هم زیاتو راویانو احادیث روایت کړي، په ۲۷هـ ۶۵۴م کال په جند کې پیداشوی او په ۱۱۵هـ ۷۳۳ م کال کې وفات شوی دی، ټول عمريې ۸۸ کاله وو. | ۲۰ |
| ۱۸ | **ابوحنیفه،** نعمان بن ثابت تیمی او کوفی کنیه يې أبوحنیفه وه، فقیه او مجتهد وو، د اهل السنة د څلورو امامانو څخه یو امام وو، په ۸۰ هـ ۶۹۹م کال کې په کوفه کې پیداشوی، اول يې د علم له طلب سره د رخت کار او بار کاوه، بیا وروسته يې ځان د تدریس او افتاء له پاره فارغ کړ، منصورعباسی هم وغوښتل چې په بغداد کې قاضی شي، اما امام صاحب دا خبره ونه منله او په همدې خاطر يې امام صاحب د مرګ تر وخته بندي کړ، امام شافعی (رحمه الله) د امام صاحب په صفت کې وايي: ټول خلک په فقه کې د امام صاحب عیال او اولاده دي. دی په حدیثو کې مسند هم لری چې شاګردانو يې ترینه روایت کړی، او په ۱۵۰هـ ۷۶۷م کال کې په بغداد کې وفات شو. | ۳۸ |
| ۱۹ | **ابو یوسف،** امام، مجتهد، علامه، محدث او قاضی القضاة اصلی نوم يې یعقوب دی، د ابراهیم بن حبیب بن حبیش بن سعد بن بجیر بن معاویه الانصاري ځوی دی، په ۱۱۳هـ کال کې پیداشوی، له مختلفو راویانو څخه يې احادیث روایت کړي، لکه: هشام بن عروه، یحیی بن سعید الانصاری، عطاء بن السائب، یزید بن ابی زیاد، ابی اسحاق الشیباني، حجاج بن ارطاة، امام ابو حنیفه او داسې نور، اما له امام ابو حنیفه سره ډیر پاتې شو او له هغه سره يې اوولس کاله شاګردي وکړه او د فقه علم يې هم له هغه څخه زده کړ، د پنج شنبې په ورځ پنځم د ربیع الاول ۱۸۲ هـ کال کې وفات شو. | ۵۱ |
| ۲۰ | **الشیباني،** محمد بن الحسن اسم کنیه يې ابو عبدالله وه، امام محمد بن الحسن په واسط کې په ۱۳۲هـ کې پیدا شوی او په کوفه کې را لوی شوی دی، د حدیثو او فقه علم يې | ۵۰ |

| | | |
|---|---|---|
| | له لويو علماوو څخه زده کړی، لکه: مسعر، مالک بن مغول، عمر بن ذر، سفيان ثوری، اوزاعی، ابن جريج، امام ابو حنيفه او داسې نور اما په فقه کې ډير ماهر وو، نو ځکه په فقه کې مشهور هم شو، هارون رشيد د يو څه وخت له پاره په رقه کې قاضي مقرر کړ او کله چې هارون رشيد د ری منطقې ته ولاړ نو امام محمد يې هم له ځان سره بوته او بيا هملته وو تر څو هملته په ۱۸۹هـ کال کې وفات شو. | |
| ۲۱ | **ابوثور،** امام ابراهيم بن خالد بن ابی اليمان البغدادی، د عراق مفتی وو، اسم کنيه يې أبو عبدالله وه او په ابو ثور الفقيه باندې مشور وو، په ۱۷۰هـ ۷۸۶م کال کې پيدا شوی، د يو مستقل مذهب امام وو اما مذهب يې ځکه مشهور نه شو چې اتباع کوونکي او کومک کوونکې يې له مينځه ولاړل، په بغداد کې په ۲۴۰هـ ، ۸۵۸م کال کې وفات شوی دی. | ۱۹ |
| ۲۲ | **امام ثوری،** سفيان بن سعيد بن مسروق الثوری نسبت يې ثور بن عبد مناة ته شوی، چې عبد مناة د مضر له قبيلو څخه يوه قبيله وه، د کوفې او د عراق د أعلامو ائمه وو څخه يو امام وو، د تبع تابعينو له جملې څخه وو، ابن عيينه د ده په حق کې وايي: ما پرته له ده بل څوک په حلالو او حرامو باندې پوه کس نه دی ليدلي، په ۹۷هـ کال کې پيدا او په ۱٦۱هـ کې وفات شوی دی. | ۱۹ |
| ۲۳ | **عظيمي،** پوهنمل شرف الدين عظيمي په کابل کې د ښوونې او روزنې پوهنتون د ارواپوهنې د ځانګې استاد او د APC چې د ارواپوهنې يو مرکز دی، مشر دی. | ۱۲۴ |

# مأخذونه


١ – قرآن كريم.

٢ – إبراهيم مصطفى ــ أحمد الزيات ــ حامد عبد القادر ــ محمد النجار، **المعجم الوسيط** ، ناشر: دار الدعوة ، ب ت .

٣ – ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبدالواحد: **شرح فتح القدير**، طبعه: ٧، بيروت: دار أحياء التراث العربى، كال ١٤٠٦هــ ، ١٩٨٦م .

٤ – ابن سعد، أبو عبد الله محمد بن سعد بن منيع الهاشمي بالولاء، البصري، البغدادي (وفات: ٢٣٠ هــ) **الطبقات الكبرى،** طبعه: ١، دار صادر – بيروت، كال: ١٩٦٨ م .

٥ – ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (وفات: ١٢٥٢هــ)، **رد المحتار على الدر المختار،** طبعه: ٢، بيروت: دار الفكر، كال: ١٤١٢هــ – ١٩٩٢م .

٦ – ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، (وفات: ٦٢٠هــ)، **المغني لابن قدامة،** مصر، مكتبة القاهرة، كال: ١٣٨٨هــ – ١٩٦٨م .

٧ – ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد المصرى: **البحر الرائق شرح كنز الدقائق،** طبعه: ١ ، بيروت: دار الكتب العلمية، كال ١٤١٨هــ ، ١٩٩٧م .

٨ – اسامة ذيب مسعود، **أثرالاجبار في عقد النكاح دراسة مقارنة بين المذاهب الفقهية الأربعة وقانون الأحوال الشخصية الأردني،** د ماستري رساله د نجاح خصوصي پوهنتون، فلسطين ، په ٢٠٠٦، ١٤٢٧هــ كې مناقشه شوې ده.

٩ – الأصبهاني، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران (وفات: ٤٣٠هــ) **مسند الإمام أبي حنيفة رواية أبي نعيم،** طبعه: ١، رياض، مكتبة الكوثر، كال: ١٤١٥ هــ .

١٠ – الافريقى، ابى الفضل ، جمال الدين محمد بن مكرم ابن منظور، **لسان العرب،** طبعه : ٦ ، بيروت دار صادر، كال :٢٠٠٨م .

١١ – البابرتي، محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله (وفات: ٧٨٦هــ)، **العناية شرح الهداية،** دار الفكر، ب ت .

١٢ – البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة أبو عبد الله (وفات: ٢٥٦هــ)، **الأدب المفرد،** طبعه: ١، رياض: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع، كال: ١٤١٩ هــ – ١٩٩٨ م.

١٣ – البخارى، محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة، **الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري،** طبعه: ١، دار طوق النجاة كال: ١٤٢٢هـ.

١٤ – بدر الدين العينى، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى (وفات: ٨٥٥هـ) **عمدة القاري شرح صحيح البخاري،** بيروت: دار إحياء التراث العربي، ب ، ت .

١٥ – البزدوي، علاء الدين عبد العزيز بن أحمد بن محمد، البخاري (وفات: ٧٣٠هـ)، **كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي،** طبعه: ١، بيروت: دار الكتب العلمية، كال: ١٤١٨هـ/١٩٩٧م .

١٦ – البغدادي، أبو بكر أحمد بن علي بن ثابت بن أحمد بن مهدي الخطيب، (وفات: ٤٦٣هـ)، **تاريخ بغداد،** طبعه: ١، بيروت، دار الغرب الإسلامي، كال: ١٤٢٢هـ – ٢٠٠٢ م .

١٧ – البكري، أبو بكر عثمان بن محمد شطا الدمياطي الشافعي (وفات: ١٣١٠هـ)، **إعانة الطالبين على حل ألفاظ فتح المعين،** طبعه: ١، دار الفكر للطباعة والنشر والتوريع كال: ١٤١٨ هـ – ١٩٩٧ م .

١٨ – البهوتي، منصور بن يونس بن إدريس، (وفات: ١٠٥١)، **شرح منتهى الإرادات،** بيروت: عالم الكتب، كال: ١٩٩٦م .

١٩ – البيهقي أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، (وفات: ٤٥٨ هـ)، **السنن الكبرى،** طبعه:٣، لبنان، بيروت دار الكتب العلمية، كال: ١٤٢٤ هـ – ٢٠٠٣ م .

٢٠ – البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي، **السنن الكبرى،** طبعه : ١، هند: حيدر آباد مجلس دائرة المعارف النظامية ، كال: ١٣٤٤ هـ .

٢١ – الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، (وفات: ٢٧٩هـ) **سنن الترمذي،** تحقيق: بشار عواد معروف، ناشر: بيروت – دار الغرب الإسلامي، كال: ١٩٩٨م،

٢٢ – الجرجاني علي بن محمد بن علي، **التعريفات،** طبعه: ١ بيروت دار الكتاب العربي ، كال: ١٤٠٥هـ .

٢٣ – الجوزجاني، أبو عثمان سعيد بن منصور بن شعبة الخراساني (وفات: ٢٢٧هـ)، **سنن سعيد بن منصور،** طبعه: ١، هند: دار السلفية، كال: ١٤٠٣هـ –١٩٨٢م .

٢٤ – الحنبلي، محمّد بن بدر الدين بن عبد الحق ابن بلبان (وفات: ١٠٨٣هـ)، **أخصر المختصرات في الفقه على مذهب الإمام أحمد بن حنبل،** طبعه: ١، بيروت، دار البشائر الإسلامية، كال:١٤١٦هـ .

٢٥ – الحنفي، أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري (وفات: ٦١٦هــ)، **المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه،** طبعه: ١، بيروت لبنان: دار الكتب العلمية، كال: ١٤٢٤ هــ – ٢٠٠٤ م .

٢٦ – الحنفي، سراج الدين عمر بن إبراهيم بن نجيم (وفات ١٠٠٥هــ)، **النهر الفائق شرح كنز الدقائق،** طبعه: ١، دار الكتب العلمية، كال: ١٤٢٢هــ – ٢٠٠٢م .

٢٧ – الخرشي، المالكي، محمد بن عبد الله أبو عبد الله (وفات: ١١٠١هــ)، **شرح مختصر خليل للخرشي،** بيروت: دار الفكر للطباعة، ب ت .

٢٨ – د افغانستان د **جزا قانون** .

٢٩ – د افغانستان **مدني قانون** .

٣٠ – د حقوق بشر د خپلواک کميسون سايټ، www.aihrc.org.af

**٣١ – د ښځو چارو وزارت** د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د قانون د تطبيق د ١٣٩٥ کال خپور شوی پنځم راپور. کابل، مطبعه يې نه ده ذکر، کال: ١٣٩٦/ ١١.

**٣٢ – د ښځې پر ضد د تاوتريخوالي د منع قانون** .

٣٣ – د مشعل سايټ، www. Mashal. org

٣٤ – داماد أفندي، عبد الرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده (وفات: ١٠٧٨هــ)، **مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر،** دار إحياء التراث العربي، ب ت .

٣٥ – الدسوقي، محمد عرفه، **حاشية الدسوقي على الشرح الكبير،** بيروت: دار الفكر، ب ت .

٣٦ – ديوبندي، شيخ الهند مولانا محمود الحسن – عثماني، علامه شبير احمد، پښتوته ترجمه کوونکي: د افغانستان د علماوو يو ټولګی، **کابلی تفسير،** سعودي، مطبعه: خادم الحرمين الشريفين لملک فهد لطابعة المصحف الشريف، ټول جلدونه: ٢، ب، ت.

٣٧ – الذهبي، الإمام شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان، **سير أعلام النبلاء،** طبعه: ٢، بيروت لبنان: مؤسسة الرسالة، كال: ١٤٠٢هــ –١٩٨٢م .

٣٨ – الرازى، محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر، **مختار الصحاح،** بيروت :مكتبة لبنان ناشرون، كال: ١٤١٥ هــ – ١٩٩٥م .

٣٩ – الرملى، شمس الدين محمد بن أبى العباس المنوفى المصرى : **نهاية المحتاج الى شرح المنهاج،** آخري طبعه: مصر: مطبعة البابى الحلبى، كال ١٣٨٦هــ .

٤٠ – الزَّبيدي، محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقّب بمرتضى، (وفات: ١٢٠٥هــ)، **تاج العروس من جواهر القاموس،** دار الهداية، ب ت .

٤١ – الزحيلى، استاد دكتور وهبة، **الفقه الاسلامى و ادلته،** طبعه: ٤ ، دمشق، دار الفكر، كال : ١٤٣٣هــ ، ٢٠١٢م .

٤٢ – الزركلي، الدمشقي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، (وفات: ١٣٩٦هــ)، **الأعلام،** طبعه: ١٥، دار العلم للملايين، كال: ٢٠٠٢م .

٤٣ – الزيلعى، فخرالدين عثمان بن على بن محجن ، **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق،** طبعه: ١، القاهره، المطبعه الكبرى الأميرية ، كال ١٣١٣هــ .

٤٤ – السِّجِستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي (وفات: ٢٧٥ هــ)، **سنن أبي داود،** ناشر: بيروت المكتبة العصرية، ب ، ت .

٤٥ – السِّجِستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي، **سنن أبي داود،** طبعه: ١، دار الرسالة العالمية كال: ١٤٣٠ هــ – ٢٠٠٩ م .

٤٦ – السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة (وفات: ٤٨٣هــ)، **المبسوط،** بيروت : دار المعرفة ، كال: ١٤١٤هــ – ١٩٩٣م .

٤٧ – الشافعي، أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع المكي (پيداينبت او وفات: ١٥٠ – ٢٠٤هــ) **الأم،** الناشر: دار المعرفة – بيروت، كال: ١٤١٠هــ ١٩٩٠م .

٤٨ – الصابوني، محمد علي، **صفوة التفاسير،** طبعه: ١، القاهرة: دار الصابوني للطباعة والنشر والتوزيع ، كال: ١٤١٧ هــ – ١٩٩٧ م .

٤٩ – الصاوى، أحمد: **بلغة السالک لأقرب المسالک الى مذهب الامام مالک على شرح الصغير للدردير،** طبعه: ١، بيروت دار الكتب العلمية، كال ١٩٩٥م .

٥٠ – الضبي، أحمد بن محمد بن أحمد بن القاسم (وفات: ٤١٥هــ)، **اللباب في الفقه الشافعي،** طبعه: ١، دار البخارى، المدينة المنورة، المملكة العربية السعودية، كال: ١٤١٦هــ .

٥١ – الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم، **المعجم الكبير،** طبعه: ٢، موصل: مكتبة العلوم والحكم ، كال: ١٤٠٤ – ١٩٨٣.

٥٢ – الطحاوي أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملک بن سلمة الأزدي الحجري المصري (وفات: ٣٢١ هــ) **شرح معاني الآثار،** طبعه: ١ ناشر: عالم الكتب، تحقيق: محمد زهري النجار، محمد سيد جاد الحق د ازهر د علماوو ثخه دي، كال: ١٤١٤ هــ، ١٩٩٤م .

٥٣ – العسقلاني، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر (وفات: ٨٥٢هـ)، **تهذيب التهذيب،** طبعه ١، الهند: مطبعه دائرة المعارف النظامية، كال: ١٣٢٦هـ .

٥٤ – عودة،عبد القادر، **التشريع الجنائي الإسلامي،** بيروت: دار الكاتب العربي، ب ت .

٥٥ – الغزنوي، عمر بن إسحق بن أحمد الهندي، أبو حفص الحنفي (وفات: ٧٧٣هـ)، **الغرة المنيفة في تحقيق بعض مسائل الإمام أبي حنيفة،** طبعه: ١، مؤسسة الكتب الثقافية، كال: ١٤٠٦هـ –١٩٨٦م .

٥٦ – فضلي، عبدالكريم، **د مباح په تقييد کې د اولو الأمر واک او د افغانستان په قوانينو کې يې تطبيقات،** د سلام پوهنتون د ماسترۍ رساله ، كال: ١٣٩٥ لمريز.

٥٧ – الفيومي، أحمد بن محمد بن علي المقري، **المصباح المنير في غريب الشرح الكبير للرافعي،** بيروت المكتبة العلمية، ب ت .

٥٨ – القرشي، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير(وفات: ٧٧٤هـ)، **تفسير القرآن العظيم،** طبعه: ٢، مدار طيبة للنشر والتوزيع، كال: ١٤٢٠هـ – ١٩٩٩م .

٥٩ – القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين (وفات: ٦٧١هـ)، **الجامع لأحكام القرآن،** طبعه: ٢، دار الكتب المصرية القاهرة، كال: ١٣٨٤هـ – ١٩٦٤م.

٦٠ – القرطبي، أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر بن عاصم النمري (وفات: ٤٦٣ هـ)، **الاستيعاب في معرفة الأصحاب،** طبعه: ١، دار الجيل، بيروت، كال: ١٤١٢ هـ – ١٩٩٢ م .

٦١ – القزويني،ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد ،(وفات: ٢٧٣هـ)، **سنن ابن ماجه،** ناشر: دار إحياء الكتب العربية، ب، ت .

٦٢ – القضاعي، يوسف بن عبد الرحمن بن يوسف، أبو الحجاج، جمال الدين ابن الزكي أبي محمد الكلبي المزي (وفات: ٧٤٢هـ)، **تهذيب الكمال في أسماء الرجال،** طبعه: ١، بيروت: مؤسسة الرسالة، كال: ١٤٠٠ – ١٩٨٠.

٦٣ – الكاسانى، الحنفي: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني (وفات: ٥٨٧هـ) **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ،** ط: ٢، ناشر: دار الكتب العلمية ، كال: ١٤٠٦هـ – ١٩٨٦م .

٦٤ – الكويت، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية، **الموسوعة الفقهية الكويتية ،** طبعه: ٢، الكويت: دارالسلاسل، كال: (له ١٤٠٤ تر ١٤٢٧ هـ) .

٦٥ – المالكي ، محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري الغرناطي (وفات: ٨٩٧هـ) **التاج والإكليل لمختصر خليل،** طبعه: ١، ناشر: دار الكتب العلمية ، كال: ١٤١٦هـ – ١٩٩٤م .

٦٦ – المالكي، محمد بن أحمد بن محمد عليش، أبو عبد الله (وفات: ١٢٩٩هـ)، **منح الجليل شرح مختصر خليل،** بيروت دار الفكر، كال: ١٤٠٩هـ – ١٩٨٩م .

٦٧ – المدني، مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي (وفات: ١٧٩هـ)، **المدونة،** طبعه: ١، دار الكتب العلمية، كال: ١٤١٥هـ – ١٩٩٤م .

٦٨ – المرغيناني، ابوالحسن برهان الدين على بن ابى بكر، **الهداية شرح بداية المبتدى،** طبعه: ٣، القاهره، دار السلام، كال: ١٤٣٣هـ – ٢٠١٢م .

٦٩ – الموصلي، أبو الفضل عبد الله بن محمود بن مودود بن محمود، مجد الدين الحنفي (پيدايښت او وفات: ٥٩٩ – ٦٨٣هـ)، **الاختيار لتعليل المختار،** القاهرة: مطبعه الحلبي، كال: ١٣٥٦ هـ – ١٩٣٧ م .

٧٠ – النجدى الحنبلى، عبدالرحمن بن محمد قاسم العاصمى، پيدايښت او وفات يې (١٣١٢–١٣٩٢هـ = ١٩٠١ – ١٩٧٢ م)، **حاشية على الروض المربع شرح زاد المستقنع للبهوتى،** طبعه: ١، د اجزاءو شمير يې: ٧، مطبعه يې نه ده ذكر، كال: ١٣٩٧هـ .

٧١ – النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (وفات: ٦٧٦هـ)، **المجموع شرح المهذب،** ناشر: دار الفكر، ب، ت .

٧٢ – النووى، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (وفات: ٦٧٦هـ)، **تهذيب الأسماء واللغات،** ناشر:دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان ، ب، ت .

٧٣ – النيسابوري، أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم المعروف بابن البيع (وفات: ٤٠٥هـ)، **المستدرک على الصحيحين،** طبعه:١، بيروت دار الكتب العلمية ، كال: ١٤١١ – ١٩٩٠ .

٧٤ – النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (وفات: ٢٦١هـ)، **المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم = صحيح مسلم،** بيروت دار إحياء التراث العربي ، ب ت .

# خلاصة البحث

هذا بحث الذي كتبتُه تحت عنوان (حالات نكاح الإكراه في افغانستان من منظور الشريعة الإسلامية و القانون) لنيل درجة الماجستير في جامعة سلام في كابل.

هذا البحث يحتوي على المقدمة و الفصلين و النتائج و الإقتراحات و فهارس الآيات القرآنية و فهارس الأحاديث النبوية و فهارس الأعلام و المراجع وفي آخره خلاصة البحث بالعربية والإنجليزية.

اما المقدمة فقد ذكرتُ فيها أهمية الموضوع و ضرورته و سبب إختياره و أهدافه و التحقيقات السابقة لذلک الموضوع و أسئلته و مشكلاته و خطته.

و اما الفصل الأول فقد شرحتُ فيه النكاح و الإجبار و في الفصل الثاني جمعتُ حالات الزواج القسري في افغانستان ثم ذكرتُ كيفية حكم الزواج القسري فی الشريعة و القانون و كذلک ذكرتُ النتيجة المترتبة على هذا الزواج في المجتمعة الأفغانية و ايضاً فی هذا الفصل أجريتُ لقاءآت ميدانيه مع أهالی تسع محافظات في موضوع الزواج القسري وذلک نيابة عن كل افغانستان.

بصورة عامة ينقسم الزواج القسري في افغانستان الى خمسة انواع: اولاً: نكاح الثأر (أن تأخذ أسرة المقتول من أسرة القاتل البنت او البنتان مقابلة جريمة القتل و هذا الأخذ يكون بإسم النكاح) – الثاني: نكاح الشغار – الثالث: نكاح الطفلة – الرابع: نكاح الأرملة بالإكراه – الخامس: النكاح با المال او مقابلة المال.

ليس لأحد على المرأة ولاية الإجبار، فلو زوج أحد البنت أو المرأة بالإكراه لا يصح نكاحها، أما الطفلة فالأب يحق أن يزوجها ولو كان دون رضاها, لأن له حق ولاية الإجبار بشرط أن يكون للبنت سعادة و مصلحة في هذا الزواج.

و وُضِع (عُين) في قانون منع الإكراه على المرأة عقوبة السجن للمكره، فلمزوِّج البنت و زوجها بالثأر وُضع عقوبة السجن لهم لعشر سنوات، أما الأفراد المتورطين (الشاهد، الولی، الوسيط و العاقد) في هذا العقد فقد وُضع لهم عقوبة السجن لمدة لايقل عن سنتين و قالوا بفسخ (ببطلان) نكاحها. الناكح مع الصغيرة او

الذي نكح مع البنت التي كملت سن الرشد (السن القانوني) دون رضاها فقد وُضِع لهما عقوبة السجن المتوسطة ما لا يقل عن سنتين و في حالة طلب المرأة اعتُبر نكاحها باطلاً.

و كذلک للشخص الذى يبيع المرأة او يشتريها بإسم الزواج او يجعل نفسه وسيطا بينهما فقد وُضِع عقوبة السجن لمدة تصل الى عشر سنوات.

أجاز القانون المدنى نكاح البدل (الشغار) و اعتبره صحيحاً و أمِر بدفع مهر المثل لكلتا الإمرأتين.

لقد أبرز على أن الزواج القسري موجود في أفغانستان و معه مشاكل عديدة تتوجه للزوجين و للأسرة و للأطفال و للمجتمع.

ففي نتيجة الزواج القسري إما أن يكون القتل أوالإنتحار أوالهرب من المنزل أو أخذ الطلاق أو زواج آخر أو تتحمَّل المرأة المشقة و الظلم طول حياتها و غير ذلک.

و كذلک الزواج القسري له العديد من الآثار النفسية السلبية كالمشاكل الجسمية، الآلام العصبية، الإصابة بالكآبة، المشاكل الفكرية، عدم فهم (تفاهم) الزوج و الزوجة بعضهما البعض، الخيانة و العنف، عدم الإهتمام بحقوق الإنسان، فقدان السعادة فيما بين الأسرة، أو بين الزوجة و الزوج، التوجه نحو الجريمة و الجناية، وفاة الأطفال و الأمهات أثناء الولادة، الولادة المبكرة للطفل، الأطفال ذوي الإعاقة ،التخلي عن التعليم، ظهور المجتمع المريض و ما شابه ذلک.

فلكثرة مشاكل الزواج القسري للزوجين و للأسرة و للمجتمعة قد إمتنعه الشريعة الإسلامية والقانون.

divorce or getting second wife, which is violation of the right of a wife who will suffer from the cruelty of her in-laws for her entire life.

Meanwhile, forced marriages also result in numerous health problems, such as psychological, physical, neuralgia, depression, and intellectual problems. In addition, it also creates disloyalty, misunderstanding, violence, violation of rights, and destroying relations between the couple, which can result in committing different crimes, child and mother mortality rate, stillbirth, premature delivery, delivering children with different disabilities, quieting schools and creation of an unhealthy society. Finally, the Forced Marriages creating many problems in the families and communities, thus both the Sharia law and constitution have prevented such kind of marriages.

Forced marriage in the Islamic *Fiqah* (jurisprudence): based on Islamic jurisprudence, in regards to an adult girl no one has the authority to forcefully marry her to someone. This means, if a person forcefully marries an adult girl or a woman to someone, the marriage is illegal. However, a father has the right to marry his underage daughter to someone. The reason is that a father has the authority to forcefully marry his daughter to someone while considering the happiness and prosperity of his daughter.

Forced marriage according to the Law on Elimination of Violence against Women (EVAW): based on EVAW law a person who forces a woman for marriage has to receive a punishment of imprisonment. Moreover, a person who marries a girl in exchange for a bad should receive a punishment of ten years' imprisonment. Also, all those involved in this marriage process such as (witness, mediator, parent of the girl and writer of the contract) should receive the punishment of at least two years' imprisonment. Meanwhile, the marriage contract is also canceled.

The EVAW law also insists on punishment, which should not be less than two years, for the person who marries a child or a woman who has completed the legal age but is married without her consent. Also, if the woman demands cancellation of the marriage contract, the contract can be cancelled. Meanwhile, anyone who sells women under the name of marriage or who buys women in a similar manner or who plays the role of a mediator, should be imprisoned for ten years, based on the EVAW law. However, the exchange marriage is legal according to the Civil Code of Afghanistan but both brides should receive an equal amount of dowry, provided by their husbands of the girl.

The result of forced marriage: most of the time forced marriages have resulted in murder, committing suicide, fleeing home, request for

# Summary of the Discussion

This research written under the title of (Types of Forced Marriages in Afghanistan under the Auspices of Sharia Law) starting with an introduction has two chapters, suggestions, a list of some Quranic verses, a list of some hadiths, list of some names, references and Arabic and English translation of this summary.

The introduction focuses on the topic to shed some light on its significance, necessity, why this topic has been seleted, were there anything written before about the entire topic, some questions related to the topic, core objective, as well as problems.

The first chapter is focusing on *Nikah* (marriage contract) and the use of force. The second chapter is explaining types of forced marriages in Afghanistan, forced marriages under the auspices of the Sharia law, as well as the result of forced marriages. In this regard, ten people (all male), who were selected from seven regions of Afghanistan, were interviewed. Each person has explained types of forced marriages that have happened in his respective region.

Generally, in Afghanistan five types of forced marriages are common. The first type is marrying (or giving) a girl in bad, this happens when a man is killed in a conflict between two families or tribes, the victor’s relatives are forced to pay the blood price by providing a bride to the victim’s family. Second type is *badal* (exchange), when two families agree to marry a girl to someone in exchange the groom will marry his sister to the brother or other relative of his wife. The third type is the underage marriage, in this case girls and boys are married by their parents, while the couple are in childhood. The fourth type is, forced marriage, in this type of marriage, mostly a widow is forced to marry her brother-in-law or other relative of her former husband. The fifth and last type of marriage is marrying a girl to someone in exchange for money or property. The parents marry their daughter in order to deal with bad economy.

Salaam University

Faculty of Sharia and Law

Department of Jurisprudence and Law

Islamic Republic of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Private Universities Presidency

# Types of Forced Marriages in Afghanistan under the Auspices of Sharia Law

(A master's thesis)

**Student: Samiullah (Sahibzada)**

**Supervisor : Ass Pro. Dr. Abdul Baqi (Amin)**

**Year: 2017**

Salaam University

Faculty of Sharia and Law

Department of Jurisprudence and Law

Islamic Republic of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Private Universities Presidency

# Types of Forced Marriages in Afghanistan under the Auspices of Sharia Law

(A master's thesis)

Student: Samiullah (Sahibzada)

Supervisor : Ass Pro. Dr. Abdul Baqi (Amin)

Year: 2017